د پښتو او پارسي نومونو او تخلصونو لاربښود

# ښکلي نومونه

## او ادبي تخلصونه

- ماشومانو ته ښايسته نومونه
- ځلميو ته نوي تخلصونه
- د نامتو ليکوالو، شاعرانو د تخلصونو او د هغوی د بچيو له نومونو سره پېژندګلوي

ليکوال:
**فدا نظري**

د پښتو او پارسي
نومونو او تخلصونو
لارښود

# ښکلي نومونه

# او

# ادبي تخلصونه

* ماشومانو ته ښايسته نومونه،
* ځلميو ته نوي تخلصونه،
* د نامتو ليکوالو، شاعرانو او هنرمندانو له تخلصونو او د هغوی د بچيو له نومونو سره پيژند ګلوي.

لیکوال

**فدا نظري**

د کتاب ټول چاپي حقوق په خپروونکي اړه لري

* ښکلي نومونه او ادبي تخلصونه
* ليکوال: فدا نظري

* کمپيوټرچاري: مطيع الله روهيال
* لومړی چاپ: ۱۳۸۹ ش - ۲۰۱۰ ع
* کچه: ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
* چاپ شمېر: دوه زره ټوکه
* د مخونو شمېر: ۳۵۲
* د خپرونو لړ: دوهم

* خپروونکی: روهيال نشراتي مؤسسه
* کندهار - افغانستان
* تليفون: ۰۷۰۰۳۲۶۰۱۱
* ايميل: mrohyal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# څو ترمخنۍ خبري

دا يو څرګند حقيقت دی چي د هر قوم او ملت د خلګو نومونه د هغه ملت د پېژند ګلوۍ هينداره ده.

د بيلګې په توګه: که د خلګو نومونه نتاښه، تانيا، سويته يا يوره، پوتين او نيکلای وي دستی پوهيږو چی د روسيې دي.

که چودري، بهټي، بهټو او يا لغاري نوم ولري په څرګنده پاکستانيان دي.

سميت، کولن او يا مارګريت[1] د انګريزانو نومونه دي.

فورډ، کسينجر او بش[2] دامريکا د هيواد نماينده‌ګی کوی.

ناصر، اسد او ليث عربي نومونه شمېرل کېږی.

ياو، چانګ، ليا نګ[3] د چين د ملت خلک دي.

نو پوښتنه دا ده چي ولي به موږ افغانان د بريالي، خيبر، زړګي يا زرلښته، موسکا، ملغلره او داسي نورو زرهاوو سوچه افغاني نومونو او تخلصونو، چي په دغه ټولګه کي را غونډ سوي دي، په ايښودلو سره کافران کېږو.

د ټولني د غړو د نومونو څرنګه والی د ملي شعور د ودي درجه ښيي او پر ماشومانو د پرديو نومونو د ايښودلو دود، د هيواد پر خلګو د بيګانه کولتور د ترپلو او فرهنګي ښکيلاک څرګندوی دي.

---

(1) Smith, Collin, Margaret.

(2) Bush, Kissinger, Ford

(3) Yao, Chang, Liang.

هره ورځ د هیواد په دننه او بهر کی په زرهاوو ماشومان نړۍ ته راځي، خو میندي او پلرونه یي نه پوهیږي چي څرنګه یو ښکلی نوم باندي کښیږدي او له چا سره سلا وکړي. دوی باید پاملرنه وکړي چي که پر خپلو ماشومانو ښکلي او ښه نومونه کښنې نه ږدي؛ هغوی به د ژوند ترپایه د خپل نامه څخه رنځ وړي او یا به په شرمیږي.

کله هم چي هر ماشوم تنکی ځلمی سي غواړي ځان ته یو مناسب تخلص خوښ کړي خو نه پوهیږي چي چیري پسي وګرځي او له چا سره سلا وکړي. کله ناکله هم دوی په تلوار یو تکرار، اوږد او بې معنی تخلص غوره کړي خو بله ورځ یي هغه بد ایسي او پر پښیمانه وي. لږ تر لږه په هرو درو ځلمیانو کی یوه دغه ترخه تجربه آزمویلې ده.

باید ښکلی، د ښې معنی لرونکی، ملي او افغاني نوم او تخلص غوره سي. خو دا چي دغه کار څرنګه وسي د "ښه او ښکلي نوم او تخلص کوم دي او څرنګه باید غوره سي" تر عنوان لاندي زموږ لنډي مشورې په بشپړه پاملرنه سره ولولئ.

د هغي ورځي په هیله چي زموږ ټول میړنی ولس ښکلي، ملي او افغاني نومونه او تخلصونه ولري.

څو غوټې پسي وهې په لاس به در سي
چا ویل چي په دریاب کي ګوهر نسته

***

چه جورها که کشیدند بلبلان از دی
ببوی آنکـه دګـر نـوبهار بـاز آیـد

فدا نظری

# ښه ښکلي نوم او تخلص کوم دی او څرنګه باید غوره سي؟

ښه ښکلی نوم او تخلص باید لنډ، د ښې معنی لرونکی، آهنګین او داسي کليمې وي چي په خپل چاپېريال کي بد تلفظ نه سی. د بېلګي په توګه: د نجونو لپاره ملغلره، برېښنا، څانګه، آرزو، پانګه، مينه او موسکا. د نرينه ماشومانو لپاره غرزی، پژواک، واکمن، ننګيال، لايق، ميوند او څپاند؛ لنډي، د ښې معنی لرونکي او يو ډول آهنګ لرونکي کليمې دي. دغه نومونه هيڅکله نه زړېږي او په هيڅ توګه بد نه تلفظ کېږي.

ځيني نومونه د مثال په توګه (مشک) يوه ډېره قيمتي او د ښه بوی لرونکې ماده ده چي عطرونه ځني جوړوي او همدغه کليمه ډېر ښکلی او لنډ نوم هم دی؛ خو په کندهار کي ځينی هغه د (م) په زور تلفظ کوي چي داوبو او غوړو ژي ته وايي. البته دغه ستونزه د وطن په بېلو بېلو سيموکی توپير سره لري.

همداسی د هيواد د ډېرو وتلو، نامتو ليکوالو، شاعرانو او پوهانو تخلصونه لکه پژواک، الفت، رشاد، بېنوا، خادم، لايق، شاکر او داسي نور ټوله د ډېرو ښکلو او ښو نومونو په توګه ايښودل کېدای سي؛ خو بايد په هيڅ ډول د تخلص په توګه غوره نه سي.

ډېره شونې ده چې د يو چا خپل نوم خوښ نه وي. زما د معلوماتو له مخې په هيواد کې مليونونه داسې کسان سته چې خپل نومونه يې نه دي خوښ او زه هم يو له هغوی څخه يم.

خو پوښتنه دا ده چې د دغې ستونزې څرنګه چاره کېدای سي؟

زما جواب دا دی چې د ځلميانو لپاره دغه کار ډېر ساده دی. کله چې ځوانان تخلص غوره کوي د هغه سره دې يو ځای ځان ته نوی نوم هم پيدا کړي. د دغه کتابګوټي د نومونو څخه دې يوه کليمه نوم او بله تخلص کړي. ډېرو داسې کړي دي او نتيجه يې په بشپړه توګه د ډاډ وړ ده.

د بېلګې په توګه:

د افغانستان د دري ژبې ډېر نامتو شاعر واصف باختري او د پښتو د شعر ستر شاعر او ملي شخصيت سليمان لايق ګورو. د لومړي نوم محمدشاه او د دويم دا غلام مجدد و. د تخلص د غوره کولو په ترڅ کې يوه ځان ته واصف او بل سليمان نوم غوره کړ.

خو د زړښت په وخت کې؛ مثلاً زه چې د عمر د شپېتو په شاوخوا کې يم دغه کار ځانته ناوخته ګڼم؛ که څه هم وايي ماهی چې هر وخت په اوبو کې ونيسې تازه وي.

ګرانو ميندو ته زما مشوره داسې ده:

له هغه پيل څخه چې ماشوم ته اميدواره ياست؛ دغه کتاب او يا بل نومښود پيدا کړئ؛ هغه په خورا پام او حوصله سره ولولئ؛ د هغه څخه شل – دېرش نومونه نښاني او يادښت کړئ؛ بيا د هغوی تر منځ دری – څلور نومونه غوره کړئ او په دې هکله د کورنۍ د غړو،

دوستانو او نورو څخه تر سلا او مشورې وروسته پر یوه ښکلي او خواږه نوم وروستۍ پرېکړه وکړئ.

که لازمه سي زه په ډېر ویاړ او ورین تندي په دې برخه کي مشورې ورکولو ته چمتو یم.

زما د اړیکو آدرس د دې کتاب په وروستي مخ کي سته. دغه ټولي یوازي او یوازي مشورې دي؛ وروستۍ خبره ستاسي ده.

د پاک خدای نه تاسي ته د برې په دعا

**فدا نظري**

# آ

**آبدار:**

ښاغلی، پتیالی، د عزت خاوند، مخور، ځلېدونکی، جوهر لرونکی او باعزته. دغه ډېر ښه تخلص او که مونث یعني آبداره وویل سي نو ښه ښځینه نوم هم دی.

**آبرو:**

پت، حیا او عزت.

که له دې زماني تېر سوې په آبرو کي
ګوره تېر شوې علي خانه په صراط
(علي خان ختک)

په پارسي ژبه کي د وروځو مانا هم لري. آبرو ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**آتش:**

د اور په معنی دی: تند، تېز، انقلابي، اور لرونی.

آتش د یوه انقلابي سړي لپاره مناسب تخلص او د یوه نارینه کوچني لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**آرا:**

د آرایش، زېب او زینت مانا لري.

په افغانستان کي اکثره دغه نوم د بلي کليمې سره په ترکيب کي راځي، مثلاً: جهان آرا چي نړۍ په ښکلې يا شهر آرا چي ښار په ښکلی وي. آرا يوازي هم ډېر لنډ او په زړه پوري نوم دی.

من اگر خارم اگر گل چمن آرایی هست

(حافظ)

**آراسته:**

يعني آرايش سوی، ښکلی، ښايسته سوې او فيشني ښځه. زيبا، منظم، پاک او سوتره ته هم وايي. د نجلۍ لپاره ښه نوم دی.

**آرام:**

کرار، ورو، بېغمه، هوسا، ثابت، په امن او سوله کي، څوک چي په زړه ډاډه او بېغمه وي. آرام ښکلی نرينه نوم دی.

**آرزو:**

هيله، اميد، ارمان، غوښتنه، خواهش.

د نجونو لپاره ډېر نازنين نوم دی. په تېره بيا چي پلار او مور يې د لورلرولو ډېر ارمانجن وي.

دردیست ارزو کـه بـه پرهیـز بـه شـود

(ناصر خسرو)

**آرش:**

ځلېدونکی، روښانه، روڼ.

د فردوسي د شاهنامې له مخي آرش د منوچهر په لښکرو کي د

يوه تکړه ننبه ويشتونکي پهلوان نوم دی چي د افراسياب پر لښکرو باندي بريالی سو.

آرش د اروا ښاد اسحاق ننګيال د زوی نوم دی. آرش وړ نرينه او ښځينه نوم او تخلص دی.

**آريا:**

د نجيب، پاک او آزاده مانا وي لري. هغه څه چي په آريانا او آرين پوري تړا ولري. وايي سکندر د هريرود پر غاړه په دې نامه يو ښار آباد کړ چي ښايي اوسنی هرات وي.

**آريانا:**

د آرين د توکم ټاټوبی، د آريايانو د اوسېدني ځای.

آريانا د افغانستان ډېر لرغونی نوم دی، آريانا د افغانستان د يوه تجارتي تلوېزيون نوم هم دی چي انجنير بيات يې څښتن دی. برسېره پر دې د هيواد په دننه او بهر کي ډېر افغانان خپلي لوڼي، شرکتونه او تجارتي مؤسسې په دغه نامه نوموي.

زما د دوهمي لور نوم هم "آريانا نظري" دي.

**آريايي:**

آرين، د آريانا د سيمي، د آرين له ټبره. هغه څه چي په آريانا پوري تړاو لري. آريايي هم ښکلي نوم او هم تخلص کېدای سي.

**آرين:**

آريايي، د آريانا اوسېدونکی، د آريانا د اوسېدونکو د ټُکم نوم.

عبدالرشيد آرين د افغانستان يو مشهور سياسي شخصيت دی چي په ۷۰ ميلا دي لسيزه کي د عدليې وزير او بيا ډ ډيپلوماټ و. آرين ډېر ښه نوم هم دی.

**آزاد:**

سرلوړی، خپلواک، بېله بند يزه، هغه څوک چي د بل چا مريی نه وي او يا د بل چا تر واک لاندي نه وي. ډېر ښه نوم او تخلص دی.

من لاله آزادم خود رويم و خود بويم
در دشت مکان دارم فارغ ز لب جويم

**آزاده:**

آزاده، اصيله، نجيبه، شريفه.

"آزاده" د افغانستان د راډيو يوه نوښتگره او خوږ آوازې سندرغاړې ده. آزاده ښکلی ښځينه نوم او تخلص دی.

**آزمون:**

ازموينه، امتحان، تجربه، ازماينښت.

د هلکانو او نجونو لپاره ډېر ښه نوم دی، يو پاړسي متل دی:

"هر چيز به خود نيازمند است و خرد به آزمون".

**آسمايي:**

په پخواني يونان کي آسمايي د غرونو رب النوع ته ويل کېده، په سسنکريت ژبه کي (آس) يا ني آرزو او (مايي) يعني مور. د آرزوگانو مور، ستره آرزو. آسمايي اوس يو نرينه او ښځينه نوم دی. پخوا د

نجونو نوم و.

اروا ښاد آسمايي د کابل پوهنتون د فلسفې استاد او ليکوال و.

**آسوده:**

آرام، هوسا، بېغمه. هغه څوک چي هيڅ تکليف نه لري.

آسوده ښه مانا لرونکی ښځينه نوم او نرينه تخلص دی.

**آشتي:**

سوله، جوړه، روغه، دوستي، د جګړې او پاروني ضد.

آشتي د نجونو لپاره ډېر ښکلی او لنډ نوم دی.

**آشوکا:**

د افغانستان او سيمي د يوه ډېر پخواني پاچا او واکمن نوم و. د ده په وخت کي بودايي مذهب ډېره پراختيا موندله او تر جيحون پوري ورسېد.

**آشيانه:**

د الوتونکو حيواناتو د اوسېدوني ځای، ځالګی او ځاله.

د نجونو لپاره ډېر ښکلی نوم دی. عطار وايي:

مرغ دل از آشيان ديگر است

**آغاګل:**

آقاګل او ګل آغا يوه مانا لري. آغا (آقا) د عزت او احترام کليمه ده چي د دربار يا دولت د کارکوونکو د نامه سره راځي. آغاګل او ګل

آغا ډېر رواج افغاني نومونه دي.

**آفتاب:**

لمر، خورشید، مهر. دغه ښکلی نوم ډېر دود دی. مولوي وايي:

مـن غـلام آفتـابم همـه زا فتـاب گـویم

**آفتاب بلند:**

ياني لوړ لمر. دغه نرينه نوم په کندهار کي له پخوا څخه دود دی. آفتاب بلند، مهتاب بلند، جهان بلند په يوه وطنپاله کند هارۍ کورنۍ کي د درو وړونو نومونه وو.

**آفرين:**

شاباس، شاباسی، د ستايلو ږغ او آواز دی.

دغه ښايسته ښځينه نوم ډير لنډ او خوږ دی.

**آفاق:**

د آسمان کنارو ته وايي. د افق جمع ده او د نړۍ مانا هم لري.

افاق د پاړسي ژبي د نامتو شاعر نظامي گنجوي د مېرمني نوم و. د امير حبيب اله خان يوه لور هم آفاق نومېدله چي درباري لقب يې شمس البنات و، يعني د لوڼو لمر. آفاق په پاړسي ژبو سيمو کي د نجونو لپاره ښه نوم دی.

آفـاق را گـر ديـده ام، مهربتـان ورزيـده ام
بسيار خوبان ديده ام اما تو چيزی ديگری

(امير خسرو)

**آمو:**

د هغه دریاب نوم دی چي افغانستان د ازبکستان څخه بېلوي.

"آمو" د نرینه لپاره ډېر ښه نوم دی. په عربي ژبه کي هغه ته جیحون وايي.

رنگ آمو و درشتیهای او
زیر پایم پرنیان آید همی
(رودکي)

آمو د يوه شرکت او مؤسسې لپاره هم وړ نوم دی.

**آنیتا:**

د آنیتا کلیمه اویستایي ریښه لري او د مهربانۍ او صداقت مانا لري. آنیتا ښکلی او دود ښځینه نوم دی.

**آهو:**

د هوسۍ مانا لري. خو د هوسۍ چیچي ته په پښتو کی کبلې او په پاړسي کی غزال وايي.

د آهو یا هوسۍ سترگي د توروالي، ستروالي او کتني له مخي ځانگړی کیفیت لري. پښتو او پاړسي شاعرانو تل د خپلو معشوقو د سترگو او حرکاتو په ستایلو کي هغوی د هوسۍ، آهویا کبلي سره پرتله کړي دي.

آهو د نجلۍ لپاره ډېر ښکلی او نوی نوم دي.

آن چشم آهوانه عابد فریب بین
کش کاروان حسن به دنباله میرود
(حافظ)

**آهسته:**

ورو، کرار، په آرامۍ سره، په ناز او نخرو سره، بېله شر او شوره، حليم، تحمل کوونکې، پسته، احتياط کوونکې، متين.

هغه څوک چي ښه اندام لري اوپه تګ کي ښکلی حرکتونه سر ته رسوي. آهسته ډېر ښکلی او نوی ښځينه نوم دي. سعدي وايي:

اول چراغ بودی آهسته شمع گشتی
آسان فرا گرفتم در خرمن او فتادی

**آهنګ:**

١ – آواز، ږغ، غاړه، د آواز وزن، د آواز موزونتيا.
٢ – کمپوز.
٣ – تکل، منډه، اراده، دود او طريقه.

آهنګ د ماشوم لپاره ښکلی او مناسب هنري نوم دی.

**آهنګر:**

لوهار، ګګر، پښ او هغه څوک چي د اوسپنيزو سامان آلاتو د جوړولو کار کوي. هغه کسب کار ته وايي چي اوسپنه په کوره کي تودوي تر څو نرمه سي او د هغه څخه ډول ډول د کرهني او کورنۍ اړتيا وړ سامان آلات جوړ کړي. په پښتو کي (پښ) ورته وايي.

اروانباد سعا د ت ګل آهنګر د پکتيا يو وتلی مبارز شخصيت و. آهنګر يو انقلابي تخلص دی. فردوسي پخپله شاهنامه کي دغه کليمه بېخي ډېره راوړې ده:

چنانش بکوبم به گرز گران
که فولاد کوبند آهنگران

(فردوسي)

**آوازه:**

**انګازه، شايعه، ګنګوسه.**

**اوازه تر حد زيات ښکلي پښتو او پارسي ښځينه نوم دی.**

**آينده:**

**راتلونکې، هغه څه چي وروسته راځي يا پېښېږي.**

**آينده ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.**

**آيينه:**

**هينداره، انداره، ښيښه، هغه څه چي بهرني شيان پکښي ليدل کېږي، نور ته انعکاس ورکوي او انسانان خپل ځانونه پکښي ګوري.**

**هينداره او "آيينه" دواړه ډېر ښکلي ښځينه نومونه دي.**

و هر چا ته پخپل شکل څرګندېږم
آيينه غوندي بې روي او بېريا يم
(رحمان بابا)

# ا

**اباسین:**

د پښتونخوا د یوه ستر سیند نوم دی چې له اټک څخه تر هندي سمندره بهېږي. پښتانه هغه (اباسیند) یاني د سیندونو ابا بولي. اباسین ډېر ښکلی نوم او ډېر ښه تخلص دی.

**ابتکار:**

نوښت، نوی، تازه او ښه کار پیل کول. نوی، ښکلی نوم او د ښې مانا لرونکی تخلص دی.

**ابدال:**

ولي، بزرګ، خلیفه، (اودال) هم لیکل کېږي چې د (بدیل) د ریښې څخه دی. د خدای ځیني ولیانو ته هم ابدال وایي، چې ګواکي هیڅ کله نړۍ د ابداله خالي نه وي.

**ابدالي:**

د پښتنو د یوې مشهوري قبیلې نوم دی چې (دراني) هم ورته وایي. نوم او تخلص دواړه ځني جوړېدای سي. احمدشاه بابا په لومړي سر کي ابدالي تخلص کاوه. په پښتني ټولنه کي د غلجي او ابدالي یا دراني توپیر یوازي یو قبیلوي وېش دی که نه ټوله افغانان سره ورونه

او ټوله یو برابر غړي دي. احمدشاه بابا وایي:

ټوله یو دي که غلجي که ابدالي دي
ښه هغه چي یې د زړه ښیښه صفا ده

**اتل:**

قهرمان، بهادر، زړه ور. اتل ډېر غوره نوم او د ښې مانا لرونکی تخلص دی. نورالله اتل یو تکړه څېړونکی او مبارز زلمی دی چی اوس په لندن کي اوسېږي. امیر کروړ د اتل لغت په خپل شعر کي داسي کار کړی دی:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هندوسند و پر تخارا و پر کابل نسته
بل پر زابل نسته - له ما اتل نسته
(امیر کروړ)

**اتڼ:**

د پښتنو یوه ډله ییزه ولسي نڅا ده. دغه نڅا افغانان تر بري، خوشحالۍ او ښادۍ وروسته په ډېره مستي سره کوي. اتڼ د یوې هنري مؤسسې لپاره ډېر ښه نوم کېدای سي.

**اټک:**

اباسین او د اباسین پر غاړه د یوه ښار ګوټي نوم دی.

بېله تا یې پېښور راته تنور کړ
له خیبره تر اټکه الغیاث

**اټکل:**

تخمین، گومان، قیاس، تصور. اټکل ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**اثر:**

اغېزه، تاثیر ښندل یا کول. ډېر ښه نوم او تخلص دی.

څه اثر به یې د عقل وي په سر کې
د هغو په سر چې کښېني شاپېرۍ
(رحمان بابا)

**احساس:**

پوهېدل، حسول، څه خبره زړه ته پرېوتل. ډېر ښه نوم او تخلص کېدای سي (د نرینه ماشومانو لپاره یې د نوم ایښودلو کلکه سپارښتنه کېږي).

**اڅک:**

اڅک د اڅکزو د ټبر د نیکه نوم دی او کله هم "اڅک" د اڅکزي کوچنی بڼه ده. اڅک زیاتره د اڅکزو د ټبر د ځینوغړو تخلص وي.

بایزید اڅک د پښتو یو ژبپوه، لیکوال او څېړونکی دی. دی په ختهٔ اڅکزی او د روزګان دی خو اوس په کابل کې اوسېږي.

**اخګر:**

د اور د سکروټې مانا لري. د ځلېدونکي او روښانه مفهوم پکښې نغښتی دی. اکثره د انقلابي زلمیانو تخلص وي خو ډېر ښه نوم هم دی.

**ادا:**

**ناز، عشوه، نزاکت، کره وره، ناز او ادا، غمزه. ډیر نوی او ښکلی ښځینه نوم او تخلص دی. بیدل وایي:**

خون بهای صد چمن
از جلوه هایت یک ادا

**ادبپال:**

**هغه څوک چي د هېواد د ادبیاتو چوپړ ته یې ملا تړلې وي، پر ادب مین. د لیکوال او شاعر لپاره ښه تخلص کېدای سي.**

**ادیب- ادیبه:**

**د ادبیاتو عالم، ښه لیکونکی، له ادبپوهني سره بلد لیکوال، زیرک او پوه شخص ته وایي. ښکلی ښځینه او نرینه نوم او تخلص دی.**

**ارباب:**

**په لغت کي د رب د کلیمې جمع ده. ارباب د دوو شیانو نږدې والي او یو ځای والي ته هم وایي.**

**د افغانستان په شمال کي ازبکان او ترکمنان خان او مشر ته ارباب وایي.**

**دلته خبره یوازي د مانا او یا تخلص په توګه د ارباب د کلیمې کارول دي. ارباب ښکلی نوم او تخلص دی.**

آسمان کشتی ارباب هنر می شکند
تکیه آن به که بر این بحر معلق نکنیم
(حافظ)

**ارژنګ:**

د ښکلا مانا لري. جادو او طلسم ته هم وايي. د "ماني" نقاش د کتاب (نګارخانه) نوم و. د فردوسي په شهنامه کي يو پهلوان دی چي د طوس له خوا ووژل سو. ډېر ښه نرينه نوم دی.

زبس ګل که در باغ ماوی ګرفت
چمن رنګ ارژنګ مانی ګرفت
(رابعه بلخي)

**ارسلا – ارسلان:**

ترکي لغت دی. زمري، غښتلی او نامي سړی. زياتره د نوم په توګه دود دی. خو ارسلا ښځينه نوم هم کېدای سي.

آنچه منصب ميکند با جاهلان
از فضيحت کی کند صد ارسلان

**ارغند:**

د ارغنداو د درياب نوم دی. ارغند په لغت کي د "په خښم" مانا لري: شير ارغند، نارهٔ ارغند. ښکلی نوم او ادبي تخلص دی.

**ارغوان:**

يوه غرنۍ ونه ده چي ښکلي او ګڼ سره ګلان لري. ارغوان نرينه او ارغوانه ښځينه نوم او تخلص دی.

که سل برګ، که بنفشه که ارغوان دی
د هر ګل په ننداره مي زړه خوشحال سي
(خوشحال خټک)

د چاريکارو او خواجهٔ صفا د غره د لمني مېلې چي ډېر لرغونی

تاریخ لري د ارغوان مېلې نومېږي. ظفر حسن (صوبه دار کابل) د ارغوان د گل په اړه وايي:

به کوه آتش زند رنگ گل او
کند آتش پرستی بلبل او

**ارمان:**

هیله، غوښتنه، تلوسه، آرزو. "ارمان" د فردوسي په شاهنامه کي د یوه ښارگوټي نوم دی. "ارمان" د افغانستان د راډیو تلوېزیون د نامتو هنرمند محمدحسین تخلص و. د ده زوی "خالد ارمان" هم وتلی رباب او گیتار ږغوونکی دی. همداسي ممتاز ارمان د پښتو ژبي یو تکړه لیکوال او شاعر دی چي اوس په ډنمارکي اوسېږي. ارمان ډېر ښکلی ښځینه نوم او نرینه تخلص دی.

**ارمغان:**

سوغات، ډالۍ، پېشکش. ښکلی نوم او تخلص دی.

**ازانگه:**

پژواک، د ږغ انعکاس. د نجونو لپاره ډېر ښکلی نوم دی (پر نجونو باندي د ایښوولو لپاره یې ټینگه سپارښتنه کوو).دغه نوم په انگازه بڼه د ننگرهار خوا ته تازه دود سوی دی.

**اسره:**

وروستۍ هیله، آرزو، مِینه، تمه. ډېر ښایسته ښځینه نوم دی. زیار صاحب دغه نوم پر خپلې لمسۍ ایښی دی.

**اسفندیار:**

د فردوسي په شاهنامه کي د یوه ډېر غښتلي او پهلوان پاچا نوم دی. په پښتونستان کي د پښتونخوا د ملي عوامي گوند د مشر نوم دی اسفندریار ولي خان د عبدالولي خان زوی او د عبدالغفار خان (پاچا خان) لمسی دی.

**اشاره:**

د سر، سترګو او لاسونو په ښورولو سره چا ته څه ویل. د شاتو (عسلو) ټولولو ته هم ویل کېږي. ډېر ښه او نوی ښځینه نوم دی.

**اشرفۍ:**

د سرو زرو د یوې سکې نوم دی. دغه طلایې سکه د اصفهان فاتح شاه اشرف هوتک د اتلسمي میلادی پېړۍ په سر کي را وایستله چي وروسته د ده په نامه مشهوره سوه. ډېر ښکلی ښځینه نوم دی، پر خپلو لوڼو د اشرفۍ نوم کښېږدي.

**اشنا:**

ملګری، انډیوال، دوست، شناخته.

لیکوال او شاعر اروابناد عبدالباری اشنا د کند هار یو پېژندل سوي شخصیت و. نوموړي پر ۱۳۳۲ کال د ادبیاتو له فاکولتی څخه فارغ او په ۱۳۴۷ کال کی ځوانیمرگ سو. ډېر ښه نوم او تخلص دی.

من از بیگانه گان هرگز نه نالم
که با من هر چه کرد آن آشنا کرد

***

په زړه مي شین د آشنا نوم دي
د اوبو غړپ کولای نه سم وران به سینه
(پښتو لنډۍ)

**اصیل:**

سوچه، ښه، خالص، د ښې کورنۍ، ، د ښه نسب څښتن، دروند او شریف سړي یا ښځي ته هم ویل کېږي. ښکلی او لنډ نارینه نوم او تخلص دی.

**اعتلا:**

لوړېدنه، پرمختګ، هسکېدل، ښه کېدل.
اعتلا د نجونو لپاره ډېر ښه نوم او تخلص دي.

**اعتماد:**

ډاډ، باور، اطمینان، یقین، وېسا.
د نامه او تخلص دواړو لپاره کارېدلای سي.

**اعتمادي:**

د افغانستان د یوه پخواني صدراعظم نوراحمد اعتمادي تخلص و. کېدای سي چي نوم هم سي.

**افتخار:**

ویاړ، فخر کول، نازېدل او سرلوړي ته وایي. افتخار ډېر ښه نوم او تخلص دی. علي خان خټک وایي:

زاهدان که افتخار کا پخپل زهد
د عاشقو وظیفه ده د صنم نوم

**افراسیاب:**

"افراسیاب" یعني ډېر بېرونکی. په شاهنامه کي د یوه پاچا نوم دی. افراسیاب ختک د پښتونخوا د یوه مبارز حقوقپوه او فعال سیاستوال نوم دی.

**افراشته:**

لوړ، پورته سوی، لوړ سوی. ضد کلیمه یې فروهشته ده. اکثره د قد او اندام په صفت کي راځي، لوړ، جګ.

دغه پاړسي کلیمه ډېر ښکلی، نوی او خوږ ښځینه نوم دی.

**افسانه:**

کیسه، سرګذشت، داستان. مېرمن افسانه د راډیو افغانستان نامتو سندرغاړې ده. د دې لومړنی هنری نوم پیکر، بل هنري نوم یې "جلوه" و خو وروسته افسانه سوه. دا اوس په جرمني کي اوسېږي.

افسانه د نجونو لپاره ډېر ښکلی او مانا لرونکی نوم دی.

**افسون:**

کوډې، سحر، جادو، ډېر ښکلی سړی، هغه څه چي یو څوک د آفت او د سترګو له صدمې څخه ساتي.

ستا د زلفو مار خوړلی به روغ نه شي
که افسون د مسیحا ورباندي پو کړي

(رحمان بابا)

**افق:**

د آسمان لمن، د آسمان څنډه.

محمدظاهر افق د کندهار فرهنګي او سياسي څېړندوی شخصيت دی چې اوس په کاناډا کې اوسېږي. "افق" ډېر ښه نوم دی.

**اقبال:**

اقبال يعني بخت، کله چې و چا ته د بخت او طالع مخه سي. بر کت، سعادت او شهرت ته هم وايي. "اقبال لاهوری" د اردو ژبي يو پر افغانستان مين شاعر دی. دی وايي:

آسيا يک پيکر آب و گل است
ملت افغان دران پيکر دل است
از کشاد او کشاد آسيا
از فساد او فساد آسيا

وتلی څېړونکی ولی احمد نوري يې پورته دويم بيت داسي ليکي:

از بقای او بقای آسيا
وزفنای او فنای آسيا

اقبال ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**الاهه:**

اِلاهه ډېر ښکلی ښځينه نوم دی. دغه نوم د الف په زېر تلفظ کېږي. د لغاتو ځيني پخوانيو کتابونو هغه داسي مانا کړی دی:

- نوې مياشت (منتهی الادب).
- لمر (منتهي الادب، مهذب الاسماء، مؤيد الفضلا او اقرب الموارد).

همداسي د اِله یا ربة النوع مؤنث هم دی. ما یوه نجلۍ چي الاهه نومېدله پېژندل. دا په دغه نوم نوره هم ښکلې سوې وه.

**الفت:**

مینه، محبت، علاقه مندي، خوی نیول، انس پیدا کول، ملګرتوب. اروانښاد ګل پاچا الفت د افغانستان د ادبیاتو ستوری او ډېر لوړ سیاسي شخصیت و. پر خپلو ماشومانو دغه نوم کښښېږدئ.

**الماس:**

الماس لکه پیروژه، یاقوت او لعل یو قیمتي کاني او ډبره ده چي د متبلور خالص کاربون څخه جوړېږي. تور، آبي او سره رنګونه لري، کله ناکله یې بېرنګه هم پیداکېږي. خو بېرنګه یې ډېره بیه لري.

الماس ډېر ښکلي نرینه او ښځینه نوم دی.

**الهام:**

په زړه کي نوې غیبي اندېښنه پیدا کېدل یا د چا په زړه کي یو څه ورلوېدل. الهام ته وحیه هم وایي. اروانښاد محمد رحیم الهام د هیواد یو پېژندلی ادیبوهاند اوژبپوهاند و.

خوشحال که نبي نه دی نصیحت خو یې خوار مه کړه
الهـام دی چـي یـې وایـې دا کـلام پـه افغـاني

الهام ښکلی نرینه نوم دی.

**امتیاز:**

توپیر، بېلوالی، ښه والی، برتري.

در چشم پاکبین نه بود رسم امتیاز
در آفتاب سایهٔ شاه و گدا یکی است

امتیاز ښکلی نوم او تخلص دی.

**امید:**

هیله، اسره، آرزو، توقع. امید لنډ او ښکلی نوم او تخلص دی.

**امیر:**

مشر، پاچا، شتمن، حکم چلوونکی، د افغانستان د پخوانیو پاچهانو لقب و لکه: امیر امان اله شاه.

"امیر" ښه نرینه نوم دی.

اگر چه بر دل مردم خرد امیر بود
ضمیر روشن تو بر خرد شده است امیر
(امیر معزی)

**امېل:**

هار، غاړگۍ او په تار پېيل سوي ملغلري. په تار پېيل سوي گلان. هغه څه چي د ښکلا لپاره په غاړه کي اچول کېږي. "امېل" د نجونو لپاره ډېر ښکلی نوم او ښایسته تخلص دی.

**انار گل - انار گله:**

انار د خوړلو یوه مېوه ده چي وني یی ښکلي سره گلان هم لري. د انارو داني سرې، روڼې او اوبه لرونکي دي. د کندهار انار نړۍ وال شهرت لري. "انارگل" په پښتنو کي د نارینه او "انارگله" د نجونو لپاره ښکلي نومونه دي.

**انار دانه:**

یانې هغه نجلۍ چي لکه د انارو دانه سور مخ ، نازک او روښانه انګي لري. انار دانه ډېر ښه، نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**اناهیتا:**

د اویستا په کتاب کي "اناهیتا" د مور آلهه ده چي د مځکي پر سر د کښت، کرهڼي، مېوو او ارزانۍ چارې سرته رسوي. د آمو د دریاب رب النوع هم اناهیتا نومېږي. اناهیتا "راتب زاد" د افغانستان د اوسني تاریخ یوه مخکښه او مبارزه ښځه ده چي اوس په جرمني کي ژوند کوي. په افغانستان کي ډېرې کورنۍ د خپلو لوڼو نومونه اناهیتا ږدي.

**انتظار:**

سترګي په لاره کېدل، سترګي غړول، هیله، امید، آرزو، توقع.

لکه څنګه چي د نجونو لپاره (هیله) او (آرزو) ښکلي نومونه دي همدا ډول د هلکانو لپاره (امید) او (انتظار) ډېر خواږه او د ښې مانا لرونکي نومونه کیدای سي. له دغه کورني نوم سره دوه کسه ډېر مشهور دي، ژبپوهاند ډاکټر احسان اله انتظار او پښتو شاعر اروا ښاد سخي انتظار.

په وعده د دلبرانو غلط مشه
نه چي شي به دي لېمه په انتظار کج
(علي خان)

***

در مصر انتظار چو یوسف بمانده ام
بسیار جهد کردم و کنعان نیافتم
(خاقاني)

**اندیشه:**

**فکر، عقل، تصور، گومان او خیال.**

بنــام خداونــد جــان و خــرد
کــز ایــن برتــر اندیــشه بــر نگــذ رد

**اندیشه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.**

**اندېښنه:**

**د اندیشه پښتو بڼه ده. اندېښنه ښکلی پښتو او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.**

**انقلاب:**

**د یوه شي او یوه حالت ډېر ژور بدلون.**

غلی شاته انقلاب دي بدلوي د زمانې رنګ
رنه کله به بدل سي د پښتون د کاشانې رنګ

(استاد بېنوا)

**محمد انور انقلاب چي کابلیانو مستر کچالو باله دتورکیی له لومړیو زده کړه والو څخه او په حبیبیه لیسه کی ښوونکی و.**

**انقلاب د ماشوم لپاره ډېر ښه نوم دی.**

**انځر ګل:**

**انځر توره یا ژړه خوږه مېوه ده چي په منځ کي ډېري کوچنی دانې لري. د انځر د وني ګل ځکه په خلکو کي شهرت لري چي د هر لړ یا بیخي نه پیدا کېږي. دلته په مجازی توګه د نا در او کم پیدا مانا لري.**

چي انځر ګل سوې رانه ورک سوې
بوی دي راځي ګل دي په سترګو نه وینمه

***

نه به انځـــر د ورځي ګـــل سي
نه به جـــانان په ســترګـــو ووينم مـــينه
(پښتو لنډي)

په يوه متل کي وايي: سبا به سي، بېګا به سي، اخر انځرى را به سي. انځر ګل په ټولو پښتنو کي د نارينه وو لپاره رواج نوم دى.

**انځور:**

رسم، کښل سوي، تصوير، نقش او نښان مانا کېږي. زرين انځور په پښتو کي د لنډى کيسې تکړه ليکونکي او کره کتونکي دى. انځور او انځوره چي ښځينه بڼه يې ده ډېر ښکلى نومونه دي. خوشحال خټک وايي:

ځينــي يــوه کــا ځينــي دوى درې کــا
پـــه انځورونـــو کـــشيدې ســرې کـــا

**انډيوال:**

ملګرى، مل، شريک، دوست.

د تخلص په توګه ډېر رواج، خو ډ ېر ښکلى او لنډ نوم دى.

**انګار:**

سرې سکروټې، سور اور، اور، سکروټه، ځلېدونکى.

"انګار" د شاه محمود خان د صدراعظمۍ په دوره کي د ويښو زلميانو د اخبار نوم و. د دغي جريدې مسئول مدير اروانښاد فيض محمد انګار نومېدى. انګار ډېر نوى او ښکلى نوم او تخلص دى.

**انګېزه:**

انګېزه د شیانو علت، سبب او ریښې ته وايي.
انګېزه ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**انیس:**

خوی اخیستونکی، ملګری، همراز، غمشریک.
انیس د افغانستان د یوې پخوانۍ ورځپاڼې نوم دی چې تر اوسه په کابل کې خپرېږي. دغه ورځپاڼ لومړی په کال ۱۳۰٦ش کې راووتل. د دغې ورځپاڼې لومړی خپروونکی غلام محی الدین انیس و.
انیس ډېر ښکلی نوم او تخلص دی.

**اهدا:**

تحفه، سوغات، پېشکش.
اهدا د نجونو لپاره ډېر ښکلی او لنډ نوم دی.

**اوچت:**

جګ، هسک، لوړ، پاس، دنګ، پورته.
څرنګه چې جګوالی، هسکوالی او پورته والی ډېر لوړ افغاني صفتونه دي نو "اوچت" هم ښکلی نوم او تخلص دی. دغه بېخي نوی نوم دی چې تر اوسه چا نه دی ایښی یا به ډېر لږ وي.

**اورکی:**

د اور د بڅرکي او د اور د سکروټې مانا لري. د اور وړوکې بڼه ده.
اورکی د نارینه کوچني لپاره ډېر لنډ او ښکلی نوم دی.

**اورنګ:**

**د پاچهۍ تخت ته وايي. په عقل، پوهه، دبدبه، شکوه، جلال، عظمت او ښکلا هم مانا کېږي. د مغولو د يوه پاچا نوم و. اورنګ يا اورنګ زېب ښکلی نرينه نوم دی. ـ افغانستان د پارسي ژبي په فولکلوري کيسو کي اورنګ د ګلچهرې مين و:**

اورنګ کو، ګلچهره کو، نقش وفا و مهر کو
حال من اندر عاشقی داو تمامی ميزنم
(...)

**اورنۍ:**

**شوخه، شنګه، خوشحاله، چالاکه. ښکلی او لنډ پښتو ښځينه نوم دی.**

**اوريا:**

**د باران مانا لري. د پښتنو يو ټبر هم د اوريا او اورياخېل په نامه ستره. په عبري ژبه اور ته وايي او د خدای د نور مانا هم لري. ښکلی ښځينه نوم او نرينه تخلص دی.**

**اويستا:**

**اويستا يا اوېستا د زرتشتي مذهب د سپېڅلي کتاب نوم دي. دغه دين تراسلام ترمخه په لرغوني افغانستان کي چي هغه وخت اريانا نومېدی دود و. اويستا ډېر ښکلی ښځينه نوم دي.**

**اوسنۍ:**

**معاصر، د راوروسته وختونو، عصري او مدرن.**
**اوسنۍ نوی او ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.**

**اول:**

یعني لومړی او مهم. په پښتو کې د خان یا میر پساوند باندی زیاتوي. لکه: اول میر، اول خان. اروانباد اولمیر د پښتو خوږ آوازه هنرمند و. ده په ۱۳۵۰ ش کال کې د هنري استادۍ رسمي ویاړ تر لاسه کړ.

**اولنۍ:**

د لومړنۍ، پخوانۍ، او لرغونې مانا لري.
ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**اوښتون:**

بدلون، انقلاب، نوی والی.
اوښتون خورا ښکلی او نوی نرینه نوم دی.

**اوښکه:**

هغه روڼې اوبه دي چې د ژړا یعني خوابدۍ او یا کله هم د خوښۍ په وخت کې تر سترګو راځي. "اوښکه" د نجلۍ لپاره ډېر ښکلی او نوی نوم دی.

له زړه مې وینه راجلا سي
د باڼو څوکو ته چې راسي اوښکه سینه
(پښتو لنډۍ)

***

د بڼو پر څوکه ځوند دي پاتېدلای سم که نه سم
لکه اوښکه پر باړخو دي رغړېدلای سم که نه سم

***

راځه په سرو سترګو نغمه نغمه سو
کوم لېوني رباب ته شرنګ ورکو

راځـه چـي اوښـکو تـه اتـڼ وښـيو
راځه د مرګ په لاس کي چنګ ورکړو
(عبدالباري جهاني)

**اياز:**

**د سلطان محمود غزنوي يو مريي او معشوق و چي ډېر هوښيار او ذکي سړی بلل کېدي. په عامه او مجازی توګه معشوق ته ويل کېږي او د ښکلی مانا لري. اياز ښکلی نرينه نوم دی.**

دســت مجنــون و دامــن لــيلا
ســر محمــود و خــاک پــای ايــاز
(سعدي)

**ايبک:**

**يعني بشپړه مياشت، د ځوارلسمي سپوږمی، صنم، ښکلی او معشوق. ايبک د سمنګانو ولايت پخوانی نوم او اوسنۍ مرکز دی. ايبک د نرينه وو لپاره ډېر وړ نوم دی چي په کندهار او پښتني سيمو کي دود دی.**

ګفــت ای ايــبک بيــا ور آن رســن
تــا بګــويم مــن جــواب بو الحــسن
(مولوي)

**ايمل:**

**په پښتنو کي ډېر دود نوم دی. ايمل پسرلی د هېواد يو ځوان ژورنالست او د لنډي کيسې ليکونکی دی.**

# ب

**بابک:**

"بابک" د بابا یعني پلار او مشر د کلیمې کوچنۍ بڼه ده. بابک د ناز نوم دي او هغه چا ته ویل کېږي چي پلار غوندي ګران وي. د نرینه لپاره ښه نوم دی. بابکو هم دغه معنی لري.

**بابر:**

د افغانستان د مغولو د لړۍ یو پاچا و چي ډېر هېوادونه یې تر لاس لاندي وه. دی د کابل پر ښار مین او (۲۵) کاله یې پکښي تېر کړل. بابر په کابل کي ډېر ښکلی باغ او بڼ جوړ کړی دی او د خپل وصیت له مخي هلته ښخ دی. بابر ډېر ښه نرینه نوم دی (خو بابړ بیا د پښتنو د یوه ټبر نوم دی چي جمع یې بابړان دي).

**بابی:**

د پښتنو د یوې قبیلې نوم دی. په کندهار کي کشر ته د میني په ډول هم بابی ویل کېږي. ښځینه بڼه یې بابۍ ده.

**باتور:**

توریالی، مېړنی، تورزن. باتور د باز د کورنۍ د یو ښکاري مرغه

نوم هم دی.

باتور د ډېري ښې مانا لرونکی خورا ښکلی نوم او تخلص دی.

**باجوړی:**

باجوړ د کوزي پښتونخوا په ختیځه برخه کي د یوې سیمي نوم دی چي (ترکاڼي) او (اتمانخېل) ټبرونه پکښي اوسېږي.

"باجوړی" د نارینو لپاره ښه پښتني نوم او د باجوړ د خلکو لپاره وړ تخلص دي.

**باچا:**

باچا او پاچا یوه مانا لري یعني د هېواد ټولواک او واکمن. ډېر خلک خپل زامن پاچا یا باچا نوموي. خو اکثره نور پساوندونه ور زیاتوي، لکه: باچاګل یا باچاخان.

پاچاګل وفادار د پکتیا د یوه مبارز شخصیت نوم او پاچاخان د پښتنو د ملي زعیم خان عبدالغفار خان د ویاړ لقب دی.

**بادام:**

بادام یوه مېوه لرونکې ونه ده چي ښکلې سره شکوفه لري. مېوه یې هم بادام نومېږي. په پښتو او پاړسي ادبیاتو کي د یار سترګي د بادام سره پرتله کوي. د نارینه وو لپاره ښه ښایسته نوم دی.

از حسرت دهانت چون پسته پوست پوشم
از شـوق چـشم مـستت بـادام میفروشـم
(ولي طواف)

**باده:**

**شراب، می، صهبا.**

**ډېر لنډ، ډېر ښکلی او ښېخي نوی ښځینه نوم دی. باده ډېره عالي شاعرانه مانا لري.**

بې د سترگو لـه خونابـه
نـه بـاده لـرم نـه جـام
(رحمان بابا)

**باران:**

**اورښت یا باران د اوبو هغه څاڅکي دي چي د آسمان څخه مځکی ته را اوري. "باران" په کابل کي د هغه هنري گروپ نوم و چي فرهاد دریا یې مشري کوله او ډېر شهرت یې وموند.**

دا بـاران نـه دي چـي اوري لـه اسمانه
د مرغـانو پـه رحمـان بانـدي ژړا سـوه
(رحمان بابا)

**باران ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.**

**د باران او با ران گل نومونه په پښتنو کي پوره دود لري.**

**بارش:**

**لکه باران اورېدلو ته وایي.**

**د نارینه لپاره ښه نوم دی او تخلص کېدای هم سي.**

**بارک:**

**د افغانستان په جنوب لوېدیځ کي د یوه پښتني ټبر نوم دی. د دغه قوم ځیني خلک بارک تخلص کوي. بارک ډېر ښکلی نرینه نوم دی.**

**باز:**

باز هغه مرغه دی چي پاچهانو به ښکار کړ او بیا به يې د ښکار لپاره کاراوه. دغه مرغه ښکاري باز هم بولي چي کبره مشوکه او غښتلي پنجې لري. باز نوم او تخلص دی.

**بازمیر:**

د پاچا یا امیر (باز) یا د با زانو پاچا . دغه نوم د دلورۍ او زړه ورتوب نښه ده. بازمیر عوام یو پښتون لیکوال دی.

**باغچه:**

باغچه، وړوکی بڼ، باغګوټی.
د نجلۍ لپاره ډېر ښکلی نوم دی چي باید دود سي.
هر که را باغچهٔ هست به بستان نه رود

**باغوان:**

مالیار، مالي، باغبان. هغه څوک چي د باغ پالنه، ساتنه او روزنه کوي. باغوان ډېر ښه نوم او تخلص دی.

چي يې ګل ستا د چمن په سر کي نسته
که ګدا د ګل باغوان سي نو يې څه
(اخوند ګدا)

***

چو ګل به دامن ازین باغ میبری حافظ
چه غم زناله و فریاد باغبان داری
(حافظ)

**باميكا:**

**باميكا د باميان د ولايت پخواني تلفظ دي. باميان د غور، غزني او کابل تر منځ پروت ولايت دی. باميکا ډېر ښه ښځينه نوم دی.**

**باهو:**

**يو ډول ښکلې ګا ڼه ده چې ښځې يې په مړوند کوي او زياتره د سپينو زرو څخه جوړېږي. باهو ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.**

لاس و پښې دي بې زېوره ښايسته دي
څه منت به د پايلو او د باهو کړې
(رحمان بابا)

**باور:**

**اعتبار، يقين، ډاډ، اعتماد، ويسا، ايمان، عقيده.**
**ډېر ښکلی تخلص او نوم دی.**

و بدخواوو ته څوک نېک نصيحت نه کا
رحمان ستا په غم شريک دي که باور کړې
(رحمان بابا)

**باوري:**

**اعتباري، اعتمادي، د ډاډ وړ.**
**ښکلی نوم او تخلص دی.**

باوري د پاچاهانو لکه غله شول
رهزنان يې په دربار کا ځيني چاري
(خوشحال خټک)

پیرمحمد باوري د پښتو لیکوال دی چې تر اوسه یې په زرګونو پښتو ټوکي راغونډي او په لسګو نو کتابونو کي یی چاپ کړي دي. نوموړي په لندن کي اوسېږي.

رسول باوري او امین باوري دواړه ورونه څېړونکي او لیکوالان دي چې لومړي یی په هالنډ او دویم یی په ډانمارک کي ژوند کوي.

**باړخو–بارخو:**

انګي، باړخو، غومبري، رخسار.

باړخو د پښتني نجلۍ لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**باڼو–باڼه:**

د سترګو له زېرمي څخه چاپېر وېښته.

ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

چې د زړه ویني مي جوش وهي له سترګو
هـر باڼـه مـي لکـه خـار د کـربلا شـي
(کاظم خان شیدا)

**بایزید:**

د روښاني غورځنګ د بنسټ اېښودونکي پیر روښان بن عبدالله انصاري نوم و. بایزید ډېر ښه نرینه نوم دی. بایزید اڅک د پښتو ژبي نامتو لیکوال او څېړونکی دی.

**ببرک:**

ببرک د ببر کوچنۍ بڼه ده. (ببر) هغه زمری وزمه غښتلي

حیوان دی چي په اورمیږ کي يې لوی او اوږده ورېښتان وي، پوست يې د پړانګ په توګه ژړ او توري کرښي لري. ببر وني ته خېژي او په اوبو کي اوبازي هم کولای سي.

ببرک کارمل یو وخت د افغانستان د دولت جمهور رئیس و.

**ببری - ببري ګل:**

کشمالی، ریحان، نازبو.

د نارینه لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**بتکۍ:**

د بت وړوکې او ښځینه بڼه ده. بت مجسمې، تصویر او په مجازي توګه ښکلي او معشوقې ته وایي (داسي ښکلې لکه بت).

"بتکۍ" د نجلۍ لپاره خورا زیات ښکلی نوم دی.

**بڅرکی:**

سپرغۍ، سپکی، د اور بڅری.

د ویښ زلمیانو د دورې د تکړه مبارز اروانښاد محمدعلم بڅرکي تخلص و. لنډ او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

**بختو:**

د بخت وړوکی او ښځینه بڼه ده. بشپړه کلیمه يې بختوره ده.

"بخت" قسمت، نصیب او طالع ته وایي. "بختو" یا "بختوره" ښکلی ښځینه نوم دی.

**بختیار:**

دولتمند، خوش طالع. بختیار هغه څوک دی چي بخت ورسره ملګری وي. "بختیار" د افغانستان په هزارګي سیمو کي د ښځو لپاره ډېر رواج نوم دی.

تــو آن بخــت یــاری کــه انــد ر جهــان
نبــود و نبــا شــد چــو تــو بختیــا ر
(فرخي)

**بختیالی:**

د بخت څښتن، بختور، بختیار.
ښکلی نوم او تخلص دی.
عبیدالله بختیالی د پښتو ژبي تکړه شاعر او لیکوال دی. دی په کندهار کي اوسېږي.

**بخمله:**

بخمل یو ډول پوست، ورېښمین او قیمتي ټوکر دی. بخمله په کندهار او د هیوا د په جنوب لوېدیځ کي رواج ښځینه نوم دی.

**بدلون:**

تغیر، انقلاب، نوی شی. "بدلون" د هلک لپاره ډېر ښکلی، مانا لرونکی او زړه وړونکی نوم دی.

**بدرجماله:**

بدر د بشپړ او پوره مانا لري لکه بشپړه سپوږمۍ، یعني د ۱۴

سپوږمۍ. "بدرجماله" یعني هغه نجلۍ چي د ځوارلسمي سپوږمۍ غوندي ښکلې ده. د پښتو په فولکلوري کیسو کي بدرجماله د سیف الملوک مَیَنه او د کیسې هیروئینه ده. لنډه بڼه یې بدرۍ یا بدرو ده.

**بدرګه:**

ملګرتیا، مشایعت، د مېلمه سره تر یوه ځایه یا د هغه د کور تر دروازې تلل، لاربښودنه.

په پښتونخوا کي د ملکنډ او سوات تر منځ د یوه ښارګوټي نوم بدرګه دي. دغه بیخي ښکلی ښځینه نوم دی.

بدرګـــه کـــه محبـــت راســـره نـــه وای
یک تنها به پر خونخوارو لارو تلل څوک
(خوشحال ختک)

**بدرۍ:**

د بدرجمالي لنډه بڼه ده. مَیَنَه، معشوقه.
بدرۍ او بدرو ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**بَدَله:**

غزل، سندره، لنډۍ، ټپه، غاړه. دغه کلیمه باید د (بَدلې) سره چي د انتقام او غچ مانا لري او په بل ډول تلفظ کېږي ګډه نه سي.

**بریښکۍ:**

په پښتو کي بریښکۍ خو دری تلفظ یی بریشکي ده. د ځلا، بریښیندوکي او همداسي د تېزي، ګړندی، چالاکي او چسپاندي

(نجلۍ) مانا لري.

ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**برلاس:**

غالب، بريالی، حاکم، غښتلي او زبردست.

ښکلی پښتو نوم او تخلص دی.

**برمک:**

برمک سنسکريت کليمه ده چي د ټبر د مشر او اختيار لرونکي ماناوي لري. "برمک" د بلخ د برمکيانو نيکه او د هارون الرشيد د يوه فرهنگ پالونکي وزير نوم و. برمک ښکلی نرينه نوم دی.

**برنا:**

يعني ځوان. د تکړه او غښتلي سړي مانا لري.

د نارينه وو لپاره ښه نوم او تخلص دی. •

توانا بود هر که دانا بود

به دانش دل پير "برنا" بود

(سعدي)

**بری:**

کاميابي، بريالیتوب، غلبه.

توري وهه بری به مومې

که بری نه وي ځوانان تل په تورو مرينه

(پښتو لنډۍ)

**بريا:**

بريا لاس ته راغلي، موندل سوی او گټل سوی څيز دی. "بريا" د لاسته راوړني مانالري. بريا ډېر مانالرونکی لنډاو ښکلی نوم او تخلص دی.

**بريال:**

هغه څوک چي يوه يا ډېري برياوي ولري. بريا لاسته راغلی، موندل سوی او گټل سوی څيز دي. "بريا" په لاسته راوړنه ژباړله کېږي. ښکلی نوم او تخلص دی.

**بريالی:**

بر سوی، غالب، سوبمن، کامياب، اوچت.

په افغانستان کي ډېر دود اورواج نوم دی.

اروانښاد عبدالغفار بريالی د پښتو ژبي ډېر نازکخياله شاعر و.د ده زوی وکيل احمد متوکل د طالبانو په واکمني کي د بهرنيو چارو د وزير د نده لرله.

تـه چـي مـا منـع کـوې د يـار لـه دره
کـوم يـو در د يـا ر لـه دره بريـالی دی
(رحمان بابا)

***

وا يـه تـا چـي بريـا لـی وژلـی نـه دی
دا پـه غبـرکـي دي پرېکـړی سـر د چـا دی
(اروانښاد بريالی)

**بريد:**

پوله، حد، پيل، ابتدا، حمله، ځوټه او يرغل.

په عسكري رتبو كي د (بريدمن) او (بريد جنرال) رتبې هم له همدغو ماناوو څخه اخيستل سوي دي. بريد د نارينه وو لپاره ښكلى نوم دى.

**بريښ:**

د ځلا، جلا، پړق، ځانګه، ځړيکه، تېزي، ګړنديتوب، چستي، چابكي او تكړه توب ماناوي لري.

"بريښ" د نارينه وو لپاره ډېر وړ نوم او تخلص دى.

**برېښنا:**

پړكه، ځلا، پېلبو.

په افغانستان كي ډېر مروج نوم دى. پاړسي بڼه يې برشنا ده. استاد عبدالغفور برېښنا زموږ د هيواد ډېر نامتو رسام و. برېښنا د نجونو لپاره هم ډېر ښكلى او د ښې مانا لرونكى نوم دى.

دا نيمګړې هيچا نه ده پوره كړې
تر برېښنا يې زياته نه ده بقا هيڅ
(حميد مومند)

**برېڅى:**

هغه څوک چي د برېڅ ټبر ته منسوب وي. خو پښتانه مل، تكړه، غښتلي، او مېړني ته هم برېڅ وايي.

د شپېتو برېڅو ورځ په ورځ كمې دى
(پښتو متل)

**بزم:**

د شرابو او خوشحالۍ باندار، جشن او مېلمستیا ته بزم وايي.
ضد کلیمه يې "رزم" ده. رزم او بزم هر یو ډېر ښکلي نوم او تخلص دی.

که یاد آمدش بزم زابلستان
بیا راسته تا بکا بلستان
(شاهنامه)

**بزګر:**

د مځکې کرونکی، هغه څوک چې خپل ځان یا د مځکې مالک ته مځکه کري او ساتي. بزګر ډېر ښه نوم او تخلص دی.

**بسام:**

ډېر خندېدونکی، خندان، غوړېدلی او تازه. ډېر خوشحاله او خنده رویه سړی.
ارواښاد عزیز بسام د کندهار یو مبارز او روښانه شخصیت و. دی د حفیظ الله امین له خوا شهید سو.

مراد و مطلب دنیا و آخرت نبرد
مگر کسی که جوانمرد باشد و بسام
(سعدی)

**بسمل:**

وژل سوی او سر پرېکړی، نیم ځانه. محمد انور بسمل د افغانستان نامتو شاعر و. بسمل ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

قاتل من چشم میبند د دل بسمل مرا
تا بماند حسرت دیدار او در دل مرا
(...)

**بشر:**

بدن، ځان، ښکلی مخ، انسان.

"ابوالبشر" د آدم علیه السلام لقب و.

بشر ښه نوم او تخلص دی. دغه نوم په کندهار او د هیواد په جنوب لوېدیځو سیمو کي پراخ رواج لري.

پس له دی به یې په نوم د بشر بولم
هم په دا چی نشته دا رنگه بشر بل
(رحمان بابا)

**بشره:**

د بشر ښځینه بڼه ده. ډېره ښکلې ښځه.

دغه نوم په کندهار او د هیواد په جنوب لوېدیځو سیمو کي بشپړ دود دی. "بشره" ډېر ښه ښځینه نوم دی خو کله چي د گل نوم ورسره یو ځای سي نو "گلبشره" سي یعني چي بدن یې د گل په څېر دی.

**بکتاش:**

بکتاش د (بک) یا (بېگ) او (تاش) څخه جوړ دی. بېگ یا بک و ستر او لوی او تاش قوم یا ټبر ته وایي. یعني د ټبر مشر.

بکتاش د پارسي ژبي د ډېري ښې شاعري رابعه بلخي مین و. دوی یو له بله سره مینه لرله چي کیسه یې مشهوره ده. سعدي هم

وايي:

چه خوش گفت بکتاش باخیل تاش
چو دشمن خراشیدی ایمن مباش

حنیف بکتاش د پښتو ژبې نازکخیاله شاعر دی. دی په لندن کې اوسېږی او د شعرونو ډېرې مجموعې یې چاپ سوي دي.

**بګړی - پګړی:**

دستار، لنګوټه، لنګی. بګړی ډېر ښکلی ښځینه نوم دی. په کندهار کې بګړۍ لیکل کېږی خو ځینی پښتانه یی پګړې لیکي.

بګړی دې ول پر ول مزه کا
لکه چې زلفې ول پر ول مزه کوینه
(پښتو لنډۍ)

**بلبل:**

عندلیب، چوڼی.

بلبل یو مرغه دی، چې ډېر په زړه پوري آواز لري. په دوبي او پسرلي کې سهار د ګلونو پر څانګو کښېني او په سوزمن آواز چیغې وي. د ګل سره د بلبل مینه شهرت لري. هزاداستان یې هم بولي. بلبل ډېر ښکلی، عاشقانه نرینه نوم او "بلبله" ښځینه نوم او تخلص دی.

بلبلا! مژدهٔ بهار بیار
خبر بد به بوم باز گذار
(سعدي)

***

بڼ د ګلو به سمسور وي مور به نه یو
د بلبلو به پرې شور وي مور به نه یو
(...)

**بلقیس:**

د سبا (اوسنی حبشې یااو تیوپیا) د ښار واکمنه وه. وروسته حضرت سلیمان علیه السلام پردې باندې مین سو او بیا دا مسلمانه سوه. سلیمان به د هدهد (ملاچرگک) مرغۍ په وسیله دې ته لیکونه او پیغامونه استول. بلقیس په ټول هیواد کې دود ښځینه نوم دی.

تخت بلقیس جای هر دیوان نیست
مرد آن تخت جز سلیمان نیست
(نظامی)

**بله نسته:**

بې مثاله، یوازینی، ډېره ښایسته. یانی هغه ښکلې چې په ښکلا کې جوړه نه لري. دغه نوم اکثره په کندهار او د هغه په گاوندیو ولایتو کې مور او پلار پر هغو نجونو ایږدي چې تر ډېر انتظار وروسته خدای ښځینه اولاد ورکړی وي.

**بلوا:**

ښورښ، غوغا، هنگامه، سرکښي.
ډېر ښکلې، د ښې مانالرونکی او لنډ ښځینه نوم دی.

نزد عاشق درد غم حلوا بود
لیک حلوا برخسان بلوا بود
(مولوي)

**بلوڅ:**

بلوڅان د افغانستان او پښتونخوا یو نامتو ټبر دی. د دغه قوم

ځینی خلک (بلوڅ) او یا (بلوچ) تخلص کوي.

**بیلور - بیلوړینه:**

بیلوړ، کرستال، یوه سپینه او روڼه ډبره ده.

وايي د نورستان پخواني نوم "بیلوریا" و، ياني د هینداري په توگه ښکلی او روڼ. بیلوړینه د ښی ملنا لروتکی ښځینه نوم دی. دری بڼه یې بلور دی.

جام بلور در خم رويين به دستم است
دست از دهان خم به مدارا بر آورم
(...)

**بنفشه:**

بنفشه يو ډول شين وزمه گل دی چې بنفشهٔ رنگ او ډېر ښه بوی لري. بنفشه په لسگونو ډولونه لري چې تر ټولو ښکلی يې گلبرگ دی، چې پنځه برگه گلان لري.

بنفشه ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی:

لبم زحرف لبش هست باده نوش هنوز
بود نظارهٔ خطش بنفشه پوش هنوز
(شوکت)

**بنگ:**

د چرسو بوټی، هغه بوټی چې پاڼي او د پاڼو گرد يې د چرسو په ډول د نشې لپاره په چلم او سگرېټ کی څکوي او داني يې تر میده کولو وروسته د شربتو په شان خیشتوي او څښل کیږي. بنگ ډېر

ښکلی او لنډ نرینه نوم دی چي له پخوا څخه په هیواد کی رواج دی.

"د بنگ مسافري" په افغانستان کي تر ټولو لومړنی پښتو ناول دئ. په دغه کتاب کي د ناول هیرو "بنگ" نومېږي چي د خوارۍ او غریبۍ لپاره له مقر او غزني څخه کندهار ته سفر کوي.

همداسي حبیب الله ماما چی خلگو بنگ حبیب الله باله د کندهار یو وتلی کاکه ځوان او کله شخه سړی و. هلته دغسي خلکو ته (پایلوچه) وایي. بنگ حبیب الله د لمریز کال په دېرشمه لسیزه کي په کندهار کی ډېر شهرت درلود. د ده په اړه یو شمېر کېسي او کتابگوټی هم لیکل سوي دي.

اې د بنگـــو بـــوټي خمـــار دي کـــړم
غـــم د دنیـــاگۍ نـــه بېـــزار دي کـــړم
(محلي بیت)

سوزني وایي:

چون بنگ و کوکنار به دیوانگی کشد
دیوانه باد خصم تو، بی کوکنار و بنگ

**یادښت:**

په افغانستان کي لومړنی پښتو ناول "د بنگ مسافري" دی چي نورمحمد تره کي لیکلی او په ۱۳۳۵ کال کي پښتو ټولني چاپ کړی دی. البته تر مخه یوازی عبدالرحمن پژواک د "کلیمه داره روپۍ" په نامه یو پښتو منظوم ناول لري چي په ۱۳۱۷ کي خپور سوی دی.

**بنگښ:**

په پښتونخوا کي د یوې سیمي نوم دی چي اوسېدونکي یې هم

په ختـه بنګښ دی. د هغو غښتلو پښتنو په یاد خپل ماشومان بنګښ ونوموئ. بنګښ د دغه ټبر د ځینو زلمیانو تخلص وي.

**بنیاد:**

"بن" یعني بنسټ او "یاد" د اساس مانا لري. اصل، قاعده، پایه، ریښه. ښه نوم او تخلص کېدای سي، یو پارسي متل دي:

"بنیاد ملک بی سر تیغ استوار نیست".

**بڼوال:**

باغوان، باغبان، مالیار، د باغ او بڼ ساتونکی او روزونکی.

بڼوال ډېر ښه نرینه تخلص دی.

**بور:**

بور یعني خړ، خاکي، سپین بخن، ابلق، هغه چا ته چي د بدن پوست یې تور، سپین او ابلق وي بور وایي. بور او بورجان په کندهار او جنوب لوېدیځو سیمو کي مروج نوم دی.

ملا بورجان د طالبانو د بهیر یو نامتو قوماندان و، چي د شمالي ټلوالي سره د کابل په جګړه کي شهید سو. سعدي وایي:

مـوی گـردد پـس از سـیاهی بـور
نیـست بعـد از سـفیدی الا گــور

**بورا:**

پرپر کې، یوه تور رنګې حشره ده چي پر ګلانو ګرځي. د ګل سره د بورا خیالي مینه شهرت لري. بورا ښکلی او ادبي ښځینه نوم دی.

بورا به خدای په گلو مور کړي
باغوانه ستا نیمگړی نیت مي ژړوینه
(پښتو لنډۍ)

**بولان:**

د کوئټې په جنوب کي د یوې سیمي او د هلمند پر غاړه د بست په برخه کي د یوه کلي او په لغمان کي د یوې سیمي نومونه دي.
بولان د ماشوم لپاره ښکلی نوم دی. د افغانستان د ټولو مشهورو تاریخي ځایونو لنډ نومونه د ماشومانو لپاره ښکلي نومونه کېدای سي.

**بها:**

ارزښت، بیه، ارزښت لرونکی، گران، گرانښت، قدر.
بها تر اوسه د نارینه وو تخلص ایښوول سوی دی، خو تر څنگ یې بها ډېر ښکلی او ښایسته ښځینه نوم هم دی.

معشوقه چي د خپل سر په بها مومي
و رحمـــان و تـــه وړیـــا ده بهـــا نـــه ده
(رحمان بابا)

**بهادر:**

زړه ور، مېړنی، توریالی، ننگیالی، تکړه، مېړه، ځوانمرد، جنگیالی. ډېر ښه تخلص او ښکلی نرینه نوم دی.

**بهار:**

د شمسي کال لومړنی فصل پسرلی نومېږي، "بهار" د یو ډول ښایسته گل او د موسیقۍ د یوه راگ نوم هم دی. بهار ډېر ښکلی

ښځينه نوم دی.

لکه ونه مستقیم پر خپل مکان یم
که خزان رابانـدي راشـي که بهـار
(رحمان بابا)

**بهارک:**

"بهارک" د بهار کوچنی بڼه ده. د بدخشان ولايت و مرکز فيض آباد ته نژدې يو ښار گوټی هم بهارک نوميږي. بهارک د نجلۍ او زلمي دواړو لپاره ښه نوم دی.

**بهاند:**

جاري، روان، بهېدونکی، د ولاړ او ساکن ضد.

بهاند د پښتو ادب د څېړونکي، نقاد او شاعر لطيف بهاند تخلص دی. بهاند د نرينه ماشوم لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**بهانه:**

بانه، پلمه، حيله، عذر، ناز، نخرې.

بهانه د نجلۍ لپاره خورا زيات ښکلی نوم دی.

د جهان بلا وي ټول سره يو ځای سوې
په بانـه د عاشـقۍ پـر گـدا راغلـې
(اخوند گدا)

***

رفتم به مسجدی کی ببينم جمال دوست
دست به رخ کشيد و حيا را بهانه ساخت
(حافظ)

**بهرنګ:**

د ښه رنګ لرونکی، خوشرنګه، ښکلی، زېبا، ښایسته.
ډېر ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**بهزاد:**

د لوړ نژاد خاوند، د ښو پلرونو اولاد، حلال زاده، نېکزاد.

په ۹ – ۱۰ هجري پېړۍ کي د هرات د نامتو نقاش او میناتوریست کمال الدین تخلص و. بهزاد ډېر ښه نرینه نوم دی.

**بهمن:**

بهمن د واوري ډ پر ستر غټي او همداسی د واوری توپان ته وایي. په شاهنامه کي د اسفندیار د زوی نوم دی. "به" د ښه مانا لري او "من" د "منش" په مفهوم دی. یعني ځوان، خرابات، کاکه. په پخوانیو اساطیرو کي د هغې پرښتې نوم و چي قهر یې کنښېناوه او د غضب اور یې وا ژه. بهمن ډېر ښایسته نرینه نوم او تخلص دی.

**بهناز:**

ډېره نازنینه، څوک چي ډېر ناز کوي، د ناز او ادا خاونده.
بهناز لنډ، ښکلی او نازنین ښځینه نوم دی.

**بهیر:**

کتار، قطار، قافله، کاروان، جریان، لړۍ، ګڼه، ازدهام.

لا تـرې یـو وتلـی نـه دی بـل دېـره شـي
کـاروان سـرای د غـم بهیـر کـړ زمـا زړه
(عبدالقادر خټک)

ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**بهين:**

ډېر ښه، تر ټولو ښه.

بهين د وړوکي ماشوم لپاره ښکلی نرينه نوم دی.

**بياباني:**

صحرايي، دښتي، بېدياني. ښځنی بڼه يې بيابانۍ ده. بياباني يا بيابانۍ ولسي او ادبي نوم او تخلص دی.

**بيبو:**

بيبو د بي بي لنډيز او کوچنۍ بڼه ده. د پښتو د فولکلوري ادب له مخي (د ښادي او بيبو په نکل کي) بيبو د ښادي مَيَنَه ده. دغه نوم په کندهار او د هغه په شاوخوا کي ډير اوريدل کيږي.

**بيدار:**

ويښ، هوښيار، ځير ک. د بيده ضد.

بيدار د مزارشريف د ولايتي ورځپاڼي نوم دی. بيدار وړ نوم او تخلص دی.

**بېدياني:**

بېديا په پښتو کي صحرا، اطراف او د ښار شاوخوا سيمو ته وايي. "بېدياني" لکه دشتي، صحرايي او بياباني ښه تخلص او نوم دی.

**بيرنګ:**

ساده، بېريا.

اروابښاد بېرنګ کوهدامني د پارسي ژبي خوږژبی شاعر و.

بيرنګ ښکلی نرينه نوم دی.

**بيژن:**

بيژن په پخوانيو افسانو (اساطيرو) کي د رستم خوريی دی. د "بيژن او منيژه" د نکل له مخي منيژه د افراسياب لور او د بيژن مَيَنَه ده. بيژن د هلک او منيژه د نجلی لپاره ډېر ښه او لنډ نومونه دي.

**بېلتون:**

بېلتون، جدايي، ليري والی، هجران، فراق.

بېلتون د افغانستان د راډيو تلوېزيون د يوه خوږ ږغي سندرغاړي تخلص دی.

چي بېلتون ويني په سترګو آشنايي کا
د رحمان په څېر به نه وي بې هنر څوک
(رحمان بابا)

***

بېلتون پر هر څه مېلمه کېږي
پر ما چي راسي نو خېمې ودروينه
(پښتو لنډۍ)

بېلتون ډېر ښکلی نرينه نوم دی.

**بېلګه:**

نخښه، نښه، نښانه، پته، نمونه.

بېلگه د نجونو لپاره ډېر ښکلی، نوی، لنډ او د ښې مانا لرونکی نوم دی. بېلگه یعني د عزت، ښکلا او استعداد نښه او نمونه.

**بینا:**

لیدونکی، د ړانده ضد، هغه څوک چي په سترگو دید او لید کولای سي. د پوه، هوښیار، عاقل او ځیرک مانا هم لري.

ډېر ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**بېنوا:**

بې چاره، خوار، ترټلی، نېستمن، بې هیلي، عاجزه، بېوزلي.

عبدالرؤف بېوا د پښتو ادبیاتو وتلی شاعر، لیکوال او څېړونکی دی. بېنوا د افغانستان د ادبیاتو د څو ستورو څخه یو ستوری شمېرل کېږي. بېنوا د ماشوم لپاره خورا ښه نرینه نوم دی.

د ارواښاد استاد بېنوا دغه له نوښت څخه ډک شعر د ځوان پښتون نسل لپاره په ترانه بدل سوی دی:

نوی شانته انقلاب دي بدلوي د زمانې رنگ
ربه کله به بدل سي د پښتون د کاشانې رنگ

**بېگانه:**

پردی، ناشناس، غیر، اجنبي، هغه څوک چي په راز کي شریک نه وي. بېگانه وړ نرینه نوم او تخلص دی.

# پ

**پاتریس:**

د افریقا د اتل پاتریس لوممبا نوم دی. که څوک له نړیوالو انقلابي نومونو سره مینه لري نو پاتریس د نرینه ماشوم لپاره پېژندل سوی نوم دی.

**پاتو:**

دغه نوم د فاطمې کوچنۍ سوې پښتو بڼه ده. بخمل ته هم وایي. دغه ښکلی ښځینه نوم په کندهار او شاوخوا سیمو کي پراخ رواج دی.

**پاچا– پاچاخان:**

واکمن، پادشاه، ټولواک، سلطان. کله پښتان د ګل یا خان کلیمه ورسر یو ځای کړي لکه: پاچاګل یا پاچا خان. پاچاخان د پښتونستان د ستر زعیم خان عبدالغفار خان لقب و. پاچاګل وفادار د افغانستان یو سیاست پوه او وطن پال شخصیت دی چي اوس په جرمني کي اوسي. پاچا او باچا دواړه ښکلي نرینه نومونه دي.

**پاسني، پاسنۍ:**

پورتنی، بره، برنی، لوړ، د ښار څخه له دباندي کلیو اوسېدونکی.

پاسنی د صحرایي، اطرافي او دښتي غوندي ماڼا لري. په کندهار کي اکثره خلک کوچیان پاسني بولي. پاسنی اوپاسنۍ ډېر ښکلی او ښه ښځینه او نرینه نوم او تخلص دی.

**پاکتین:**

د پاک اصل ښخه. د پاک او لوړ آر او نسب سړی. هغه څوک چي هیڅ غش او غل ونه لري. پاکتین ډېر علمي نرینه نوم او تخلص دی.

**پاکزاد:**

پاک نفسه، اصیل، د ښې تربیې لرونکی ځوان، بې عیبه، بې نقصه، خالص، سوچه، پاکزاد ډېر وړ نرینه تخلص دی.

**پاک لمنه:**

پاکه نجلۍ، د ښو اخلاقو خاونده ښځه، باعظمته، باعصمته، نېک عمله، هغه ښځه چي د بداخلاقۍ داغ ورپوري نه وي. پاک لمنه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**پاکه:**

صافه، سپېڅلې، سوتره، صفا، بېګناه، پرهېزګاره، نېکه، بې عیبه، پاک لمنه، باعصمته،عفت لرونکې، نېک عمله، هغه ښځه چي د بداخلاقۍ داغ پر لمن ونه لري. پاکه ډېر ښه نوم دی. د ډېرو بختورو او ښو نجونو به په نصیب کېږي.

**پاکیزه:**

د پاکیزې لپاره پاکه وګوري.

**پالندوی:**

پالونکی، روزونکی، تربیه کوونکی، د ښوونځیو او پوهنتونو هغه زده کوونکي چې څارندوی (سکاوټ) وي.

پالندوی نوی، ښکلی او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

**پالنه:**

ساتنه، روزنه، تربیه کول، لویونه.

دغه ښکلی نوم د نجونو لپاره ډېر نوي نوم دی. وروسته چې هغوی میندي سي هم دغه نوم ډېره مناسبه مانا ورته ساتي.

**پالوال:**

پرهېزگار، وفادار.

ښاغلی ډاکټر عبدالرازق پالوال د افغانستان نامتو توکمپوه، ژبپوهاند او لیکوال دی چې اوس په کندهار کي اوسېږي.

پالوال د نرینه ماشوم لپاره ښکلی نوم دی.

**پالوۍ:**

د پهلوۍ پښتو سوې څېره ده. پهلوي په اېران کي د پهلوي لړۍ د واکمن په دوره کي د سرو زرو یوه خاصه سکه وه. پهلوي یا پالوي ډېر ښکلې ښځینه نوم او په کندهار کي بیخي ډېر دود دی.

**پامیر:**

د افغانستان په شمال ختیځ کي هغه لوړه غرنۍ سیمه ده چې تر همالیا وروسته د نړۍ بام بلل کېږي. ختیځ هندوکش د همدې ځای

څخه پیل او د خاواک تر کوتل پوري رسېږي. په دغه ځای کي د پامیر د گره (غوټي) څخه د سلیمان، زاگروس، هندوکش، همالیا، قراقروم، کوینلون او نانشان مشهور غرونه پیل او په بېلو بېلو لورو غځېږي. پامیر ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**پانوس:**

ډیوه، څراغ، لمپه، روښنايي.
پانوس ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

پتنگه خاوري دي په سر شوې
ډیوې ته جوړ شو په پانوس کي بند ځایونه
(پښتو لنډۍ)

**پانگه:**

شته، دولت، هستي، سرمایه او ارزښتناکه څیز.
پانگه لکه ځانگه، وړانگه ډېر ښکلی، نوی او خوږ ښځینه نوم دی.

بېله دي چي موحد، مومن مخلص یم
د عمل پانگه مي هیڅ نسته مفلس یم
(...)

**پاولۍ:**

یو ډول پخوانۍ نازکه سکه ده چي ښځي یې د گېڼې په توگه په غاړه کوي. پاولۍ د سپینو او سرو زرو څخه جوړېدلې. اوس هم ښځي د سپینو زرو څخه نري پتري جوړوي او بیا یې د خپلو کالیو له پاسه گنډي. پاولۍ د نجونو لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**پاڅون:**

انقلاب، بلوا، قیام، د خلکو پورته کېدل.

کاتب پاڅون د پښتو ژبي طنز او ډرامه لیکونکی لیکوال دی، اوس په کابل کي اوسي او په بي بي سي کي کار کوي. پاڅون ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**پاڼه:**

ورقه، د ګلو او وني پاڼه.

پاڼه د نجونو لپاره ډېر ښکلی نوم دی. کله کله د ګل یا زر کلیمه ورسره یو ځای کوي لکه: ګلپاڼه، زرپاڼه. پاڼو هم پاڼه ده. دغه ډېر ښکلی او دود سوی ښځینه نوم دی.

**پایا:**

په پارسي ژبه کي د پایېدلو فاعلي صفت دی، یعني پایداره، پاینده، تر تر تله، جاوید او ثابت. محمدنبي پایا د افغانستان سیاسي او اجتماعي شخصیت دی. دي اوس په لندن کي اوسېږي.

پایا و نرینه او نجلۍ دواړو ته ښکلي نوم دی.

**پایزېب - پایزېبه:**

پایزیب، پانزیب، پایلي، پاینزیب، خلخال، د ښځو د پښو ګاڼه (پسول) ده. هغه پتې چي د سپینو یا سرو زرو په ګونګریو ښکلې سوې وي، ښځي یې د ښکلا لپاره ، په تېره بیا د نڅا په وخت کي پر پښو تړي. پایزیبه د نجونو لپاره ډیر ښکلی نوم دی.

**پایښت:**

دوام، بقا، د ژوند پاته کېدنه، تر زیاتې مودې پورې ژوند کول.
پایښت د نارینه وو لپاره ښه نوم او تخلص دی.

**پایلامه:**

بنسټ، سته، تاداو، اساس.
پایلامه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**پتاسه (ج: پتاسې):**

دشلمه، تشلمه، شېریني، هغه خواږه چې د نازکو ټوټو په توګه په ډول ډول رنګونو جوړېږي. پتاسه (پتاسو) ښکلی، خوندور او مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**پتمل:**

غیرتمن، باعزته، ناموس لرونکی، آبداره، د دوستۍ او اړیکو ساتونکی، خپلوي پال. خوشحال خان ختک وایي:

د آشنا د مینې پت به مې مات نه شي
که مې سر له تنه درومي په دا پت کې

پتمل، پتمن چې ښځینه بڼه یې "پتمنه" ده خورا ښکلې او د ښې مانا لرونکي پښتني نومونه دي.

**پتنګ (ج: پتنګان):**

پروانه، پتن. پتنګ یو وړوکی الوتونکی دی چې د شپې له خوا د ډېوې او څراغ پر رڼا تاوېږي راتاوېږي او ځان په سوځي. په پښتو

ادب کي پتنګ په مینه کي نوم لري.

نه پتنګ د خپل څراغ شوې
نه بلبل د خپل ګلزار
(رحمان بابا)

**پتلېز - پتلېس:**

د ماتو لوښو او کاليو رغول، د پیوند مانا لري. ښکلی تخلص دی.

**پتوال:**

پتيال، پتيالی، پتمن، د پت خاوند، ننګيالی، غيرتمن، د عزت خاوند او هغه څوک چي دوستي او آشنايي په ښه توګه پالي.

پتوال ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**پتونی:**

يو خوشبويه ګل دی چي په بېلابېلو رنګونو پيدا کېږي. شنې، کوچنۍ او نرۍ پاڼي لري. پتونی د نرينه ماشومانو لپاره ډېر ښکلی او نوي نوم دی.

**پتيار:**

پتيالی، پتيال، پتمن، پتوال، د پت او عزت خاوند، غيرتي، ننګيالی، د آب او عزت خاوند. پتيار ډېر وړ نرينه تخلص دی.

**پتيال:**

پتيار، پتوال، پتمن، پتيالی، د پت خاوند. غيرتي، ننګيالی، د

آب او عزت خاوند. پتیال ډېر ښکلی نرینه تخلص او نوم دی.

**پتیالی:**

پتیال، پتوال، پتیار، پتمن، د پت او عزت خاوند، پتیالي لکه ننګیالی ډېر دود سوی تخلص او نوم دی.

**پټان:**

د هند په لویه وچه کي پښتون ته پټان وایي.
پټان ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**پټکی - پټکۍ:**

پګړۍ، بګړۍ، لونګۍ، لنګوټه.
پټکی ډېر نوی، لنډ او ښکلی نرینه او ښځینه نوم دی.

**پخلا:**

د مرور ضد، دل آسا، رضا، خوښ، خوشحاله.
پخلا ښکلی ښځینه نوم او نرینه تخلص دی.

دا بـه کلـه بخـت زمـا لـه خوبـه پـاڅي
چي لـه مـا مـرور شـوی یـار پخـلا شـي
(معزالله)

**پرتو:**

روښنایي، وړانګه، رڼا، نور.
ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**پردېس:**

مساپر، بېگانه، هغه څوک چې د کور څخه په سفر تللی وي. د افغانستان پخواني صدراعظم اروانباد محمدهاشم میوندوال په ځواني کې پردېس تخلص کاوه.

پردېس ډېر ښکلی نوم او نرینه تخلص دی.

**پرستو:**

غچۍ، یو وړوکی تور الوتونکی دی چې په اوړي او پسرلي کې پیدا کېږي. غچۍ اوږده وزرونه او خاکستري سینه لري.

همداسي پرستو د افغانستان د راډیو تلوېزیون نامتو سندرغاړې ده چې اصلي نوم یې نوریه دی. پرستو د اروانباد مهریار مېرمن وه او اوس په جرمني کې اوسېږي.

مېرمن پرستو په ختېه د لغمان ده. د نوموړې لومړنی هنري نوم سوما و. خو کله چې د وخت د حاکمانو څخه محمود سوما د دولت لوړ پوړی چارواکی سو نو دا مجبوره سوه چې "پرستو" د خپل هنري نوم په توګه غوره کړي.

پرستو ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**پرهار:**

ټپ، زخم، پرهر.

تا وېل چې زما د خولې بوسه لکه دارو ده
غوا ړم دا دارو، د زړه پرهار لره کـه نـه
(خوشحال ختک)

پرهار د ښې مانا لرونکی تخلص دی.

**پرهېز:**

**تقوا، له بدو ځان ساتنه، پرهېز کول.**

**پرهېز ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.**

چي دا هسي په پالنګ راغله نو څېزه
د خوشحال ختک وداع شوه له پرهېزه

**پروا (ج: پرواوي):**

**اند، خیال، فکر، لحاظ، خاطر، باک، پروا کوونکی، خیال ساتونکی، فکر کوونکی. پروا ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.**

**پروانه:**

**یوه وړوکی الوتونکی حشره ده چي نازک رنګین وزرونه لري، پر ګلانو او پاڼو کښېني. خو هغه تور الوتونکی ته چي د شپې د پروانې په نوم یادېږي پتنګ وایي. پروانه یا پتنګ د عاشق او په غم کي وریت مانا هم لري.**

**پروانه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.**

تاروګی د عشق له سوزه څه خبر دی
په څراغ باندي چي سوځي پروانه دی
(مصري خان)

**پروین:**

**په اسمان کی هغه څو ځلانده ستوري دي چي د یوې وړې په توګه غوړشکه سوي او په حرکت کي دي. موږ یې یوازي شپږ داني وینو. په عربي یې "ثریا" او په پښتو کي یې "پېروني" بولي.**

**حافظ وايي:**

نسبت رويت اگر با ماه و پروين كرده اند
صورت ناديده را تشبيه به تخمين كرده اند
شمهٔ از داستان عشق شور انگيز ما است
آن حكايت ها كه از فرهاد و شيرين كرده اند

مېرمن پروين د راډيو افغانستان ډېر خوږ آوازه سندرغاړې وه. د دې اصلي نوم خديجه او د سردار محمد رحيم ضيايي (چي په شعر كي يې شيون كابلي تخلص كاوه) لور ده.

استاد ولي احمد نوري ليكي: د افغانستان د سندرو په تاريخ كي د لومړي ځل لپاره په (۱۳۰۲ لمريز كال كي) د سعدي دغه شعر:

سلسله موی دوست حلقه دام بلا ست
هر كه درين حلقه نيست فارغ ازين ماجرا ست

د مېرمن پروين په ښكلي اواز د هغې په كور كي پر نوار باندي ثبت او بيا د راډيو څخه خپور سو.

مېرمن پروين لومړنۍ ښځه وه چي په چادري كي كابل راډيو ته ولاړه او د گلفروش سندره يې و خپلو خلكو ته تحفه كړه. دې پر ۱۳۸۷ كال په كابل كي له نړۍ سترگې پټې كړي.

**پر گني – پر گنۍ:**

ولسي، د خلكو څخه راوتلی، د خلكو په چوپړ كي، تودهٔ.
د نجونو او هلكانو لپاره ښكلی نوم او انقلابي تخلص دی.

**پرنده:**

يعني الوتونكی، هر ژوندی موجود چي هوا ته الوتای سي. د

پاړسي ژبې کيسه ليکونکي رهنورد زرياب لور پرنده نومېږي.

پرنده د نجلۍ لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**پري:**

هغه افسانوي موجود دی، لکه جن يا فرشته چي د ډېري ښکلي ښځي په څېر راڅرګندېږي. د پري (يعني دغه ښکلې ښځه) ضد کليمه په ادبياتو کي ديو (دېب) دی.

مشاهير نسوان د پری بدخشي په نامه د دری ژبې يوه نازکخياله شاعره راپېژني اود شعر لاندنی نمونه يې راکوي:

چشمی که باز نيست به روی تو بسته به
دستي که دامن تو نگيرد شکسته به
بر خاستی قيامت کبرا بلند شد
بنشين دمی که فتنه محشر نشسته به
حرفی که درد عشق ندارد نگفته خوش
آهی که بی اثر بود از دل نرسته به
امشب چراغ نشه پری ميدهد به بزم
زاهد بيا که شيشهء تقوا شکسته به

پري د ښکلې ښځي سمبول او ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**پريچهر:**

د "پري" يعني ډېري ښکلي ښځي په توګه څېره لرونکی انسان.

"پريچهر" د زابل د پاچا د مېرمني نوم و.

دغه يو مناسب پاړسي نوم دی.

**پریزاد:**

داسي ښکلې نجلۍ لکه پري چې زېږولې وي. ډېره ښایسته نجلۍ. پریزاد ښکلی پاړسي ښځینه نوم او تخلص دی.

**پریسا:**

یعني پري ډوله، جادوګره، افسونګره، هغه څوک چې اجنه او پېریانان ورته تسخیر وي. پریسا "مرسل" د افغانستان د راډیو تلوېزیون یوه تکړه سند رغاړې وه. پریسا ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**پرېشان:**

خپه، نیولی، غمګین، دلګیر، په تشویش کې، لالهانده، کریاب، خوار، تار په تار او تیت و پر ک. پرېشان د استاد داوي شاعرانه نوم و. پرېشان یوازې ښه تخلص دی.

وا ړه زلفي يې پرېشانه په خپل مخ کړې
که د لمر لـه پاسـه راغلی اندیر گـوره
(معزالله)

**پژمان:**

غمګین، افسرده، مړاوي، پژمرده، دلتنګ، پښیمانه.

عارف پژمان د دری ژبې نازکخیاله او روښانه شاعر او لیکوال دی. نوموړی اوس په امریکا کې اوسېږی. پژ مان خورا ښکلي نرینه نوم دی.

**پژواک:**

په غره کې یا تر یوې ګنبدې لاندې د آواز یا ږغ غبر ګون، ږغ، آواز.

عبدالرحمن پژواک د پښتو او پارسي ژبي ډېر نازکخیاله شاعر، کیسه لیکونکی او دیپلومات تېر سوی دی. پژواک د نرینه ماشومانو لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**پسته – پستکی – پستکۍ:**

هر نرم او نازک شی ته پوست وایی. په مینه او ناز د یوه ماشوم یادول.

په کندهار او ګاونډیو سیمو کي د نارینه لپاره پستکی او د ښځو لپاره پسته او پستکۍ مروج نومونه دي.

**پسرلی:**

بهار، ځر مونی، د کال د څلورو فصلونو څخه لومړی فصل.

محمدصدیق پسرلی د پښتو ژبي نازکخیاله شاعر او لیکوال دی. نوموړی اوس په کابل کي اوسېږي. پسرلی ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**پښتنه:**

د پښتون ښځینه بڼه، د پښتون قام غړې، مجازاً پت لرونکي، حیاناکي، غښتلي او مېړنۍ ته وایي. پښتنه رواج ښځینه نوم دی.

**پښتون:**

پښتون قوم، د پښتون قام یو غړی، مجازاً غیرتي، د ننګ او پت خاوند.

پښتون ښکلی نوم او تخلص دی، په تېره بیا د افغانستان په جنوبي سیمو کي ډېر رواج لري.

پـــر دنیـــا د پــښتانه دي دا دوه کـــاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران سي

**پلمه:**

**بهانه، بانه، حیله، مکر.**

**د نړۍ په ټولو نومونو کي د یوې نجلۍ لپاره تر دغه لنډ، ښکلي او د نجونو او ښځو د خوی سره وړ نوم نسته. ډېر ښه نوم دی.**

خدای دي د سیند د غاړي ګل کړه
چي د اوبو په پلمه درسم بوی دي کړمه
(پښتو لنډۍ)

***

ستا تـر خــوږو خــوږو پلمــو وګــرځم
وعـــدې دي ټـــولي پــــه منلـــو ارزي
(عبدالباري جهاني)

**پَلو:**

**څادر، د څادر پیڅه، ښځینه ټکری، څنډه، اړخ، د خېمې پرده.**
**طرف او لوري ته هم پلو وایي.**

**پلو د افغاني نجونو لپاره چي ډېري حیاناکي دي بېخي ښه، مانا لرونکی او ښکلی نوم دی.**

**پلوشه:**

**د لمر راختو په وخت کي روڼا، شغله، نور، تجلي، وړانګه.**
**پلوشه خوږ او ښکلی ښځینه نوم او تخلص دی.**

**پلټنی:**

د سرباز او سپاهي مانا لري.

پلټني مناسب نرینه تخلص دی.

**پوران:**

په پارسي کي (پور) ته ورته مانا لري. پور و اولاد او په تېره بیا نرینه بچي ته وایي. پوران د نجونو او هلکانو دواړو لپاره وړ نوم دی.

**پولاد:**

ډېره کلکه اوسپنه ده. پولاد د تودوخي په ۱۳۰۰ - ۱۴۰۰ درجو کي ویلي کېږي. پولاد د مجاز په توګه کلک، سخت، غښتلي، ټینګ او بردبار ته ویل کېږي.

د پښتو د لومړي معلوم شاعر امیر کروړ د پلار نوم امیر پولاد و.

پولاد نرینه نوم او تخلص دی.

**پولادي:**

د پولادو، په پولادو پوري تړلی، د پولادو څخه جوړ سوی، پولادي سړی یعني کلک، ټینګ او غښتلی سړی.

پولادي یو ټولنیز او انقلابي تخلص دی.

**پوهیالی:**

د پوهي خاوند، پوهېدونکی، پیېدونکی، د کابل پوهنتون د استادانو لومړنی علمي درجه ده، د ماشوم لپاره مناسب نوم دی چي پوهیال هم کیدای سی.

پوهاند، پوهندوی، پوهنمل، پوهنوال، پوهنیار او پوهیالی ټوله د هلکانو لپاره ډېر ښکلي او مانا لرونکي نومونه دي. په تېره استادان او ښوونکي باید دغه ابتکار تر لاسه کړي چي خپل اولادونه په دغو لقبو ونوموي.

**پووندہ:**

پاونده، ګوجر، غوبه، هغه څوک چي پسونه او مالونه پیايي. دغه نوم د یوه ښه نرینه تخلص په توګه کارېدای سي.

**پویا:**

پوینده، جوینده، تلاښ کوونکی، خواریکښ، تلوار کوونکی. د آرام او سکون ضد. پویا ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**پویان:**

پویا، پوینده، جوینده، ډېر تلاښ کوونکی، متحرک، د آرام او سکون ضد. دغه ښکلی نرینه نوم دی.

**پهلوان – پالوان:**

پالوان، اتل، هغه څوک چي په غېږه او لاس په لاس جګړه پوهېږي. زړه ور، پیاوړی، غښتلی، بهادر او تکړه. پهلوان ډېر ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**پیام:**

پیام، خبر، ښه خبر، د چا له خوا بل چا ته د مطلب رسول.

پیام ډېر ښکلی نوم دی.

**پیاوړی:**

تکړه، غښتلی، قوي او زوره ور.

پیاوړی ډېر ښه نوم او تخلص دی.

**پېرزوینه:**

پېرزو کېدنګ، لورینه او د ښه نیت څرګندونه.

پېرزوینه د نجونو لپاره ښکلی، نوی او د ښې مانا لرونکی نوم دی.

**پېرزو:**

پېرزو لنډ او ښایسته نوم او تخلص دی.

**پېروزه – پېروژه:**

فیروزه، یو بها لرونکی کاڼی دی چې معمولاً په ګوتمیو او انګشتریو کې د غمې په توګه کارول کېږي. رنګ یې (اسماني) شین ته ورته دی. پېروژه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**پېزوان:**

د پزې ګاڼه او پسول، هغه ګاڼه چې ښځې یې په پزه ځړوي. د پزې خلی، ډنډر، هغه خلی چې ښځو د پزې په سوري کې ایښي وي. پښتون شاعر معزالله وایي:

صدف لاس په دعا ونیسي دا وایي
چې که ځای مې د ګوهرو ستا پېزوان سي

یا:

خان دی اد م خان دی
درتــه وایم ټــول عـــالم ورته حــیرا ن دی
دسرو ټټه دی په پزه
چې د زړونو سره جنګ کا ستا پیزوان دی

**پیسته:**

غرنۍ وچه مېوه ده چي خوندور، زرغون مغز لري. کله چي پیسته پخه سي و چاودي مغز يې چي پیسته یي رنګ لري ډېر ښکلی ښکاري. په پښتو او پاړسي ادب کي پیسته د یار د شونډو او کله هم د شونډو د مسکا سره پرتله کوي.

پیسته فروش پیسته بفروش،
لب یار نازک است، آهسته بشکن میده بفروش
(محلي شعر)

پیسته ښځي نوی، د ښې مانا لرونکی او ښکلی نوم دی.

**پیکان:**

قاصد، استازی، خبر رسوونکی، مژده رسان.

پیکان د کابل راډیو سندرغاړی دی. د ده اصلي نوم (احمدزبیر ابوي) دی. پیکان ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**پیلامه:**

۱. بنسټ، ستنه، اساس، تاداو.
۲. نخښه، نښه، نښانه، علامه.
۳. خوی، خصلت او عادت.

پیلامه ښکلی، د ښې مانا لرونکی او نوی نوم دی.

**پېلبو:**

برېښنا، پړک، پیلوا، الماسک.

پېلبو د نجونو لپاره ډېر ښکلی ادبي او خوږ نوم دی.

**پیمان:**

تړون، پښتو کول، ژبه، وعده، ژمنه، لوظ.

پیمان ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**پیمانه:**

جام، کټوری، پیاله.

نهایت ښکلی ښځینه نوم دی. نوې، ادبي او ډېره ښه مانا لري.

دیدن د بادو پیمانه ده
نه به پوره سي نه به وتړي پنډونه
(پښتو لنډۍ)

**پیمخه:**

ښکلی، ښایسته، سپین مخی، روب، د بدرنګه او بدرنګۍ ضد.

دا پیمخی چي یې مخ د لمر په څېر دی
تور وېښته به یې په مخ باندي ځنګل شي

پیمخه ډېر ښکلی، نوی او مانا لرونکی نوم دی.

**پیوستون:**

اتحاد، یو ځای والی، نښتل، یو ځای کېدنه، جوختېدنه، سره لګېدنه.

یار له ما د آشنایۍ پیوند پرې کړی
زه لا بیا په زړه او خوله په پیوستون یم

**پیوسته:**

متصل، یو په بل پوري تړلي، سلسله، پیوند سوي. همداسي پیوسته یعني تل، ابدي، مدام، جاودان، ملګری، نژدې، دوست، انډیوال. سعدي وايي:

"تنت باد پیوسته چون دین درست"

**پیوسته ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.**

**پیوند:**

جوړ، پیوستون، تعلق، اړیکه، تړاو. علي ګل پیوند د پښتو ژبي ډېر نازکخیاله شاعر دی چي اوس په جرمني کي اوسېږي.

په هغه زما سلام خرم دي اوسي
چي له چا سره نه مهر نه پیوند کا
(...)

**پیوند د نامه په توګه ډېر ښکلی نوم دی.**

**پېړۍ:**

۱. سل کاله، یو نسل.
۲. ډېره موده، قرن.

تر او و پېړیو پوري
واړه مړه په تېغ او تیر
(خوشحال خټک)

**پېړۍ ښکلی ښځینه نوم دی، یعني عمر دي یوه پېړۍ سه.**

**پېښور:**

پښاور، پشاور، د لري پښتونخوا د يوه تاريخي او ستر ښار مرکز او نوم دی. پېښور د کوچني لپاره ښکلی نوم دی. د دغسي نومونو ايښودل د پښتنو تر منځ ملي يووالی ټينګوي.

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور و ګور او پېښور درې واړه يو دی
(رحمان بابا)

**پېکۍ:**

پېکی، څوښي، اوربل، د تندي هغه ورېښتان چي د پښتني پېغلي د پېغلتوب نخښه ده. دغه نوم چي په پارسي کي پېکی او په پښتو کي اکثره پېکۍ تلفظ کېږي، ډېر رواج لري. ډېر ښکلی، لنډ او مانا لرونکی ښځينه نوم دی.

خوله مي د څټ له لوري واخله
پېکی مي غوړ دي چي اغېړ نه سي مينه
(پښتو لنډۍ)

# ت

**تابان:**

**ځلېدونکی، روښانه، نور جوړونکی، نور پاشونکی.**

**ډېر ښکلی، نوی، لنډ او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.**

چه قیامت است جانا که به عاشقان نمودی

رخ همچو ماه تابان قد سرو دلربا را

(حافظ)

**تابلو:**

**انځور، ځېره، تصویر، عکس، منظره، هغه تخته یا پرده چې عکس یا منظره باندې انځور سوی وي. که څه هم تابلو دباندې کلیمه ده خو بیا هم نوی، لنډ او ښکلی ښځینه نوم دی.**

**تاج:**

**د پاچهانو خول، د پاچهانو ټوپی.**

**ډېر ښه تخلص او نرینه نوم دی.**

**تاجدار - تاجداره:**

**تاج لرونکی، ټولواک، ستر واکمن.**

ډېر ښکلی نرینه او ښځینه نوم دی.

**تاجور – تاجوره:**

تاج لرونکی، د تخت او تاج لرونکی. تاجور اصلاً نرینه کلیمه ده، خو په افغانستان کي ښکلی ښځینه نوم دی. مثلاً: تاجورسلطان د افغانستان ملکه وه.

**تاجګله:**

هماغه د تاجدار او تاجوري مانا لري.
د نجلۍ لپاره ښایسته نوم دی.

**تازه:**

غوړېدلی، شین، سرسبزه، تنکی، د مړاوي او زاړه ضد. دغه ښکلي نوم ته زموږ په هیواد کي کله ناکله د "خان" او یا "ګل" پساوند ور زیاتوي: "تازه خان" یا "تازه ګل".

**تازه ګل:**

تازه او ښه بوی لرونکی ګل.
ښتانه دا نوم ډېر خوښوي.

**تالا:**

چور سوی، لوټ سوی، برباد.
لنډ او ښکلی نرینه تخلص دی.

ستا په تور مي مال تالا مانۍ نړېږي
راتــه گـوره کـه پــه دا دي زړه ســړېږي
(...)

**تالنده:**

**تنا، د آسمان غورا، د آسمان غرهار، د آسمان کړس و کړوس.**
**نابلده خو نوی او لنډ ښځینه نوم او تخلص دی.**

**تبسم:**

**مسکا، مسېدل، په شونډو کي نرۍ خندا.**
**د نجلۍ او هلک دواړو لپاره نوم او تخلص دی.**

خاموشۍ ته دي ټول غرونه حيرانېږي
تبــسم دي خــراج اخلــي لــه ســپرو نــه

**تپاند:**

**ناکراره، ناآرامه، تپېدونکی، عاشق، پرېشانه.**
**عبدالهادي تپاند په کندهار کي د افغانستان ډېر نامتو رسام دی. تپاند د کوچني هلک لپاره ډېر لنډ، مانا لرونکی او ښکلی نوم دی.**

**تپش:**

**تپش د تپاند مانا لري او ښه انقلابي تخلص دی.**

**تجلی (تجلا):**

**راڅرگندېدل، پیدا کېدل، روښانه کېدل، رڼا، نور، ځلا، جلوه،**

روښنايي.

تصوف والا تجلا هغه روښنايي ته وايي چي د سلوک د مرحلې يا مرحلو تر تېرېدلو وروسته د سالک په زړه کي پيدا کېږي. د هغه اِلهي نور غلبه ده، چي په طور کي پر موسی علیه السلام راڅرګند او هغه هوښ د لاسه ورکړ.

د نجونو او ښځو لپاره تجلی ښکلی او مانا لرونکی نوم او تخلص دی.

په څراغ کي تجلا وکه پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره شي په نسرين کي
(عبدالقادر ختک)

***

از تجلی چرا نصیبم نیست
که همه عمر جای من طور است
(مسعود سعد)

## تحريک:

لمسون، لمسونه، پارونه، ټونګ، پاڅونه، خوځونه، هڅه او کوښښ، نوې خبره پيل کول، ډله جوړول.

په افغانستان کي د جهاد په کلونو کي د تحريک کليمه ډېره رواج سوه.

## تحسين:

شاباسی، آفرين، ښه ويل، ستايل.

که څه هم تحسين کليمه عربی ريښه لری خو لنډ، د ښې مانا لرونکی او ښکلی نوم او تخلص کيدای سی.

**ترانه:**

سندره، حماسي سندره، هغه سندره چې په ډله ایزه توګه ویل کېږي. ترانه د نجونو لپاره تر اندازې زیات خوږ او ښکلی نوم دی.

سیما ترانه د راډیو افغانستان پېژندل سوې سندرغاړې ده چې اوس د کاناډا په ټورنټو کې اوسېږي.

**تر کاڼ:**

تر کاڼ نجار ته وايي یانې هغه څوک چې له لرګو او تختو څخه ډول ډول شیان جوړوي. هغه خلک چې کسبي تخلصونه لکه بزګر، کارګر، آهنګر او داسې نور خوښوي، هغوی ته تر کاڼ مناسب تخلص دی. تر کاڼ د یوه ولسي شاعر تخلص و.

**ترنم:**

سندره ویل، اواز ویل، سرود، نغمه.

ډېر ښکلی نوم او تخلص دی.

**تره کی:**

په افغانستان کې د غلجي پښتنو یو مشهور ټبر دی.

زموږ په هېواد کې د دغه ټبر څخه ډېر نامتو شخصیتونه را پیدا سوي دي: محمدهاشم میوندوال د ډموکراسۍ د لسیزې لومړی وزیر، عبدالمجید زابلی د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې د هېواد د معاصر اقتصاد بنسټ اېښودونکی، روستار تره کی حقوق پوه او څېړونکی چې اوس په فرانسه کې اوسېږي او داسې په سلګونو نور ټول د دغه زړه ور ټبر غړي دي.

اروانښاد نورمحمد تره کی د افغانستان جمهور رئیس و. نوموړی د ویښ زلمیانو غورځنګ د مشرتابه فعال غړی او د افغانستان د خلکو د دیموکراتیک ګوند بنسټ ایښودونکی و.

د افغانستان په ادبي تاریخ کي لومړنی پښتو ناول "د بنګ مسافري" د ده له خوا لیکل سوی او پر ۱۳۳۵ کال د پښتو ټولني له خوا خپور سوی دی.

## ترین – ترینه:

د پښتنو یوه قبیله ده. ترینه په عامه توګه د نجونو لپاره ښه نوم دي. شاه ترینه د پښتو د فولکلوري ادبیاتو په نکلونو کي د خوشکیار مَیَنَه وه. په تاریخ کي ترین ابدال د قیس عبدالرشید لمسی و. قیس عبدالرشید د کندهار د درانو د ټبر بنسټ ایښودونکی دی. نوموړي د عمر ابدال په نامه یو ورور او د شیریني، میني او بارش په نامه دري خوندي درلودې. ترین او ترینه دواړه ښکلی نوم او تخلص دی.

## تړون:

عهد، پیمان، وعده، پښتو کول، میثاق، قرارداد، رابطه، تعلق.

تړون ډېره ښکلې کلیمه ده او د ماشومانو لپاره ډېر ښایسته نرینه نوم دی.

د خوبانو پر عشاقو دا جفا له اوسه نه ده
له ازله مقرر دي د دې قوم تړون هسي
(معزالله)

## تسکین:

تسلا، آرام، د زړه آرام، ډاډ او باور.

تسکین نوی نوم او تخلص دي. په پاړسي ژبو سیمو کي تسکین د نجلۍ او هلک دواړو لپاره ښکلی نوم دی. خو په پښتنو کي یوازي د هلک لپاره مناسب دی ځکه د تانیث بڼه نه لري.

چي په زړه مي ستا د میني آتش بل شو
کناره مي له زړه صبر او تسکین کښود
(کامگار ختک)

***

بر امیدی کز شکر سازد لبش تسکین جان
هم گلاب از دیده و هم ناردان افشانده اند
(خاقاني)

**تسلا:**

ډاډ، اطمینان، یقین، باور.
خورا خوږ او ښکلی ښځینه نوم دی.

**تصویر:**

انځور، نقش، بت، صورت، عکس، څېره.
تصویر ډېر ښکلی هنري تخلص دی.

کــه د شــېریني پــه تــصویر کــي نــه یــې
چــا د فرهــاد کلنــگ تــه زور ورکــړی
کــه د مجنــون افــسانې نــه جــوړوې
چــا د دښــتونو پــر مــخ شــور کرلــی
(عبدالباري جهاني)

**تقدیر:**

اندازه، کچه، ستایل، ازل، سرنوشت، قسمت، نصیب، برخه.

ښه نرینه تخلص دی.

خپل تقدیر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
که کارونه حواله دي په تقدیر

**تکل:**

اراده، قصد، عزم.

تکل د هیواد د خوږ ژبي شاعر نظیف اله تکل تخلص دی.

تکل د تلو کړه طلب د ملو کړه
خواجه بندي شوې د نفس په لومه
(خوشحال ختک)

تکل د نرینه ماشوم لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**تلاښ:**

کوښښ، لټونه، غوښتنه، هڅه، بیړه، تلوار.

تلاښ هم ښه نوم دي او هم ښکلی او د ښې مانا لرونکی تخلص.

دا تلاښ زما د مرگ نه دی نو څه دی
چې گلگوني جامې اغوندې جانانه
(حمید مومند)

**تلپاتی:**

جاوید، دوامداره، نه مړ کېدونکی.

"تلپاته" نوی او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**تلوسه:**

بېتابي، هڅه، خواهش، غوښتنه، آرزو، هیله، بیړه، تلوار.

تلوسه د هری ښکلي نجلۍ لپاره ډېر ښکلی، ښخي نوی او خوږ نوم دی. رحمان بابا وايي:

که یار سل ځله وعدې د وصال وکړي
زه له ډېري تلوسې بې اعتقاد یم

**تماس:**

پیوند، سره موښلول، سره لګېدل، اړیکه، ارتباط، رابطه.

تماس لنډ او ښکلی نرینه تخلص او نوم دی.

**تمنا:**

هیله، امید، آرزو، خواهش، غوښتنه.

تمنا د نجونو اوزلمیا نو لپاره ښکلی او د ښې مانا لرونکی نوم او تخلص دی.

هغه زړونه چي ستا غم ته هوسېږي
د دوی دغه تمنا په نظر مه شه
(طاهر کلاچوی)

**تندر:**

تالنده، رعد، صاعقه.

په ترمخه کلونو کي تندر لکه توپان یوازی انقلابي تخلص و خو تندر د ماشوم لپاره ډېر ښکلی نوم هم دی.

تندرونه خوشحالېږي خدای دې خیر کړي
بیا د چا جاله جوړېږي خدای دې خیر کړي
(طاهر کلاچوی)

**تنده:**

اوبو ته هوسېدل، اوبو ته هوا کېدل، د يوه شي د ليدلو ژوره هيله.

تنده نوی نوم دی، ډېره ادبي او ښه مانا لري. دغه نوم ډېر لږ يا تر اوسه نه دی ايښودل سوی.

**تنکی:**

تازه، نازکه، نوې، نوې ټوکېدلې، نوې پيدا سوې، زرغونه سوې.

تنکيتوب و تازه والي او نرم توب ته هم وايي.

تنکی تر اندازې زيات ښکلی ښځينه نوم دی.

**تنها:**

تنا، يوازي، گوښي، ځانته، څړه. وړ نرينه نوم او تخلص دی.

حسينه گل تنها د لری پښتونخوا يو وتلی شاعر دی.

يا دی ښه زويک پيدا سی له ښه پلاره
يا دی هسی تنها اوسی بی اولاده
(خوشحال ختک)

**تنی:**

تني د پښتنو يوه قبيله ده، چي په پکتيا کي اوسېږي. د دغه ټبر يو شمېر روڼ اندي (روشنفکران) تنی تخلص کوي. خو زه تنی او اکثره قومي نومونه لکه ځاځی، ځدراڼ او نور د تخلصونو پر ځای د نومونو لپاره وړانديز کوم.

سپين تنی يو ځوان او وطنپالونکی ژورنالست دی چي اوس په لندن کي اوسېږي.

**توانا:**

زوره ور، غښتلي، پیاوړی، قوي، د طاقت خاوند. توانا د تخلص په توګه سته خو توانا خورا ښکلی او ښه مانا لرونکی ښځینه او نرینه نوم دی.

غمـزده پـه غـم کـي واړه توانـا دي
په دې ښار کي نیستکار او ناتوان نسته
(بیدل)

توانـا بـود هـر کـه دانـا بـود
بـه دانـش دل پیـر برنـا بـود
(سعدي)

**توبه:**

توبه په لغت کي له ګناه څخه پښېمانی ته وايي. د حق پر لاره سمېدنه. توبه د کندهار ولایت د معروف په ولسوالی کی د یوې سیمي او غره نوم توبه دي. توبه عربي کلیمه ده.

توبه لنډ او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

که منصور غوندي په دار او یا سنګسار شم
نسته دا چي ستا لـه میني توبـه ګـار شم
(حمید مومند)

**توپان:**

طوفان، سخت باد او سېلۍ.

توپان په پخوانیو کلونو کي یو انقلابي تخلص و. توپان ښکلی نرینه نوم دی.

**توپاني:**

طوفاني یا توپاني د توپان حالت ته وایي.

کاوون توپاني د پښتو ژبي خوږژبی او مبارز شاعر دی چي اوس په جرمني کي اوسېږي. د ده د شعر بېلګه:

خوله یې له شونډو په سلام اخلم
له خپله بخته انتقام اخلم
ساقي تندی دي راته مه ګنځوه
نن یې د مستو سترګو جام اخلم
زاهده ستا دي وي اغزني توبې
زه له غوټېو نه پیغام اخلم
د مخ کابل دي رانه مه سپموه
ناز دي په سترګو تر باګرام اخلم

**توتکۍ:**

یو ډول توره مرغۍ ده چي په بې آزاري شهرت لري.

توتکۍ د نجونو لپاره ښکلی، نوی او لنډ نوم دی.

**توتي – طوطي:**

توتا، طوطي یو ډول مرغه دی چي شنې ښکي لري. دغه مرغه په هندوستان کي ډېر پیدا کېږي او که آاموخته سي ډېري هغه کلیمې چي انسان یې ورته وایي تکرارولای سي.

**توتیا:**

دغه نوم په کندهار کي رواج دی. مانا یې د رنجو کانی او ډبره

ده. هغه کاڼی چې میده یې کړې رانجه سي او بیا سترګي په توریږي.
توري سترګي په پښتو ادب کي ښکلي سترګي وي.
توتیا ښکلي او نوی ښځینه نوم دی.

**توران:**

یو ډول کندهاري انګور دي. د تور جمع ته توران وایي. د اویستا د کتاب له مخي توران د آریایي ټبر یو ټکم دی چي په ماوراء النهر کي اوسېدی. توران ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**تورپېکی:**

د تور پېکي لرونکې نجلی، د تور پېکي څښتنه، سیاه مو، سیاه زلفان. ډېر ښکلی او رواج ښځینه نوم دی.

**تورجان:**

تور د سپین ضد رنګ ته وایي. په کندهار او ګاونډیو ولایتونو کي ډېر مشهور نوم یا لقب دی. توره یا تورجان اکثره غنم رنګه نجونو او زلمیانو ته وایي. دلته معمولاً تور د ناز په مانا دی.

توره مي مه بولي عالمه
زه توره نه یم مور په ناز بللې یمه

که یار مي تور دي څه پیغور دی
تور خو بورا دی چي ګلون بویوینه
(پښتو لنډۍ)

**تورن:**

تورن له تور څخه اخيستل سوی او د زړه ور، پهلوان او دلاور مانا لري. د افغانستان په عسکري سيستم کي يوه افسري رتبه ده چي له لومړي بريدمن څخه پورته او تر جګړن کښته ده (ټولی مشر).

تورن خورا ډېر ښکلی نرينه نوم دی.

**توريالی:**

تورزن، توريال، د پهلوان، غښتلي او زړه ور مانا لري. دغه کليمه د عربي (سياف) له کليمې سره انډول ده.

دغه ډېر ښکلی او خوندور نرينه نوم دی.

**تهذيب:**

پاکول، سوتره کول، ښه اخلاق، ښه سلوک، انسانيت، اخلاقي روزنه، لياقت، قابليت، وړتيا.

تهذيب ښکلی نرينه نوم او د ښې مانا لرونکې کليمه ده.

**تهمينه:**

د پارسي ادب د روايت له مخي تهمينه د سمنګان د پاچا لور، د پهلوان رستم ښځه او د سهراب مور وه. تهمينه درانی په فرانسوي ژبه د يوې مشهوري افغانی ناول ليکونکي نوم دی.

تهمينه ډېر ښکلی او تاريخي ښځينه نوم دی.

# ټ

**ټکر:**

تصادم، ډغره، ټنبېدل، ټمبېدل.

سردار علي ټکر د پښتونخوا نامتو سندرغاړی دی چې په لرو او برو پښتنو کې نوم لري. ده ډېرې انقلابي سندرې په تیره بیا د غني خان شعرونه کمپوز او ویلي دي.

ټکر د نامه په توګه ډېر خوږ، نوی او ښکلی نرینه نوم دی.

دوباره ټکر په مخ باندې راندې خوري
زه خو نه وایم و تا و ته چې کوره
(کاکاخېل)

**ټکور:**

ټپ، ټپ ورکونه، وجود ته په تاوده شي (مشکوله، خښته) ټپ ورکول، تودول، خوږ سوي اندام ته ټپ ورکول. ټکور له آره پنجابۍ کلیمه ده. افضل ټکور لیکوال، شاعر او اجتماعي شخصیت دی. دی په لندن کې د افغانستان د لیکوالو او شاعرانو د ټولنې مشر دی او هلته اوسېږي.

زه سیلاني د جمال نه یم لمبې مه سپموه
وزر مې ژر ټکوروه که نه وي ځم درڅخه
(عبدالباري جهاني)

**ټولواک:**

بادشاه، پاچا، سلطان، واکمن، ټولواکی.

ټولواک د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د افغانستان د پخواني پاچا ستاینوم (لقب) و.

ټولواک ډېر خوږ او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

**ټیک:**

چار ګل، د ښځو د تندي یوه ګاڼه ده.

ټیک ډېر ادبي، نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

ټیک دي پاچا پېزوان وزیر دی
دا لونګین لکه سالار په مخ کي ځینه
(پښتو لنډۍ)

رحمان بابا وایي:

د سرو ټیک دي شهزاده پر جبین پروت دی
شینکې خال دي محاصل په بند یوانو

**ټینګار:**

اصرار، تاکید، ټینګوالی، مقاومت، ثبات، کلکوالی.

سیدمحمد ټینګار د کابل د پوهنتون استاد او د افغانستان یو مبارز سیاسي شخصیت دی. ټینګار د ښې مانا لرونکی نرینه تخلص او ښکلی نوم دی.

# ث

**ثابت:**

ټينګ، کلک، روغ، سالم، مضبوط، پوخ، رښتياني، ثبوت سوی، منل سوی. عبدالجبار ثابت څو کاله پخوا د افغانستان لوی څارنوال و.

ثابت لنډه او د ښې مانا لرونکې کليمه ده او د کوچنيانو لپاره به ښکلی نوم وي.

د مات لو ښي آواز کله ثابت خېژي
د هر چا عمل څرګند پخپل ګفتار شي
(رحمان بابا)

**ثانيه-سانيه:**

ثانيه يا سانيه شېبه، د يوې دقيقې شپېتمه برخه وخت دی. همداسي ثانيه د ثاني يانې دويم ښځينه بڼه ده.

ثانيه د نجونو لپاره ډېر ښکلی او نوی نوم دی.

ثانيه ميرزا د هند د ټينس د سپورټ قهرمانه ده. دا په کال ۱۹۸٦ د هند په بمبيي کي زېږېدلې ده، پلار يې عمران ميرزا او مور يې نسيمه ميرزا نومېږي. دې د ۲۰۱۰ په اپريل کي د پاکستان د کريکټ د نامتو لوبغاړي شعيب ملک سره واده وکړ. دوی اوس په ډوبۍ کي اوسېږي.

**ثبات:**

**ثبات، قرار، پوخوالي، پایښت، ټینګوالي، متانت، کلکه اراده، استقرار او یو شانته والي ته وایي.**

پـه توبـه کـي هسي رنګـه ثبـات راکـړه
چـي توبـه مـي ماتـه نـه شـي دوبـاره
(خوشحال خټک)

**ثریا:**

**اووه ستوري، پېروني، پروین، اووه خویندي، د اوو ستورو جومبک. د افغانستان د وروستي امیر امان الله خان د مېرمني نوم ثریا و. د پروین کلیمه د پښتود پیروني څخه اخیستل سوی ده.**

**ثریا د پرښکلي ښځینه نوم او تخلص دی.**

**ثمر:**

**مېوه، ثمره، پایده، ګټه، بدله، عوض، نتیجه، محصول.**

**ثمر او ثمرجانه ښه ښځینه نوم او تخلص دی.**

چي يې درست صورت غلبېل شي په اغزيو
وبـه نـه خـوري د هغـې ونـي ثمـر
(رحمان بابا)

**خو "سمر" باید د ثمر سره ګډ نه سي. "سمر" افسانه، کیسه او مشهوره کېدل دي، کله چي یو څوک یا یو شی مشهوره سي او په کیسو کي راسی. سیما سمر د افغانستان د هزاره ملیت یوه پېژندلې ښځه ده.**

**ثمين:**

**ګران، قيمتي، د لوړي بيي او لوړ ارزښت لرونکی.**

**"ثمين" د پر ښکلی ښځينه نوم او تخلص دی.**

**ثنا:**

**ستاينه، تعريف، حمد، صفت.**

**د پر ښکلی ښځينه نوم دي.**

ثنا يې ډېره ده تر حساب تېره ده
څوک به يې کومه ثنا په ځای کا
(خوشحال خټک)

# ج

**جاذبه:**

جذبول، راکښول، هغه قوه چې نور جسمونه ځان ته راکشوي.
جاذبه نوی، د ښې مانا لرونکی او لنډ ښځینه نوم دی.

**جالب:**

د جلبولو له کلیمې څخه دي یانې ځانته راکښول. د جالب ټولنیزه مانا زړه وړونکې او دلچسپه ده.
جالب نوی او جلبوونکی نوم او تخلص دی.
حبیب جالب د بلوچستان د ملي ګوند مشر و چې د ۲۰۱۰ کال په جولای کې د کویټې په ښار کې ووژل سو.

**جاله – جاله وان:**

جاله د سیند څخه د پرېوتلو یوه وسیله ده چې اکثره د یوه یا څو مشکونو څخه جوړه سوې وي. جاله وان د جالې چلوونکی، د جالې خاوند، د کښتۍ چلوونکی، هغه څوک چې زړه ور وي او د ستونزو څخه نه ډارېږي.
"جاله" او جاله وان ښکلی ښځینه او نرینه نوم او تخلص دی.

**جام:**

کټوري، پیاله، هغه ګیلاس چې اوبه یا شراب پکښې څښل کېږي. له طلا یا سپینو زرو څخه جوړ سوي کټوري. چې اوبه یا شراب پکښې څښل کېږي. عارفان او صوفیان جام د عارف زړه بولي چې د معرفت له شرابو څخه ډک دی.

جام د غور په ولایت کې د یوې سیمې نوم دی چې ښکلی جګ منار یې شهرت لري.

جام ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

دغـــسې وختونـــه د توبـــو د مـــاتولو وي
جام او چې شراب وي یو ځو جمع وي رندان سره
(مطیع الله قریشي)

**جانان:**

په پښتو او پارسي ادب کې جانان معشوق او محبوب ته وایي. د دې کلیمې اصلي مانا داسې ده: هغه څوک چې د ډېرو خلکو (عاشقانو) ځانونه د هغه لپاره قربانېږي. یانې د ځانونو لپاره ځان. د ښکلي، زړه وړونکي او نازنین مانا هم لري.

یو مې د اصله څه رنګ ژړ دی
بل مې جانان په لاس کې راکړه ژړ ګلونه
(پښتو لنډۍ)

***

مـا دل بـروی دلکش جانانـه داده ایـم
ما جان به پیش شمع چو پروانه داده ایم
(شیون کابلی)

**جانباز:**

مېړنی، زړه ور، بهادر، سرتېری، ځان جارونکی، توريالی، تورزن، سرباز. جانباز نرينه نوم او تخلص دی.

**جاندار:**

ساه کښ، ژوندی سړی، روغ رمټ، جوړ او تکړه. د ډېر خوړ، ګران او زړه ته تېر مانا هم لري. "جاندارک" د (جاندار) کوچنی ښه ده، يانې ژوندی او هغه څه چي ځان لري. په پاړسي ژبه کي جاندارک راځي. جاندارک د نجلۍ لپاره نا در او نوی نوم دی. (البته جهاندار بله مانا لري).

**جان ګل:**

هغه څوک چي ځان او بدن يې لکه ګل داسي وي. ښکلی او ښايسته. جان ګل په ځينو سيمو کي بشپړ رواج نوم دی.

**جاويد:**

تل، تلپاتې، باقي، ابدي، دايمي.

اروانباد عبدالاحمد جاويد د پاړسي ژبي ليکوال او څېړونکی و چي د ژوند په وروستيو کي په لندن کي اوسېدی.

جاويد ډېر ښکلی او رواج نرينه نوم دی.

**جبين:**

تندی، د مخ پورته برخه.

په پښتو کي اکثره د ښځو نوم دی، خو کله د (ماه) ياني

سپوږمۍ کليمه ورسره پيوند کوي، لکه ماه جبين، گل جبين ياني چې مخ يا تندی يې د سپوږمۍ يا گل غوندي ښکلی وي.

په ختيځ عرفان کي اکثره طالع يا بخت په تندي پوري تړي. په پښتو کي جبين نرينه او په پارسي کي ښځينه نوم دی. جبينه به د نېکبختۍ ماشومی نوم وي.

دل نـام تـو بـر نگـين نويـسد
جـان نقـش تـو بـر جبـين نويـسد

(خاقاني)

**جديد:**

نوی، تازه، پاک او سوتره، د زاړه په ضد.

جديد ښکلی نوم دی، تر اوسه ډېر لږ ايښودل سوی دی.

**جرگه:**

غونډه، ټولی. جرگه هغه غونډه ده چې قبيلوي ستونزي پکښې حل او څېړل کېږي. خو مرکه بله مانا لري. په جرگه کي ستري او لويي مسيلې خو په مرکه کي وړې مسئلې حل کېږي.

جرگه او مرکه دواړه ډېر نادر او ښکلي ښځينه نومونه دي.

**جذبه:**

احساس، د احساساتو پارېدنه، جوش.

جذبه لکه جاذبه ښکلی، نوی او نادر ښځينه نوم دی.

**جسور:**

زړه ور، د جسارت خاوند.

تر اوسه ځينو مبارزو زلميانو جسور د تخلص په توګه کارولی دی. خو جسور ډېر وړ او مناسب نوم دی.

**جګړن:**

په زړو ادبي متنو کي د جنګيالی په مانا راغلی او نن سبا یوه عسکري رتبه ده. جګړن د جګتورن او ډګرمن تر منځ رتبه ده. خو جګړن د نرینه ماشومانو لپاره ښکلی نوم دی.

**جګرخون:**

ځګرخون، خواشیني، په کړاو اخته او کړېدونکی.

چي موندلی مي ډېر پس په جګرخون و
بد نصیب کړ هغه جام نسکور زما

جګرخون ښه تخلص دی نه نوم.

**جلوه:**

ځان ښکاره کول،د روښانه او ځلانده شي مثلاً د نور راڅرګندېدل. جلوه د پښتو د جوله (بڼه، څیره، شکل) کلیمې سره هم ګډه ریښه لري. د عارفانو او صوفیانو په اند جلوه د عارف پر زړه د خدای د نور ځلېدل دي چي هغه مین او عاشق کوي. هاتف اصفهاني وایي:

با صد هزار جلوه برون آمدی که من
با صد هزار دیده تما شا کنم ترا

جلوه د نجونو لپاره خورا ډېر ښکلی نوم او تخلص دی.

**جليا:**

**په اور سوی، وريت، کباب.**

**جليا ښکلی نرينه او ښځينه نوم دی. رحمان بابا وايي:**

نـه يـم خـوښ د سـرو گلونـو پـه صـحرا زه
خوښ يـم سـتا د مخ پـه اور بانـدي جليـا زه

**حميد جليا د افغانستان د تياتر وتلی کوميډين او ډاير کټر دی چي په کابل کي اوسېږي.**

**جمشيد:**

**جمشيد چي يما يې هم بولي د لرغوني بلخ پاچا و. ويل کېږی چي ده نژدې زر کاله کاله پخوا پاچهي کړې ده. ده د لومړی ځل لپاره د نوروز جشن رواج کړ. جمشيد ډېر رواج نرينه نوم دی. رحمان بابا وايي:**

کـه جمـشيد و کـه بهمـن و کـه کيقبـاد و
کـه نمـرود و کـه فرعـون و کـه شـداد و

**جميل ـ جميله:**

**جمال په عربي کي ښايست او جميل ښکلي او ښايسته ته وايي. جمال جميل او جميله دود سوي نومونه دي. خوشحال خټک وايي:**

هره ترکه چي ځان جوړ کا راښکاره شي
تـر جمـال يـې حـوري هـم نـه دي جميلـي

**جنبش:**

**حرکت، خوځېدنه، پرمختگ، خوځېدل، وړاندي تگ.**

داود جنبش د افغانستان استعداد لرونکی ژورنالیست، ژباړونکی او څېړندوی دی چې اوس په لندن کې اوسېږي او د بي بي سي ویاند دی. د نارینه لپاره د نامه په توګه جنبش خورا ډېر ښکلی، لنډ او نوی نوم دی.

**جنت:**

جنت هغه ځای ته وایي چې په بله نړۍ کې پرهېزناکه انسان تل تر تله ژوند پکښې کوي. جنت د نارینه وو لپاره ښکلی نوم دی. ځینې پښتانه د (ګل) کلیمه ورسره کوي یعنې د جنت د ګل غوندې ښایسته. څرنګه چې موږ تر اوسه جنت او د جنت ګل نه دی لیدلی، خامخا به ډېر ښکلی وي.

زاهد سترګې ترې پوښې زه ښکلي ګورم
کـه جنـت لـره مـې بیـایي دا جنجـال بـس
(خوشحال ختک)

**جوهر:**

جوهر د ګوهر اوښتې بڼه ده چې د یوه شي د اصل او ماهیت مانا لري. د یوه شي او چا ښېګڼه، کمال، صفت او خاصیت ته جوهر وایي. د ملغلرو او الماسو سوداګر (جوهري) بلل کېږي.

جوهر ښکلې نرینه او ښځینه نوم او تخلص دی.

**جوګه:**

لایق، مناسب، وړ، موزون.

ډېر لنډ، خوندور او د ښې مانا لرونکی پښتو نوم دی.

**جویا:**

جویا پلټونکي او تلاښ کوونکي ته وایي. هغه څوک چي تل خوځېږي. سرور جویا په ۱۹۵۰ لسیزه کي د افغانستان یو نامتو مبارز او ویناوال و چي د خپل ژوند ډېر عمر یې په زندان کي تېر کړی دی.

جویا د هر ماشوم لپاره نجلی وي که هلک ډېر ښه نوم دی.

**جوینده:**

پلټونکی، تلاښ کوونکی، طالب، غوښتونکی. د پارسي ژبي د (جستن) یا پلټني له مصدر څخه دی.

جوینده د افغانستان د راډیو تلوېزیون ځوان هنرمند دی چي د بریتانیا په لندن کي اوسېږي. جوینده ښکلی نوم او تخلص دی. پارسي متل دي، وایي: "جوینده یابنده".

تا مثل باشد که هر جوینده‌ء یابنده است
هر چه جوید خاطرت در هر زمان یابنده باد
(ابن یمین)

**جهان:**

د ځمکي او ټولو اسماني ستورو مجموعه، دنیا، گیتي، نړۍ او عالم.

جهان ښکلی نرینه نوم دی. اکثره نور پساوندونه او پېشاوندونه ورسره کوي، لکه شاه جهان، نور جهان او داسي نور.

بــه میــزان همــت جهـــان را بــسنج
کــه همــت جهـــان ســنج میــزان بــود
(خاقاني)

**جهان بلند:**

هغه څوک چي نړۍ په ودانه وي. چي په نړۍ کي لوړ نوم او مقام لري. جهان بلند او افتاب بلند په کندهار کي د پخوا څخه رواج نومونه وو.

**جهاندار:**

جهاندار و پاچا، د نړۍ ساتونکي او سلطان ته وايي. هغه څوک چي هېواد په ښه توګه اداره کوي. جهاندار نوی نرینه تخلص او ښځینه نوم دی.

**جهان آرا:**

جان آرا یا جهان آرا. جهان نړۍ ته وايي او آرا یعني سینګار. جهان آرا یعني ښکلې ښځه چي ټوله نړۍ، ښار، وطن، کور او کلی په ښایسته وي.

پخوا په کندهار کي د محمدزیو د ټبر ډېرو وتلو شخصیتونو پر خپلو لوڼو د جهان آرا، شهر آرا او داسي نور نومونه ایښودل.

دغه دواړه ډېر ښکلي ښځینه نومونه دي.

نه هرگز بر دلم دردی، نه بر خاطر مرا گردی
جهان را جمله آوردی به کامم ای جهان آرا

**جهانګیر:**

نړۍ نیوونکی، جهاندار، د نړۍ فتح کوونکی.

د مغلي سلسلې د یوه پاچا (نورالدین سلیم) لقب و.

جهانګیر ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**جهاني:**

نړيوال، د جهان، د نړۍ، د ټولې مځکې، د ټولو انسانانو.

عبدالباري جهاني د پښتو ژبې وتلی او خوږ ژبی معاصر شاعر دی. دی ډېرې شعري ټولګې لري. د افغانستان اوسنی ملي سرود هم ده ليکلی دی. جهاني د کندهار دی او اوس په امريکا کې اوسېږي. (د نومونو په دغه لارښود کې د ده د شعر ډېرې بېلګې سته).

**جيحون:**

د آمو سيند ته وايي. دغه درياب د افغانستان په شمالي پوله کې بهېږي، د پامير د يخچالو څخه سرچينه نيسي او د ويکټوريا د جهيل څخه د يورال تر جهيله پوري ۲۵۰۰ کيلومتره اوږدوالی لري. مرستيالان يې د کندوز (کوکچې)، (مرغاب)، (اوشان) او (کافرنهان) سيندونه دي.

جيحون ډېر ښايسته نرينه نوم او تخلص دی.

عمر خيام د جيحون نوم په لاندې څلوريزه کې داسې ښکلی بيان کړی دی:

گردون، نگری زقد فرسودهٔ ماست
جيحون، اثری زاشک پالودهٔ ماست
دوزخ، شرری زرنج بيهودهٔ ماست
فردوس، دمی زبخت آسودهٔ ماست

# چ

**چارواک:**

د پاچا، واکمن او زمامدار مانا لري.
چارواک تر ټولو ښکلی او نوی نرینه نوم دی.

**چارګل:**

چارګل یا ټیک د ښځو هغه پسول او ګاڼه ده چې په پزه کوي يې. چارګل نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**چترال:**

چترال د پښتونخوا د یوې ضلعې نوم دی.
چترال خورا ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

چیرته لندن، چیرته چترال دی
بې ننګې زور سوه پرنګیان چترال ته ځینه
(پښتو لنډی)

**څراغ:**

ډیوه، هغه آله چې په تیاره کې رڼا جوړوي. څراغ د روښنایۍ مانا لري او د تیارې ضد دی.

د کوچني لپاره څراغ نوی، ښکلی او ادبي نوم دی.

په څراغ کي تجلی کا و پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره شي په نسرين کي
(عبدالقادر ختک)

**چمبېلی:**

د چمبېل کوچنۍ بڼه ده. چمبېلی یو ډول مشهور خوشبویه ګل دی چي ژړ او سپین ګلان کوي.

قاضي مطیع الله چمبیلې د پښتو تکړه لیکوال او شاعر دی.

چمبېلی ډېر ښکلی، لنډ، شاعرانه او ادبي نوم دی.

**چمتو:**

تیار، آماده او تکړه.

چمتو هم نوم او هم تخلص دی.

**څمکلۍ - چمکلۍ:**

د ښځو یوه ګاڼه (پسول) ده چي په غاړه کوي یې.

دغه ډېر ښایسته ښځینه نوم دی.

**چمن:**

چمن هغه ورشو ته وايي چي هوار وابښه پکښې شنه وي او خلک د ساتېري لپاره ورځي. چمن د کندهار د سپین بولدک او کوئټې تر منځ د یوې سیمې نوم دی.

چمن د نوم په توګه په کندهار کي له پخوا څخه رواج و.

**چنار - چناره:**

چنار، سپېدار. چنار یو ډول مشهوره جګه ونه ده، چي غټي او پلني پاڼي لري. په پښتو ادب کي د معشوق قد د چنار د جګوالي سره پرتله کوي.

چناره په کندهار او شاوخوا سیمو کي د نجونو لپاره رواج نوم دی. چنار او چناره ډېر ښکلي نرینه او ښځینه نوم دی.

**چوپان:**

شپون، هغه څوک چي د پسونو رمه ساتي او روزنه یې کوي.

چوپان ډېر ښکلی نوم او د خورا ښې مانا لرونکی تخلص دی.

**چوټي - چوټی:**

د ښځي د سر ورېښتان چي ښي او کیڼي خوا ته یې را ایله او اودلي سوي، خو (کوڅی) سوي نه وي. پارسي بڼه یې چوټی دی.

دغه نوم د یوې مؤسسې مثلاً د ښځو د ښکلا د سالون لپاره ښکلی نوم دی.

**چونغر:**

د یوه غره نوم دی. چونغر د سلیمان لایق د شعرونو لومړی او خورا ښه شعري ټولګه ده چي په ۱۳۴۱ کال کي چاپ سوې ده. د لایق د چونغر ترانې ډېري مشهوري دي.

چونغر بېخي ښکلی نرینه نوم دی.

# ځ

**ځانګړی:**

یوازي، یوازنی، بېل، جلا، ګوښي، الایده، ځانله، ځانته. ځانګړی، د مستقل، خپلواک، مشخص، مخصوص او ممتاز ماناوي هم لري.

ځانګړی ډېر غوره نرینه نوم او تخلص دی.

**ځاځی:**

د پښتنو د یوې مشهوري قبیلې نوم دی چي د پکتیا په ولایت کي اوسېږي. ځاځی د ځینو ځاځیانو تخلص دی. خو (ځاځی) د هر افغان د بچي لپاره ښکلی نوم کېدای سي. کله چي پاړسی ژبو دا نوم ایښی وي نو (جاجي) یې تلفظ کوي او ډېر خوندور سي.

**ځدراڼ:**

ځدراڼ د پښتنو د یوې مشهوري قبیلې نوم دی چي د پکتیا په ولایت کي اوسېږي. ځدراڼ د دغي قبیلې ډېرو غړو د خپل تخلص په توګه غوره کړی دی. خو په ټېنګه وړاندیز کېږي چي ځدراڼ د ماشومانو د نوم په توګه کښېښودل سي. کله چي پاړسي ژبو دغه نوم پر خپلو زامنو ایښی دی (جدران) یې تلفظ کوي او لا خوږ سي.

**ځل:**

ځلا، برېښېدل.

ځل يو مناسب نرينه نوم او تخلص دی. مل پاسوال نوراله ځل د پوليسو اکاډېمۍ پخوانی استاد دی.

**ځلا:**

ځلا د (ځل) ښځينه بڼه ده چې د ځلېدلو او برېښېدلو مانا لري.

ځلا د نجونو لپاره ښه نوم او تخلص دی. دغه نوم اوس د کندهار په خلکو کې خورا ډېر دود سوی دی.

**ځلاند:**

ځلاند، ځلېدونکی، برېښېدونکی، ځلا لرونکی، روڼ، روښانه، ځلبل.

ځلاند د ماشوم لپاره ډېر لنډ، نوی، ښکلی او ادبي نوم دی.

ځلاند د افغانستان د راډيو تلوېزيون نوموتی کمپوزيتور او سندرغاړی دی. سارا ځلاند د ده مېرمن هم مشهوره سندرغاړې ده.

**ځواکمن:**

ځواک و توان، قوت او طاقت ته وايي. نو ځواک او ځواکمن لکه واک او واکمن داسي مانا لري او ښکلي پښتو نومونه دي. پوهنوال رحمت الله ځواکمن شاعر ليکوال او د ننګرهار پوهنتون استاد دی.

**ځيګر:**

جګر، اينه، ټټر، سينه. همداسي ځيګر د زړه ورتيا او مېړاني مانا

هم لري. ځیگر ښکلی نرینه نوم دي. ځیگر اپریدی د پښتو ژبي تکړه شاعر دی چي اوس په امریکا کي اوسېږي.

**ځیر :**

متوجه، تېز نظره، باریک بین.

ځیر د پر نوی، فلسفي او ادبي نرینه نوم او تخلص دی.

**ځیرمن :**

هغه څوک چي ځیرک، هوښیار، باریک بین او پوه وي.

ځیرمن لکه ځیرک ډیر ښکلی ادبي نرینه نوم دی.

# څ

**څار:**

تلاښ، لټون، مراقبت، ساتنه، څارنه.

ښه تخلص دی خو د نامه په توګه ډېر ښکلی نه برېښي.

**څارن:**

څارند، کنټرولر، ثبتونکی.

څارن د پولیسو د افسري رتبو نه یوه رتبه ده. څارن د عسکري تورن انډول او په زړه پوري نرینه تخلص دی.

**څانګه:**

ښاخ، د ګلو ښاخله.

د نجونو لپاره څانګه ډېر ګلالی او خوږ ښځینه نوم دی.

**څاڅکی:**

ټکی، قطره، د باران یوه ډېره وړه ټوټه. په ځینو پښتنو کي څاڅکی د خوږوالي، قدرمني، ګرانښت او میني ماناوي هم لري.

څاڅکی هر وخت د پاکو اوبو یوه قطره ده، څاڅکی ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**څپاند:**

هغه سیند یا دریاب چې څپې وهي. په مجازی مانا څپاند یاني تلاښ کوونکی، نوښتګر او کوښښ کوونکی.

عبدالوهاب څپاند د افغانستان یو فعال مبارز سیاسی او ټولنیز شخصیت دی چې اوس په لندن کې اوسېږي.

**څپه:**

موج، څپه، د اوبو څپه، رپېدنه، غورځنګ.

څپه یو پښتو نوی، ادبي او خوږ ښځینه نوم دی.

**څراغ:**

چراغ، ډېوه، هغه آله چې د شپې له خوا یا په تیاره کې روڼا کوي.

په څراغ کې تجلا کاندي پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره سي په نسرین کې
(عبدالقادر خټک)

څراغ ښکلی ادبي نرینه تخلص او نوم دی.

**څرک:**

راښکاره کېدنه، رابرسېره کېدنه (لکه د لمر سترګه)، نخښه، نښانه، دَرک، لټه، پته او سراغ ته هم وایي. څرک خورا ښکلی، لنډ او ادبي نرینه نوم او د ښې مانا لرونکی تخلص هم دی.

**څرګند:**

ښکاره، ظاهر، جوت، معلوم، اوڅار.

څوک مي څه پوښتي چي يار در سره څه کا
خـــود پخپلـــه حـــال څرګنـــد دی د رنځلـــو

(علي خان)

**څرګند نوی نوم او په زړه پوري نرينه تخلص دی.**

# ح

**حادثه:**

پېښه، نوې پېښه، واقعه، پېښېدنه.

حادثه نوی او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**حافظ:**

ساتونکی، په یاد کوونکی، چا چې څه په یاد زده کړي او حافظې ته یې سپارلي وي. په افغانستان کی حافظ د قرآن مجید قاري ته هم وایي.

خواجه حافظ شیرازي د پارسي ژبي تر ټولو نامتو او خوږ ژبی شاعر دی چې نړیوال شهرت لري او په اتمه هجري پېړۍ کي یې ژوند کاوه.

په پښتو ادب کي حافظ الپوري د پښتو یو ستر او نومیالی شاعر و، چې په سوات کي اوسېدی.

نصرالله حافظ د افغانستان وتلي غزلبول شاعر دی چې په لسګونو شعري او ادبي ټولګې یې چاپ سوي دي.

**حساس:**

ژر پوهېدونکی، ژر درک کوونکی او کله کله هم د اندک رنجه ماناوی لري. حساس ښه تخلص دی خو حساس به ډېر ښکلی نرینه

نوم وي.

**حله:**

حله عربي کليمه ده او د نوو کاليو يا جامو مانا لري، هغه کالي چي ټوله بدن په پټ سي. ځيني کتابونه هغه د وريښمو کالي يا جامې مانا کوي. حله ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

با کاروان حله برفتم زسيستان
با حله تنيده زدل، بافته زجان
(فرخي)
در چين نه همه حرير بافند
که حله گهی از حصير بافند
(نظامي)

**حماسه:**

زړه ورتوب، شجاعت، مېړنيتوب.

حماسه د نجلۍ لپاره خورا ښايسته او د ښې مانا لرونکی نوم دی.

حماسه کوهستانۍ هغه ډېره ښکلې نجلۍ ده چي پر ۲۰۰۵ کال د لندن د ښکلا ملکه سوه. حماسه کوهستاني په خته د کوهستان صافۍ ده، په لندن کي اوسېږي او د ډېرو هنري استعدادونو او نوښتونو څښتنه ده.

**حمزه:**

زمری، اسد دغه نوم عربي ريښه لري. حمزه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د تره او اصحابي نوم و.

پښتنو ليکوالو او شاعرانو ته د حمزه د نامه بل ډېر اهميت د

حمزه شینواري له کبله دی. حمزه شینواری د پښتو د اوسني نوي غزل (پلار) دی. ده خپل ټول اویا کاله ژوند د پښتو غزل په چوپړ کي تېر کړ دی. دې پښتو غزل ته وایي:

ستا په اننگو کي د حمزه د وینو سره دي
ته شوې ای پښتو غزلی ځوان زه دي بابا کړمه

***

د حمزه شینواري د غزلو شمېر تر لسو زرو زیات دی.

پښتانه په ډېر افتخار خپل ماشومان د حمزه شینواري په ویاړ حمزه نوموي.

**حنا:**

په عربي کي نکریزو ته وایي.

حنا یا نکریزي یو بوټی دی چي د دوو مترو په اندازه جگوالی لري، پاڼي یې د انارو پاڼو ته ورته او سپین گلان کوي او ډېر ښه بوی یې ځي. پاڼي یې میده کوي او د لاسونو، پښو او ورېښتانو د رنگولو لپاره کار ځني اخلي.

**حوره:**

حوره د حوراء لنډیز دی.

په عربي ژبه کي حوراء او حوره هغه ښکلي ښځي ته وایي چي توري سترگي، سپین بدن او تنگي گردې سترگي ولري. په جنت کي هره ښکلې ښځه حوره بلل سوې ده چي پښتو جمع یې حوري کېږي. حوره ښکلې ښځینه نوم دی.

د زاهد هیله د حورو او قصور ده
عاشقان یې و دیدن ته تمنا کا

(خوشحال ختک)

د جنت د ښکلو حورو په هوس کي
یو کافر په سپینه ږیره مسلمان سو

**حوصله:**

زغم، صبر، تحمل.

حوصله نوی، تازه او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

باید په یاد ولرو چي ښځه مور ده، مور حتماً حوصله لري او ځومره به ښه وي چي نوم یې هم حوصله سي.

# خ

**خالداره:**

خال داغ او دانه په تېره بیا پر بدن او مخ تور ټکي ته وايي. په پښتو ادب کي خال پر تندي وي یا پر باړخو. د تندي خال وهل کېږي خو د باړخو خال اکثره خدايي وي. خال د مخ ښکلا زیاتوي. خالداره هغه ښځه ده چي پر مخ يې ښکلی خال وي.

خالداره ډېر ښکلی او ادبي ښځینه نوم دی. د خالداري کوچنی بڼه (خالو) ده.

**خاموش:**

چوپ، غلی، آرام، کرار.

خاموش ښه نرینه تخلص دی چي ډېر غوره اخلاقي او ادبي مانا لري.

**خانمیر:**

په پښتنو کي رواج نوم دی چي د (خان) او (میر) د کلمو څخه جوړ سوی دی او د لوی خان او مشر خان مانا لري.

ډاکټر خانمیر غیور د افغانستان یو استعداد لرونکی او مبارز شخصیت دی. همداسي خانمیر هلالی په لره پښتونخوا کي د پښتو مهالنیو بنسټ ایښودونکی و.

**خاور ـ خاوري:**

خاور ختیځ ته وايي يعني هغه لوري چي لمر ځني راخيژي.

خاور ښه نوم او خاوري دود سوی تخلص دی.

از ملاقات تو تا حشر به خود می لرزد
سر زخاور که برون مهر جهانگیر کشید
کس ازین بیشه سلامت نبرد جان هرگز
شیر را آهوی چشم تو به زنجیر کشید
(طواف کابلی)

**خاټول:**

لاله، شندي ګل، شوندي ګل، يو ډول ښکلی او مشهوره ګل دی. ځيني يې غاټول بولي.

خاټول يا غاټول له پخوا څخه د نجونو د نامه په توګه رواج و. خاټول ډېر ښايسته ښځينه نوم دی.

**ختيځ:**

لمرخاته، شرق، خاور او د لمر د راوتلو ځای. په سياسي لحاظ ټولو هغو هيوادونو او مجمع الجزاير ته چي د اروپا په ختيځ کي پراته دي ختيځ وايې.

ختيځ بيخي ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**خټک:**

د پښتنو د يوې نامتو قبيلې نوم دی. په دغه ټبر کي د پښتو او پاړسي ژبو خورا ډېر شاعران تېر سوي دي. خوشحال خان خټک،

عبدالقادر خټک، او په پای کي اجمل خټک چي څه موده پخوا له نړۍ څخه ولاړ.

خوشحال خټک د پښتو د شعر بنسټ ایښوونکی دی.

د ازبک کره چي وزېږي ازبک شي
د خوشحال کره چي وزېږي خټک شي

**خزان:**

منی، د کال دریم یا د دوبي او ژمي تر منځ موسم دي. د مړاوي او رژېدلي مانا هم لري. خزان هم ښکلی نوم او هم ښکلی تخلص دي. عارف خزان د پښتو ژبي ډېر نازکخیاله شاعر دي چي اوس په مسکو کي اوسېږي.

لکه ونه مستقیم پر خپل مکان یم
که خزان رابانديراسي که بهار
(رحمان بابا)

**خزانه:**

زېرمه، د سیکو زېرمه، د سرو او سپینو زېرمه، د پیسو زېرمه.

خزانه تر ټولو ښکلې او د خورا ښې مانا لرونکی ادبي نوم دی.

**خسرو:**

پاچا، لوی پاچا، د څلورو ساساني پاچهانو نوم و. په پارسي فولکلوري ادب کي خسرو د شیریني مین او عاشق دی.

خسرو سنګروال د پښتو ژبي ځوان او تکړه شاعر دی. دی په لندن کي اوسېږي او د طب ډاکټر دی.

**خمار – خماري:**

نشه، نېشه، مسته. د سرو سترګو او ښکلی مانا وي هم لري.
خمار او خماري دواړه ښه ښځینه نوم او تخلص دی.

اوس به دي یو موټی ایرې کړم
که خماري سترګي په ناز در واړومه
(پښتو لنډۍ)

**خمټ:**

چاغ او شلنډ ته وایي، په غوښه پټ.
په پخوا وختونو کي د اوس زمانې برعکس چاغوالی موډ و.
خمټ ښکلی نرینه نوم دی.

**خنجر:**

د چړې په اندازه یوه غوڅوونکې آله ده چي دواړي خواوي یې تېرې او سر یې کوږ وي. خنجر نوی او ښکلی نرینه نوم دی.

**خندا:**

د ښادۍ او خوشحالۍ په وخت کي د شونډو غوړېدل دي چي اکثره بړغ هم ورسره وي. خندا د ژړا په ضد کلیمه ده. خندا عامه کلیمه خو مسکا وړه خندا ده. خندا د نجونو لپاره ښکلی، ادبي او نوی نوم دی.

**خندان:**

خوشحاله، خنده رویه، مسکی، ورین، خنداوو.
خندان ښه نوم او تخلص دی خو د نوم په توګه ډېر نوی دی.

**خواخوږی:**

همدردي، زړه سوی، زړه سواندي، غمشريکي، د چا سره د زړه حال شريکول، د چا په غم او ښادي کې ګډون کول.

اروانباد محمدابراهيم خواخوږی په کندهار کي د ويښ زلميانو د دورې يو مهربانه او مبارز شخصيت و. موږ د نامهٔ په توګه د خواخوږي د نامه سپارښتنه کوو، ډېر ښکلی او د ښې مانا لرونکی نرينه نوم دی.

**خواځک:**

خواځک يا خوازک په پکتيا کي د يوه پښتني ټبر نوم دی. (خواځک) د ټولو پښتني سيمو لپاره ښکلی نرينه نوم کېدای سي.

**خوبان ـ خوبا:**

خوبا، شهی، معشوقه، محبوبه، شها، شهو.

خوبان د خوبا جمع ده، خوبا ډېر ښکلی ښځينه نوم دی. خوبان د جانان پر وزن هم ښکلی نارينه نوم دی، په تېره بيا په پارسي ژبي سيمو کي (خوبان) تر (خوبا) روان اور واج دی.

**خورشيد:**

لمر او افتاب ته وايي. لمر هغه ستوری دی چي ټوله نړۍ په روښانه کېږي. خورشيد ډېر مناسب نوم او تخلص دی.

**خوشحال:**

خوښ، خوشحاله. خوشحال د پښتو ژبي د يوه ستر او وتلي

شاعر خوشحال ختټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) نوم دي چي د توري او قلم خاوند و. خوشحال ختټک په پاړسي ژبه هم بشپړ دېوان لري چي د افغانستان د علومو اکاډیمۍ خپور کړی دی. ده په پاړسي شعرونو کي کله ناکله روهي یا کوهي تخلص کاوه.

د افغـان پـه ننـگ مـي وتړلـه تـوره
ننگیـالی د زمانې خوشحال ختټک یم

خوشحال ښکلی، دود سوی او ادبي نرینه نوم دی.

**خوشبو:**

یعني د ښه بوی خاوند، د ښه بوی لرونکی.

خوشبو د یو ډول مشهوري مېوې نوم دی چي د مالټې او سنترې غوندي ښه لري، خو ډېر ښه بوی ورکوي. خوشبو د نجونو لپاره ښکلی او نوی نوم دی.

خوشبو یوه ډېره ښکلې هندۍ مسلمانه نجلۍ ده چي د لندن د HSBC په بانک کي کار کوي.

گلیست خرم و خندان و تازه و خوشبو
ولی امید ثباتش چنانکه دانی نیست
(سعدی)

**خوشبین:**

خوشدل، نېک بین. خوشبین، د بدبین ضد دی. په کندهار کي د خوشبین په تخلص یو ښوونکی پېژنم.

خوشبین ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**خوشه چین:**

د باغوان مانا لري. یعني هغه څوک چي په باغ کي له تاک څخه انګور (خوشې) راټولوي. مناسب تخلص دی.

**خولګۍ:**

خولګۍ د خولې د ناز او کوچنیتوب بڼه ده.

د یوې ښکلي نجلۍ لپاره خولګۍ د نړۍ تر ټولو نومونو ښکلي او خوندور نوم دی. که ما ته پاک خدای بله لور راکولای حتماً مي خولګۍ نوموله.

**خوږلن:**

پوړندي او تر ایرو لاندي اوږ. خوږلن ښکلی تخلص دی.

هیڅ باور راباندي نه شي د خوبانو
که منډم ورته په اور په خوږلن لاس
(علي خان)

**خوږمن:**

دردمن، دردېدلی، زخمي سوی او خوږ سوي ته وايي. د همدردۍ او خواخوږۍ مانا هم لري. زما په اند خوږمن ډېر ښکلي تخلص دی.

**خوږه:**

د خوږ ښځینه بڼه، بوره، پلمېټ، هغه څه چي خوندور وي.

په کندهار کي د نامتو شاعر او ټوکي عبدالرؤف مخلص د زوی نوم (خوږه) دی چي اوس په کویټه کي اوسېږي. مګر دلته یې د

نجونو د نوم په توګه سپارښتنه کوم.

خوږه نوی او ښځي خوږ نوم دی.

**خیال:**

فکر، سوچ، تصور، پام، ګومان او وهم دی. خیال په ذهن کي د هغو شیانو ذهني صورت دی چي تر مخه لیدل سوي وي.

حفیظ الله خیال د راډیو تلوېزیون خوږ آوازه کمپوزیتور او سندرغاړی دی چي اوس په امریکا کي اوسېږي.

خیال کله نا کله د ویاړ او ساماني مانا هم لري.

خیال د هغي دی چي شوخه شنګه وي
شونډي يې شهد په مخ ګلرنګه وي
(خوشحال ختک)

زما د خیال وزر ته مه ایږده دامونه
دا یوسف له زندانو سره آشنا دی
(عبدالباري جهاني)

خیال ښکلی نرینه نوم دی.

**خیالور:**

خیال جن، د فکر خاوند، ویاړمن، مغرور، سینګاری، پېشني، ډولي. خیالور په پښتني سیمو کي وړ لقب دی او ښځینه څېره يې خیالوره ده چي دواړه مناسب نومونه دي.

**خیالي:**

د خیال، فکري، تصوري، ویاړ کوونکی، ډولي، سینګاري،

پېشيني. خيالجن، خيالمن.

خيالو ډولي او سينګاري ښځي ته وايي. ګرانه او محبوبا مانا هم لري. خيالي د تخلص لپاره وړ کليمه ده.

**خيبر:**

د خيبر دره د افغانستان په ختيځ کي د يوې ښکلي، تاريخي او حماسي درې نوم دی. مير اکبر خيبر په ۱۹۸۰ کلونو کي د افغانستان يو نامتو سياسي او ټولنيز شخصيت و. ده په ډېره پوهه او کمينې شهرت درلود او د نامالومه چا له خوا ووژل سو. خيبر اوس د ډېرو زلميانو نوم دی. زما مشر زوی هم خيبر نومېږي.

خيبر ډير ښکلی پښتو نوم دی.

# د

**داستان:**

**کیسه، نکل، افسانه، ناول.**

**داستان ادبي نرینه نوم او حتی تخلص کېدای سي.**

**دانا:**

**عاقل، پوه، هوښیار، فاضل، زیرک او عالم.**

"اور له خپله سره وژنه که دانا یې"

(پښتو متل)

یا سخن دانسته گو ای مرد دانا یا خموش

(حافظ)

**دانا ښه نوم او تخلص دی.**

**دانش:**

**پوهه، هوښیاري، زیرکي او فضیلت.**

**د دانش کتاب خپرولو مؤسسه په پښتنو کي ډېر شهرت لري. رئیس یې اسدالله دانش دی.**

**دانش ښه نرینه نوم دی.**

**دراني - درانۍ:**

دراني (نرينه) او درانۍ (ښځينه) د پښتنو ددرانيو د ټبرغړي دي چي ابدالي يې هم بولي. دغه د زلميانو او نجونو لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**درخانۍ:**

چي د ناز او کوچنۍ بڼه يې درخو ده، د پښتو په فولکلوريکه کيسه (آدم او درخانۍ) کي د آدم خان مَيَنَه وه.

نور دي درخو په نقابونو کي ځواني تېروي
د آدم خان د ربابونو لاري بندي سولې
(عبدالباري جهاني)

درخانۍ ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**درخشان:**

د روښانه، ځلېدونکي او تابان مانا لري.

درخشان ښکلی نرينه او ښځنه تخلص او نوم دی.

**دردانه:**

د ملغلرو دانه، قيمتي، ډېره ښه.

دردانه ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**دردمن:**

خوږ، سوی، خوږمن، دردېدلی، درد ور رسېدلی.

دردمند يا درد من وړ نرينه تخلص دی.

**درمان:**

دوا، درمل، چاره او علاج.

مناسب تخلص او نوم دی.

**درمل:**

دوا، چاره، علاج او درمان ته وايي. ډاکټر آدم خان درمل په کندهار کی یو زړه سوانده ډاکټر و.

درمل ښه نوم او تخلص دی.

**درنه:**

د (درانه) د کليمې ښځينه بڼه ده. د باعزته او سنګينې مانا لري. درنه ډېر ښکلی او نوی ښځينه نوم دی.

**درویش:**

فقير، قلندر، بېنوا، ملنګ، نېستمن، قانع، ګوښه نشينه.

درويش درانې د پښتوژبی وتلی غزلبول شاعر دی.

درويش مناسب نرينه تخلص دی.

**دريا:**

بحر، سمندر، درياب، رود، سيند.

فرهاد دريا د پښتو او پارسي ژبي ډېر نامتو او خوږ آوازه سندرغاړی دی. (درياخان) په لسمه هجري پېړۍ کي يو نامتو سياسي شخصيت و.

دريا ډېر خوږ نرينه نوم دی.

**دریځ:**

د نظر، موقف او روش او همداسی د منبر، محراب او ستېج (د بیانیې ورکولو او نمایش ځای) مفهوم لري.

دریځ ښه نوم او تخلص دی.

**دښتي/دشتي:**

هغه کس چي په دښت کي زېږېدلي او ستر سوی وی. صحرایي، دښتي، بیاباني.

یوازي د تخلص په توګه ښه مانا لري.

**دل افروز:**

زړه روښانه کوونکی، هغه څوک چي د چا زړه په ښاد او خوشحاله کېږي.

یا رب این شمع دل افروز زکاشانهٔ کیست
جان ما سوخت بپرسید که جانانهٔ کیست
(حافظ)

**دل آرا:**

زړه خوشحاله کوونکې، معشوق، محبوب، آشنا، دوست، هغه څوک چي زړه یا زړونه په خوشحاله کېږي.

بې روی دل آرای تو ای شمع دل افروز
دل رقص کنان بر سر آتش چو کباب است
(حافظ)

دل آرا ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**دل آرام:**

زړه آراموونکی، معشوق، آشنا، دوست.

د افغانستان په جنوب لوېديځ کي يوه ښار ته هم دلارام وايي.

دل آرام ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**دلاور:**

زړه ور، زمری، سر تېر، مېړه.

دلاور وړ نرينه نوم او تخلص دی.

**دلبر:**

زړه وړونکی، ښکلی، معشوق، محبوب، ډېر گران.

د ماشومانو لپاره ډېر لنډ، ښکلی او د ښې مانا لرونکی نوم دی.

که شاهي ده که مې سر
تول به جار کړم تر دلبر
(احمدشاه بابا)

**دلدار:**

دلدار لږ ترلږه دوې ما ناوې لري: زړه لرونکي او زړه ساتونکي. هغه څوک چي د زړه ډاډ په کېږي، زړه سواند او دلنواز. دلدار نړيوال شينواري يو ليکوال دی.

دلدار نرينه نوم او تخلص دی.

زلف تو که هم دلبر و هم دلدار است
هندو دزد است و پاسبانی داند
(کمال اسماعيل)

زان غمزهٔ دود افگن اتش فکنی در من
هم دل شکنی هم تن دلدار چنین خوشتر
(خاقانی)

**دلربا:**

زړه وړونکې، زړه غلا کوونکې، ډېره ښکلې.
دلربا ډېر نوی او ښه ښځینه نوم دی.

**دلشاد - دلشاده:**

هغه چې زړه په ښاد ېږي.
نوی، مانا لرونکی او ښکلی نرینه او ښځینه نوم دی.

**دلیر:**

زړ ور، زمری، سرتېر، مېړه، غیرتي.
دلي وړ نوم او تخلص دی.

**دلیل:**

ثبوت، برهان، حجت، هغه څه چې د یوې موضوع د ثبوت لپاره راوړل کېږي. دلیل ښه نوم کېدای سي. خو (دلیلي) یعني د دلیل، د برهان، پر دلیل برابر، یقیني، ثابت، د دلیل وړ مانا لري. دلیل ښه کلیمه او ښکلی تخلص دی.

**دنګه:**

لوړه، جګه، د لوړي وني خاونده، د جګ قد څښتنه.
دنګه تر اندازې زیات ښکلی او ادبي نوم دی.

**دنیا:**

**نړۍ، جهان، دارايي، شتمني.**

**دنیا ښکلی علمي او ادبي نوم دی چې په پاړسي او پښتو کې يو ډول ماناوي لري.**

**رحمان بابا وايي:**

دنیادار کـه مـستغني پـه سـیم و زر دی
هنرمنـدو سـره گـنج د خپـل هنـر دی

**دنیاگۍ:**

**د دنیا یا نړۍ د ناز بڼه ده او ډېره ښه مانا لري. د دنیاگۍ په بڼه کې دنیا پښتو ځیره مومي. دنیاگۍ نوی ښځینه نوم دی.**

دنیا د سود پر لور کږه ده
نجوني د هغو یاري کړي چې سود من وینه
(پښتو لنډۍ)

د دنیاگۍ بازاره وران سې
چې یو ساعت دي خوشحالي ده بیا غمونه
(پښتو لنډۍ)

**دوران:**

**دور، وخت، زمانه، خوځېدنه، جریان، حرکت، گردش، زمانه.**

**دوران د نامه په توگه ښکلې مانا لري خو دوران مناسب تخلص هم دی. دوران د افغانستان هغه هواباز و چې ډېر کلونه پخوا یې سپوږمۍ ته د سفر تکل وکړ؛ خو عملاً عبدالاحد مومند په دغه کار بریالی سو.**

**دیانا:**

دیانا یا ډیانا په رومي اساطیرو کي د سپوږمۍ، ښکار او د زېږولو پر وخت د میندو مرسته کوونکې رب النوع وه. یونانیانو ارتمیس بلله. دیانا د انګلستان یوه ښکلې شهزادګۍ او د اوسنۍ ملکې د زوی شهزاده چالس پخوانۍ مېرمن وه. دیانا لومړنۍ شهزادګۍ وه چي د روغبړ پر وخت یې عادي خلکو ته لاس ورکاوه. دیانا په ۱۹۹۷ کال کي په فرانسه کي د یوې ترافیکي پېښي له کبله مړه یا ووژل سوه. د دې په مرګ ټوله انګرېزان او د نړۍ ډېر آزادي خوښوونکي خلک خواشیني سول.

اوس دیانا په نړۍ کي ډېر مشهور نوم دی او افغانانو هم ډېر خوښ کړی دی.

**دیانا ته**

خدای ته په کار سوله د حسن ځولۍ
د فرشتو له کوره تللې غوټۍ
د آدم لور او د حوا ناوکۍ
د جنتونو راوتلې شهۍ
نوري دي نه زړدي پر اغزنه مځکه
له نوره جوړي سپیني سپیني پاپۍ
(عبدالباري جهاني)

**دیبا:**

یو ډول ښایسته ورېښمین ټوکر دی. دلته له دیبا څخه مراد ښکلې مخ او داسي پسته نجلۍ ده لکه د یبا. دیبا د راډیو افغانستان د یوې سندرغاړې نوم و.

**دیدار :**

**دیدن، لیدل، ملاقات او عاشقانه وعده.**

**شېرازي حافظ وايي:**

عزم دیدار تو دارد جان بر لب آمده
بازگرد د یا بر آید چیست فرمان شما

**دیدار ډېر ادبي او ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.**

هر خاطر چي ناکرار سي
کراري یې په دیدار سي
(خوشحال خټک)

**دیدن:**

**لیدنه، کتنه، وصال، ملاقات، لیدنه کتنه، عاشقانه وعده.**

لمونځ چي قضا شي بیا ادا شي
نه ادا کېږي قضا شوي دیدنونه
(پښتو لنډۍ)

**دیده:**

**سترګي، کسی، عقل، پوهه. هغه څوک چی سترګی یی مړي وي. د وړي ضد. دیده خورا ښکلی، ادبي او رواج ښځینه نوم دی.**

# ډ

**ډالۍ:**

سوغات، تحفه، پېښکښ. ځيني پښتانه د څادر يا لمڅۍ څنډه (پېڅه، پېڅکه) هم ډالۍ بولي.

ډالۍ تر ټولو ښکلی، لنډ، نوی او ادبي ښځينه نوم دی.

**ډاډمن – ډاډمنه:**

خاطر جمع، مطمين، په زړه پوره، باجريته، تسکين سوی، آرام.

ډاډمن او ډاډمنه نوی، لنډ او خوږ نوم دی. خوشحال ختټک وايي:

هم يې هيڅ راته پرې نه ښود دل هم وايي
چې ډاډمن اوسه لا هيڅ نه يې رټلی

**ډېوه:**

څراغ، چراغ.

ډېوه ښکلی ښځينه نوم دی. دغه نوم په کندهار او ځينو ګاونډيو ولايتونو کي پراخ دود دي. پاړسی ژبو کورنيو ته يې نه خوښوم ځکه هغوی د (ډ) حرف نه لري او (ديوه) يې تلفظ کوي چې ښکلي مانا نه ورکوي.

# ذ

**ذره:**

ډېره وړه ټوټه، تر ټولو کوچنۍ ټوکی، وړوکی جز، د یوه شي خورا کوچنۍ برخه، رچه، وړانګه، پلوشه. ځیني دغه توري په (ز) کاږي، خو سمه بڼه یې په (ذ) ده.

ذره وړ نرینه او ښځینه نوم دی.

**ذکي:**

ځیرک، زیرک، تیز فکره، هوښیار، استعداد لرونکی او د ذکاوت خاوند. ډېر ښکلی نوم او مناسب تخلص دی.

# ر

**رابیا:**

د عربي رابعې پښتو سوې بڼه ده. خو په پښتو ادب کې رابیا د فتح خان برېښ مَيَنَه او وروسته يې مېرمن سوه. رابيا د هلمند د رود پر غاړه د بست په تاريخي ښار کې زېږېدلې او د (۹۰۰ هـ) کال په شاوخوا کې يې ژوند کاوه. دا د فتح خان سره په اکثرو جګړو کې يو ځای جنګېدلې ده. پښتو کيسه يې (فتح خان او رابيا) نومېږي چي محمد ګل نوري ليکلې او په "ملي هينداره" کې چاپ سوې ده.

**راجان:**

د زر تشتيانو د مذهب د مشر زرتشت د نيکه نوم و.
دغه کليمه په پښتو کې ښځينه څېره لري او ښځينه نوم دی.

**راد:**

ځوان، خرابات، کاکه. رادمرد يعني جوانمرد.
راد ښکلي نرينه نوم او تخلص دی.

**رادو/رادهو:**

رادهو هندی ښځينه نوم دی. رادهو د شلمي پېړۍ په سر کې د

کندهاري دېوان چند ډېره ښکلې لور وه. دا وروسته په کابل کې اوسېدله. د دې د ښایست کیسې په ټوله هیواد کې رواني وې. د دې په هکله دغه پخوانی تصنیف ناشناس هم ویلی دی:

بی بی رادهو جان دختر دیوان
لاله ره قسم دادم، که رادهو ره مه سوزان

**راسخ:**

ثابت، ټینګ، کلک، د ټینګې ارادې خاوند.

راسخ ښکلی نرینه نوم او تخلص دی. راحله راسخ د پارسي ژبې لیکواله ده چې اوس په لندن کې اوسېږي.

**رامبېل:**

یو ډول په زړه پوري او ښایسته ګل دی چې سپین یا ژړ رنګ لري. د ګلو پاڼې یې چمبېلې ته ورته دي له همدې کبله اکثره د "رامبېل چمبېل" اصطلاح رواج لري. رامبېل او چمبېل دواړه ښکلي نرینه نومونه دي.

ګلاب له اصله شهزاده دي
رامبېل چامبېل یې نوکران نیولي دینه
(پښتو لنډۍ)

**رامین:**

رامین د (رم) له کلیمې څخه دی. رم په پارسي کې هغه ډول منډه ده لکه هوسۍ چې وتښتي او منډه کړي. رامین د ناز او ادا خاوند ته هم وایي. په پارسي ژبه کې دغه نوم پر نجلۍ او هلک دواړو ایږدي.

په افغاني ادب کې د (ويس او رامين) فولکلوري کيسه ډېر نوم لري. وايي رامين د ويس قرني معشوقه وه. په پښتني سيمو کې ما دغه نوم نه دی اورېدلی. "رامينه" يې پښتو بڼه ده او "رامينه" د نجلۍ لپاره ډېر ښه، نوی او ښکلی نوم دی.

**رامينه:**

د رامين ښځينه بڼه ده. د مانا لپاره يې رامين وګورئ. رامينه ښځينه نوم دی.

**رباب:**

رباب د ساز يوه مشهوره آله ده. څېړني ښيي چې رباب د دوهمې ميلادي پېړۍ څخه په افغانستان کې رواج لري. اوسني ربابونه ۱۴ تارونه لري. دوه يې اصلي تارونه دي چې نغمه يا ميلوډي په وهل کېږي او ۱۲ نور يې مرستندوی تارونه دي. رباب د توت له لرګي څخه جوړوي.

شونې ده چې د رباب کليمه د رپ له ريښې څخه وي. په رباب کې د تارونو اهتزاز يا رپا ډېره زياته او چټکه وي. دغه آله لومړی "رپ" يا "رپا" نومېدله او وروسته ورو، ورو په رباب بدله سوې ده، لکه "ګلاپ" چې په "ګلاب" بدل سوی دی. په پښتو ادب کې د آدم خان رباب شهرت لري. رباب ښکلې کليمه او نرينه نوم دی.

**رپا:**

رپېدنه، اهتزاز، ښورېدنه، خوځېدنه (لکه بيرغ).

رپا نوی، ښکلی او ادبي ښځينه نوم دی.

**رپاند:**

رپاند یعني هغه شی چي رپېږي (لکه بیرغ)، اهتزاز کوونکی، خوځېدونکی او لړزېدونکی.

رپاند لکه (ځپاند) او (تپاند) تر اوسه تخلصونه وو خو دغه درې سره کلیمې ډېر ښکلي نومونه هم دي.

**رخسار:**

رخسار باړخو، اننګي، او غومبوړي ته وایي. په پاړسي ژبه کي اکثره د (ګل) کلیمه ورسره یو ځای کوي، په تېره بیا په تاجکستان کي ګلرخسار ډېر رواج ښځینه نوم دی.

**رخشانه:**

رخشانه د ځلېدونکي او روښانه مانا لري. د بلخ د پاچا لور او د مقدوني سکندر مېرمن وه. یوناني انډول یی روکسانه دی. رخشانه د راډیو افغانستان ډېره نامتو سندرغاړې وه. د دې اصلي نوم حمیده دي، په ختهٔ وزیره ده، اوس په امریکا کي اوسېږي.

رخشانه رواج او ښکلی ښځینه نوم دی.

**رزم:**

جګړه، قهرماني، توره وهل، مبارزه.

رزم ښکلی نرینه تخلص دی.

**رسا:**

لوړه، لایقه، ځیرکه، سمه او چټه.

رسا د ښځو او نارينه وو لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

زرغونه رسا يوه روشنفکره، مبارزه او د ښځو د حقوقو فعاله ملاتړ کوونکې کندهارۍ مېرمن ده چې اوس په لندن کې اوسېږي.
حميد ماشوخېل وايي:

مرگ او ژوند زما پو ښته له مړاوو سترگو
پــه رســا گــوزار پــوهېږي د تــوررزن لاس

**رسام:**

انځورگر، څېره کښونکی، رسم کښونکی، رسم ايستونکی، د رسم کښلو استاد کار، هغه څوک چې رسم باسي يا ښه رسم کوي.
رسام هغه چا ته وايي چې رسمونه کاږي.

رسام ښکلی نرينه ادبي نوم او تخلص دی.

**رستم:**

د يوه لرغوني آريايي پهلوان نوم دی چې پلار يې (زال) او مور يې د مهراب لور (رودابه) نومېدله. ويل کېږي، چې ده د پېشدادي منوچهر څخه د کياني بهمن د پاچهۍ تر لومړيو وختونو پوري ژوند کاوه. د فردوسي په شاهنامه کې دغه کيسه په تفصيل سره بيان سوې ده.

رستم تر اوسه هم د نامه او تخلص په توگه په تاجکستان کې رواج دی. رستم ډېر ښکلی نوم دی خو نه پوهېږم چې ولې په افغانانو کې لږ رواج لري.

کــه رسـتم د زمـانې سـې گـومـان مـه کـړه
زمانـه بـه دي پرې نـه ږدي پـه خپـل زور کـي

رسوا:

معلوم، لڅ، ښکاره، ښکاره، هغه څوک چي د پتهولو لپاره څه نه لري. په پښتو او پارسي ادبياتو کي د مېني وروستۍ پایله رسوایي ده.

عبدالکریم رسوا د کندهار یو وتلی شاعر و. رسوا د تخلص لپاره ښه ادبي مانا لري.

رشاد:

ځوان، رشد موندلی، سم، برابر، پر لاري سم، د ګمراهۍ څخه راوتلی، د مقاوم، بریالي او کامیاب ماناوي هم لري. اکثره د هدایت، پر سمه تلنه او د سمي لاري په مانا استعمالېږي.

اروانښاد پوهاند عبدالشکور رشاد د پښتو ادب ستوری، څېړونکی، شاعر او سیاستپوه و. استاد رشاد بابا له آره د کندهار و، په کندهار کي زېږېدلی او هلته ښخ دی. رشاد ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

رښتیا:

صداقت، د درواغو ضد. رښتیا سپینوالي ته هم وایي.

سید قاسم رښتیا په ۱۹۶۰ کلونو کي د افغانستان ستر سیاسي او څېړنیز شخصیت و. ده ډېر تاریخي کتابونه لیکلي دي. رښتیا د ماشومانو لپاره خورا ډېر ښکلی او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

رښتین:

صادق، سپین، رښتونی او رښتیا ویونکي ته وایي.

صدیق الله رښتین د پښتو ادب د آسمان یو روڼ ستوری دی. ده پښتو ته ډېر ادبي او څېړنیز کتابونه په میراث پرې ایښي دي.

رښتین ډېر خوږ او ښکلی نرینه نوم دی.

**رښتينه:**

د رښتين ښځينه بڼه ده.

رښتينه ښکلی، نوی او ادبي ښځينه نوم دی.

**رعنا:**

خيالي، خيالوره، پر ځان مينه، ښکلې، ډولي، د ښه او مناسب اندام لرونکې ښځه. رعنا د نجونو لپاره ډېر نوی، ښکلی او ادبي نوم دی.

تا سر به پای آن بت رعنا گذاشتيم

(خليلي)

**رفا:**

رفاه،آرامي، هوساينه، سوکالي، پرېماني، رفاه هغه وخت وجود لري چې ولس آرام او په نس موړ وي.

رفاه ډېر نوی، ښکلی او نادر نوم دی او ډېره ښه مانا لري.

**رفيق:**

رفيق وملگری، مل، دوست او انډيوال ته وايي. د يوه اند، سنگر او فکر ملگري ته رفيق ويل کېږي.

په رشتيا پر رفيق مهر کړه شفيق شه

د دوستانو مجلس، ناسته رفيقي ده

(حافظ الپوري)

**رمزيه:**

راز لرونکې، راز ساتونکې او په رموز پوهې ته وايي. سره له دې

چي عربي ريښه لري ښکلی او لنډ ښځينه نوم دی. رمزيه هغه چا ته هم وايي چي په ستر ګو، شونډو يا وروځو اشارې کوي. رمزيه ډېر ښکلی ښځينه نوم دی. د رمز د کليمې په هکله وايي:

ميـــان عاشـــق و معـــشوق رمـــزی
چـــه دانـــد آنکـــه اشـــتر مـــی چرانـــد؟
(...)

**رنځور:**

رنځمن، ناروغ، ناجوړه، مريض.

مګر د دې ټولو منفي ماناوو سره رنځور ښکلی ادبي تخلص دی او تر اوسه د ځو ليکوالو کورنی نوم ګرځيدلی دی.

**رنګين:**

ښايسته، رنګداره، رنګ په رنګ، ډول ډول، رقم رقم، قسم قسم، ښکلی، ډولي، رنګه.

ډاکټر رنګين سپنتا د افغانستان خارجه وزير و چي په جرمني کي اوسي. رنګين ډېر ښه نرينه نوم او تخلص دی او ډېري ښې ماناوي لري.

**رنګينه:**

ښکلې، ښايسته. په کندهار او کابل کي ډېر پېژندل سوی نوم دی. که د يوې نجلۍ نوم رنګينه وي د خور نوم به يې حتماً زرغونه وي. دواړه ښکلي نومونه دي.

چي تمـام د خپـل ځګر په وينو رنګ شـوې
د رحمـــان خبـــري ځکـــه رنګينـــې دي
(رحمان بابا)

**روان:**

چالان، خوځېدونکی، په حرکت کي، بهاند، جاري، د درېدلو او سکون ضد. حکیم روان یو پکتیاوال مبارز شخصیت دی چي اوس په هالنډ کي اوسېږي.

**روح افزا:**

چي د سړي روح په تازه کېږي، خوشحالي بخښونکی، هغه څه چي انسان ته خوشحالي او روحي آرامي ورکوي. روح افزا د افغانستان په تاریخ کي یوه روښانه او وتلې مېرمن وه. دا د شلمي پېړۍ په سر کي د مشهوري (ارشاد النسوان) جریدې مدیره وه.

میندي او پلرونه دي د دغه نامه په هکله ښه سوچ وکړي.

•

**رودي:**

د رود، د رود و اړخ ته د نژدې سیمو اوسېدونکی. د هلمند د ناوي الیزي (علیزي) خپل ځان رودي الیزي بولي تر څو داځکزو د الیزیو څخه توپیر سی. رودي ډېر ښه نرینه نوم او تخلص دي.

**روزا:**

د المان د انقلابي نهضت د وتلي مشري مېرمن روزا لکسمبورک نوم دی. کله چي انقلابي نظریې افغانستان ته راغلې دغه ښځینه نوم زموږ په هیواد کي هم مشهور سو. لنډ او ښکلی تلفظ لري.

**رومان:**

رمان، رومانس، رومینس، کیسه، داستان، حکایت، افسانه،

ناول. رومان هغه اوږده لیکل سوې کیسه ده، چې په لوستونکو کې هیجان راپاروي. رومان یا رمان ډېر ښکلی نوم دی او په ځینو سیمو کې پوره رواج لري.

**روزي:**

رزق، خواړه، قسمت، برخه.

روزي د هیواد په ځینو سیمو کې رواج ښځینه نوم دی.

**روستا:**

کلی، اطراف، بېدیا، د ښار ضد.

روستا ډېر ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**روستار:**

کلیوال، اطرافي، صحرایي، دهنشین، بزګر، کرونده ګر، څوک چې په کلي کې ژوند کوي.

محمدعثمان روستار تره کی د افغانستان یو وتلی سیاسي او ټولنیز شخصیت دی. ښاغلي روستار تره کی د حقوقو متخصص او په فرانسه کې اوسېږي.

**روښن:**

ځلانده او روښانه.

د افغانستان په مرکزي سیمو او هزاره جات کې د ښځو خو په پښتني سیمو کې د نارینه وو نوم دی. روښن تخلص کېدای هم سي.

**روغ:**

جوړ، سالم، صحتمند، د ناروغه ضد، صادق او بې جنجاله.
ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**روغه مل:**

هغه څوک چې سوله او روغه غواړي. د جنګ او جګړې ضد. هغه څوک چې دښمن نه لري. دغه کلیمه یوازې د یوه ټولنیز کس لپاره غوره تخلص دی.

**روکی:**

روکی پښتو کلیمه ده. د ورور کوچنۍ بڼه ده. "وروړک" هم د وړوکي مانا لري. له ورور پرته د مینې له مخې بل چا ته هم دا کلیمه ویل کېږي. روکی ډېر ښکلی نرینه تخلص دی.

**روهي:**

روه و پښتونخوا، د پښتنو هیواد او هغې سیمې ته وایي چې پښتانه پکښې اوسېږي. روهي یعني د روه پښتون. خوشحال خان روهي په خپلو پاړسی شعرونو کې د لنډ نوم په توګه کارولی دی.
اروانښاد محمدصدیق روهي د افغانستان یو علمي او سیاسي شخصیت و، عالي تحصیلات یې لرل او ډېر کتابونه یې لیکلي دي.
روهي ډېر مناسب او ښکلی نوم دی. باید پاملرنه ورته وسي.

**روهیلي:**

و روه ته منسوب، د پښتونخوا، پښتون، روهیلي مساپر ته هم

وايي. د هند پښتانه روهيلي پښتانه بولي. رحمان بابا وايي:

په اميد د زلفو ونښتم په دام کي
روهيلي وم ساده دل په هندوبار گډ

**روهينا:**

پولادي، کلک، جوهر لرونکی، هغه توره چي د پولادو يا جوهر لرونکي اوسپني څخه جوړه سوې وي. کريم روهينا د کابل د يوه ليکوال نوم دی.

د نجونو لپاره روهينا ښکلی ښځينه نوم دی.

**روښان – روښانه:**

روشن، رڼ، ځلانده، ځرگند، ښکاره، د تيارې او تاريکۍ ضد.

روښان د پښتو د يوه مبارز شخصيت بايزيد روښان تخلص و.

روښان او روښانه په کندهار او ځينو نورو سيمو کي رواج او ښکلي نومونه دي چي د هر چا خوښېږي.

**رڼ – رڼا:**

ځلاند، ځلند، روښان، ښکاره، ځرگند.

رڼ او رڼا نوي او ښکلي نومونه او تخلصونه دي.

**رويا:**

خيال، وهم، گومان، هغه ځېره يا ځېرې چي په خوب يا ويښه کي د انسان تصور ته راځي.

رويا خورا ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**رويين:**

هغه څه چي د "جست" د فلز څخه جوړ سوی وي. ښينګ او کلک ته هم وايي. په شاهنامه کي د افراسياب زوی چي د "طوس" زوم دی رويين نوميږي.

په پارسي ادبياتو کي رويين و هغه چا ته وايی چي نه زخمي کيږي.

**رهبر:**

راهبر، لارښود، سرغندوی، سروال، پېشوا، رهنما.

رهبر د ماشوم لپاره د نوي ادبي او ټولنيزي مانا لرونکی نرينه نوم دی.

**رهنورد:**

لاروی، د لاري پلټونکی، د نوي لاري کشفوونکی، هغه چي نورو ته لاره ورښيي.

رهنورد زرياب د پارسي ادب نامتو لنډه کيسه ليکونکی دی.

**رهي:**

روان، په حرکت کي، په يون کي.

رهي معيري د فارسي ژبي يو نازکخياله شاعر و.

ستا په مخ پسې يې مخ ونيو رهي شو
له صورته دي وتلی زما روح
(رحمان بابا)

رهي ډېر لنډ، نوی، ښکلی او ادبي نرينه نوم او تخلص دی.

**ريحان – ريحانه:**

ببري، بوبري، کشمالی، ريحان. ببری يا کشمالی يو شين خوشبويه بوټی دی چي نازکي لښتي او کلکي پاڼي لري.
ريحان او ريحانه ډېر ښکلي ادبي نومونه دي. ريحان نوي خو ريحانه رواج او دود سوی نوم دی.

**رېدی:**

غاټول، خاټول، لاله، غرنی لاله، د پياز لرونکو ګلانو له ټل څخه دی. علمي نوم يې Tulipa او د ليلياسي له کورنۍ څخه دی. يو ډول يې پنځه پاڼي ګل لري. خو بل ډول يې د ګل زياتي پاڼي لري چي شقايق نومېږي. هغه ډول خاټول چي په رغونو کي ټوکېږي سره ګلان او د ګلانو په منځ کي تور داغ لري.
محمدحسين رېدی د وېښ زلميانو په دوره کي يو وتلی مبارزشخصيت و. دی په کندهار کي اوسېدی. رېدی ډېر ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

# ړ

**ړنګ/ړنګه:**

ویجاړ، ویران، خراب، وران، که څه هم دغه منفي ماناوي لري خو په پښتني کلتور کي دغه کلیمې په ناز او ښه مانا استعمالېږي. مثلاً وايي: "ډېره ړنګه نجلۍ يې" يعني ډېره ګرانه او چالاکه ښځه يې.

ړنګ او ړنګه دواړه ښکلي نومونه دي.

# ز

## زخمي:

ټپي، پرهاري، پرهارجن، ژوبل سوی.

ځيني خلک د زخمي کليمه د تخلص لپاره خوښوي. د کندهار د نازکخياله شاعر اروابناد عبدالغفار بريالی لومړی تخلص زخمي و.

## زرپال:

دغه نوم په ځينو پښتني سيمو کي پر نجونو او په ځينو نورو کي پر نارينه وو ايښوول سوی دی. زرپال ډېر لنډ، ښکلی او ادبي نوم او تخلص دی.

## زرپاڼه:

د زرو د ټوټې يا زرځانګي مانا لري. په پښتو او پاړسي ژبو سيمو کي ډېر رواج نوم دی. په پاړسي ژبه کي پانو هم ورته وايي چي د زرپاڼي لنډه بڼه ده. زرپاڼه ډېر زيات ښکلی او لنډ ښځينه نوم دی.

## زرداد:

د افغانستان په ختيځو ولايتونو کي رواج نوم دی.

زرداد لنډه او ښکلې کليمه ده.

**زردانه:**

د زرو دانه، د زرو ټوټه.

زردانه ډېر نوی، ښکلی او پښتو ادبي نوم دی. زردانه لکه زرغټې، زرګاڼه، زرغونچه، زرمينه او داسي نورد نوو پښتو نومونو په ټل کي دی.

**زرغون:**

زرغون هغه رنګ دی چي د طيف (سپکټرم) له مخي د آسماني او ژړ تر منځ واقع دی. زرغون د نوو راټو کېدلو شپيشتو او شوتلو رنګ ته ورته دی. دغه رنګ د کندهار پښتانه زرغون بولي او د ځينو نورو سيمو خلک هغه ته شين وايي. په کندهار کي د شين کليمه د پارسي ژبي د (آبي) او انګليسي له (بلو) سره برابره ده.

زرغون په ډېرو سيمو کي دود سوی نوم دی. ښځينه څېره يې زرغونه ده، ځيني هغه د (زر غوندي) په مانا اخلي يعني (طلا ډوله).

**زرغونچه:**

زرغونچنه د زرغون ښځينه او د (زرغونې) کوچنۍ بڼه ده.

زرغونچه په ډېرو سيمو کي رواج، ډېر ښکلی او ادبي ښځينه نوم دی.

**زرغونه:**

زرغونه د زرغون ښځينه څېره ده. زرغون د شپيشتو او شوتلو رنګ ته وايي. د پښتو ادبياتو په تاريخ کي زرغونه د پښتو ژبي يوه وتلې شاعره وه چي په لسمه پېړۍ کي په کندهار کي اوسېدله او په ۹۰۳ هـ کال يې د سعدي بوستان په پښتو ژباړلی دی. د شعر نمونه يې دا ده:

| | |
|---|---|
| اورېدلې مې کيسه ده | چې له شاتو هم خوږه ده |
| د اختر په ورځ سهار | بايزيد چې و رويدار |
| له خپل کور نه راوتلی | په کوڅه کې تېرېدلی |
| ډېرې خاورې چا له بامه | راچپه کړې پرې ناپامه |

همداسي زرغونه انا د افغانستان د بنسټ ايښودونکي ستر احمدشاه بابا د مور نوم و. دا په ختہ الکوزۍ او د کندهار په کوهک کې ښخه ده.

زرغونه د ډېرو زياتو نجونو او مېرمنو نوم دی. په تېره بيا دغه نوم په کندهار کې ډېر رواج لري. زرغون او زرغونه دواړه ډېر ښکلي او لنډ نومونه دي.

**زرغتۍ:**

د زرو غتۍ، د زرو ټوټه.

دغه ډېر ښکلی او نوی پښتو نوم دی. د کندهار مشهور هنري شخصيت جان محمد خان پلار پر خپل زوی زرغتۍ نوم ايښې دی. دغه نوم ډېر ښکلی او نوی دی.

**زرکانۍ:**

محک، هغه تيږه چې د سرو زرو اصل والی او کوټه والی څرګندوي. زرکانۍ نوی، ادبي او پښتو نرينه نوم دی.

**زرکه:**

يو ډول ښکلی او نوموتی غرنی مرغه دی چې ډېرې خوږې نارې وهي. شوقيان يې د جنګولو او نارو لپاره په قفس کې ساتي. شاعران د

زرکو رفتار د خپلي ميني د تګ سره پرتله کوي. خوشحال خټک وايي:

په رفتار کي لکه زرکه په ګفتار لکه بلبل يې
لکه سرو په چمن کي په قامت په تجمل يې

**زرګر:**

هغه سړی چي له سرو او سپينو زرو يا نورو قيمتي فلزاتو ګڼه ګاڼې جوړوي. زرګره د زرګر ښځينه بڼه ده.

وښي په لاس ګوتمۍ په ګوته
زرګره ټوله دي ياري، ته جوړه کړمه
(پښتو لنډۍ)

**زرلښته:**

په پښتو نومونو کي تر ټولو ښکلی، دود او د ښې مانا لرونکی نوم دی. په پښتو او پاړسي ژبو سيمو کي بشپړ رواج لري. مانا يې د زرو لښته يا د زرو څانګه ده. زرلښته او زرڅانګه يوه مانا لري.

**زرمينه:**

د سرو زرو کان، د طلا معدن، د زرو ټوټه.

زرمينه په ټول هيواد کي پوره دود لري. ډېر ښکلی او لنډ ښځينه نوم دی.

**زرنګار:**

په سرو زرو سره ښکلل سوی او نقاشي سوی. هغه څه چي د زرو

په اوبو ليکل سوي او نقاشي سوي وي. د ښکلي، ښايسته او ډولي مانا هم لري. زرنګار وړ تخلص دی.

**زرنی:**

د سرو زرو څخه جوړه سوې.

زرنی نوی، لنډ او ښکلی ښځينه نوم دی.

**زرولي:**

په پښتني سيمو په تېره بيا په پکتيا کي دود نرينه نوم دی.

**زرڅانګه:**

د زرو لښته، د زرو ټوټه.

دغه نوم ډېر ښکلی، لنډ او پښتو دی.

زرڅانګه د افغانستان د راډيو تلوېزيون د يوه زړه وړونکي آواز څښتنه سندرغاړې وه. دا په خټه وزيره ده او اوس په کابل کي اوسېږي.

**زرډېوه:**

د زرو ډېوه، ډېره قيمتي، ډېره ښايسته، ډېره روښانه.

زر ډ ېوه خورا ډ ېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**زرنګ:**

ځير ک، زير ک، هوښيار، تېز، چالا ک.

فاروق زرنګ په لندن کي د يوه نامتو کمره مين نوم دی چي د فلمونو په جوړولو کي هم کار کوي.

**زرياب:**

هغه څوک چي د زرو په لټه کي وي، چي د زرو په تلاښ کي وي.

زرياب ډېر ښکلی پاړسي نوم دی. سپوږمۍ زرياب د پاړسي ژبي تکړه کيسه ليکونکې ده چي اوس په فرانسه کي اوسېږي. زرياب ښکلی نرينه او ښځينه نوم او تخلص دی.

**زريالی – زريال:**

د زرو څخه جوړ سوی، قيمتي، ګران، نادر او مهم.

زريالی او پر دغه وزن برابر نومونه لکه بريالی، توريالی، ننګيالی او نور ډېر ښکلي آهنګ لري. زريال او زريالی په يوه مانا لري.

**زرين – زرينه:**

د زرو، د طلا، زري، د سرو يا سپينو زرو څخه جوړ سوی، چي د سپينو يا سرو زرو رنګ يا بڼه ولري.

زرين انځور د پښتو د لنډو کيسو وتلی ليکوال او اوس د افغانستان د ملي راډيو تلوېزيون رئيس دی.

زرينه په پښتني سيمو کي ډېر رواج خولنډاو ښکلی ښځينه نوم دی.

**زړه ور:**

دلاور، شجاع، د زړه خاوند.

زړه ور ښکلی، د ښې مانا لرونکی او پښتو نرينه نوم دی.

**زړګی:**

زړګی د زړه له ريښې څخه د ناز او کوچنيتوب کليمه ده. البته

زړه د انسان په سینه کي د سږو تر منځ یوه عضله ده او انسان د زړه د خوځېدو څخه پر ته ژوند نه سي کولای.

زړګی په پښتو او پاړسي کي د ښځي ښکلو نومونو تر منځ ډېر ښکلی نوم دی.

## زعفران:

یو ډول پیاز لرونکی نبات دی، چي ژړ خوشبویه ګلان لري او غاټول ته ورته دی. دغه نبات په منځ کي نري ژړ تارونه لري او دغو تارونو ته زعفران وایي. د زعفرانو ګلان تر پخېدلو وروسته راټولوي، تارونه یې سره بېلوي او بیا یې خرځلاو ته وړاندي کوي. زعفران په بدخشان هرات او نورو ځایو کي شین کېږي. د زعفران غوټۍ چي د نرګس د ګل غوټۍ ته ورته ده د نیال (نهال) په توګه کرل کېږي.

تر شنه کېدو او حاصل ورکولو وروسته د زعفرانو غوټۍ تر مځکي لاندي وده کوي او هر کال په خپله شنه کېږي. زعفران تند او معطر بوی لري.

زعفران ښکلی نرینه نوم دی.

## زلال:

پاکي او روڼي اوبو ته زلال وایي.

زلال ښکلی نرینه نوم دی.

## زلزله:

د مځکي خوځېدنه، د مځکي لړزېدا، د مځکي ښورېدنه، د مځکي رېږدېدنه. زلزله ښکلی او نوی ښځینه نوم دی. دغه نوم ښځي

نوی دی او بختوره نجلۍ به دغه نوم ولري.

زلفیه:

چي ښکلي زلفي، ځوڼي یا کوڅۍ ولري.

زلفیه ډېر ښکلی، نوی او ادبي نوم دی.

زلمی:

ځوان، ځلمی، رسېدلی، بلوغ ته رسېدلی.

زلمی په ټول هیواد کي ډېر دود نوم دی.

محمدولي زلمی د افغانستان نامتو څېړونکی، ژورنالیست او لیکوال دی. زلمي له آره د کندهار دی او په کابل کي اوسېږي.

زلېخا:

دغه نوم د عبري ژبي ښځه راغلی دی. زلیخا د مصر د واکمن (عزیز) مېرمن وه چي وروسته پر یوسف ﷺ چي هغه وخت د دې مریي و مینه سوه. د یوسف او زلیخا کیسه په پښتو او پاړسي ادب کي ځو ځله په نظم لیکل سوې ده.

که زلیخا مَیَنَه نه وای

چیرته یوسف چیرته د مصر بازارونه

(پښتو لنډۍ)

زمان:

وخت، مهال، شېبه، روزګار.

زمان په ټوله افغانستان کي رواج نوم دی.

**زمانه:**

د وخت، پېړۍ، روزګار او نړۍ مانا لري. زمانه نوی او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

ډېره نېکمرغه نجلۍ به زمانه ونومول سي.

**زمرد:**

یوه قیمتي ډبره ده چي زرغون رنګ لري او د ګاڼو او زېوراتو په جوړولو کي کارېږي. هر څومره چي روښانه وي بیه یې ګرانه وي. په پنجشېر کي د زمرودو ډېر کانونه وو چي د سیمې جهادیانو په فرانسه کي خرڅول.

باید په یاد ولرو چي زمرد له زبرجد سره توپیر لري او هر یو یې ځانته قیمتي ډبري دي.

زمرد د افغاني ما شومانو لپاره ښکلی نرینه او ښځینه نوم دی.

**زمرک:**

زمرک د زمري د ناز او کوچنۍ بڼه ده. لکه (ببرک) چي د (ببر) د ناز نوم دی.

دغه نوم زیات دود دی. زمرک د څارندوی (سکاوټ) په سیستم کي چي له کوچنیانو څخه به جوړېدی لومړنۍ پړاو دی.

**زمری:**

زمری یا مزری یو غښتلی او څیرونکی حیوان او د غوښو خوړونکو ځنارو له ډلي څخه دی. زمری ته د حیواناتو او ځنګله پاچا هم وایي. د زمري د زړه ورتوب څخه په کنایي ګټه اخیستلو اوس

دغه نوم د زړه ور، دلاور، مېړني، غښتلي او پیاوړي ماناوي لري.

زمری نرینه نوم دی.

**زمریالی:**

زړه ور، مېړنی، تکړه او د زمري غوندي غښتلی.

زمریالی په ټوله هیواد په تېره بیا په کندهار او ګاونډیو ولایتو نو کي بشپړ دود لري.

**زمزمه:**

بوهېدل، بونګېدل، ترنم کول، ورو او غلی آواز، موزون بړغ، په خاص او غلي آواز سره سندره ویل. په کښته آواز سره دعا کول او د زمري آواز ته هم وایي.

زمزمه ډېر نوی، ادبي، لنډ او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**زورور:**

د زور خاوند، ځواکمن، د قوت څښتن.

زورور په ډېرو پښتني سیمو کي د هلک لپاره دود نرینه نوم دی.

**زهره:**

مېلمه ستر ګه، د ماښام ستر ګه، وینوس، ناهید. د هغو نهو سیارو له ټله یوه ده چي له ټولو نورو سیارو څخه مځکي ته رانژدې او زیاته روښانه ده.

زهره په ټول هیواد او ژبو کي منل سوی نوم دی.

**زېبا:**

ښکلې، ډولي، ښه ایسېدونکې او ښایسته. هغه ښځه چي ډېره ښه قواره ولري. زېبا د راډیو افغانستان د یوې نامتو سندرغاړي نوم دی. زېبا ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**زیب النساء:**

زینت، ښه ښکاره کېدنه، ښه ایسېدنه، ښه برېښېدنه او ښایېدنه ده، یاني له ټولو ښځو تر منځ ښکلې ښځه.

زیب النساء یو ښکلی، د ښې مانا لرونکی خو کلاسیک عربي نوم دی.

زیب السناء د محی الدین اورنگزېب عالمگیر د لور نوم و. دی شاعر او د هند پاچا و. او زیب السناء هم ډېره پوهه او هوښیاره شهزاده گۍ وه او ښه شعر یې وایه.

دا وایي:

گر چه من لیلی صفاتم دل چو مجنون پر نوا است
سر به صحرا میزنم لیکن حیا زنجیر پاست
دختر شاهم ولیکن رو به فقر آورده ام
زیب و زینت بس همینم نام من زیب النساء است

وایي چي یوه ورځ د زیب النساء مزدوري چي ډېره ښکلې نجلۍ وه او (چیني) نومېدل د خوني د پاکولو په ترځ کي د شهزاده گۍ هینداره ماته کړه او دې ته یې عرض وکړ:

از قضا آیینه را "چینی" شکست

شهزاده گۍ ورته وخندل او وې ویل:

خوب شد آیین خود بینی شکست

په اوس وخت کې زیب النساء په لره پښتونخوا کې یوه تحصیل کرده، هوښیاره او د خواږه آواز لرونکې پښتنه سندرغاړې ده او دغه سندره یې نړیوال شهرت لري:

پیمانـه بـده کـه خمـار هـستم
من عاشق چشم مست یار هستم

زیرکه:

د زیرک، ځیرک ښځینه بڼه ده او د هوښیاري او چالاکي ښځي مانا لري. زیرکه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

زېرمه:

توښه، زخیره، سپما، آمادګي.
زېرمه ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی. خوشحال خټک وایي:

عاشـقان دي لا لـه وختـه خپلـه زېرمـه د کفـن کـا
چـي بانـه يـې لکـه غـشي و کـشتن وتـه دلبـر دي

زېری:

خوشخبري، نېک خبر، ښه خبر.
زېری نژدې نیمه پېړی د پښتو ټولني اونیزه خپرونه وه.

دوکتور صالح محمد زېری د خلق د ګوند له مشرانو څخه و چي اوس په لندن کي اوسېږي.
زېری لنډ، پښتو او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

**زينب:**

**د پټې خزانې په خبره زينب يا زينبه د ميرويس خان هوتک لور وه. هغه مرثيه چې دې د خپل ورور شاه محمود هوتک د مرګ په ماتم کې ويلې ده ډېر شهرت لري.**

ږغ سو چي ورور تېر له دنيا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا
زړه مي په وير کي مبتلا سونا
چي شاه محمود له ما جلا سونا

**زينب يا زينبه ډېر ښکلی او ادبي ښځينه نوم دی.**

**زينت:**

**عربي کليمه ده. د سينګار، ښکلا، ښايست، ډول او آرايش مانا وي لري. زينت د ښځو ځان جوړولو ته وايي.**

**زينت يو دود ښځينه نوم دی او ټوله يې خوښوي.**

**زېور:**

**ګاڼه، پسول.**

**زېور د نامه په توګه ډېر خوږ نوم دی. خوشحال خټک وايي:**

نن د واړو دلبرانو غوره ته يې
که دي يو لونګ پر پوزه زېور نشته

# ژ

## ژاله:

ژلۍ،ږلۍ د باران واړه څپرکي یا څاڅکي دي چي یخي سوي او یا یخي یې قشر احاطه کړی وي. د پرخې هغو څاڅکو ته چي وختي سهار د ګلانو د پاڼو او برګونو پر مخ لوېدلي وي هم ژاله ویل کېږي. ژاله د افغانستان د راډیو د یوې خوږ آوازي سندرغاړي هنري لقب دی. د دې نوم رشیده دی.

ژاله ډېر لنډ او ښکلی ادبي ښځینه نوم دی.

## ژلۍ:

هماغه ژاله ده (ژاله وګورئ). خو په پښتني سیمو کي دا نوم نه دی ایښودل سوی. ژلۍ ډېر ښکلی نوم دی.

د سپینو غاښو دي برېښنا شوه
چا وې ژلۍ دي په تیرا یې اوروینه
(پښتو لنډۍ)

## ژمنه:

ژبه، لوز، قول، تړون، پیمان، عهد، پښتو.

ژمنه ډېر ډېر د ښې مانا لرونکی او خوږ ښځینه نوم دی.

**ژواک:**

ژوند، ژوندون، حیات.

ارواښاد محمددین ژواک د هیواد یو فرهنګي، سیاسي، ټولنیز او ادبي شخصیت او د افغانستان د علومو په اکاډیمي کي د زېږي خپروني مدیرو.

ژواک لنډ او ښکلی نرینه نوم دی.

**ژوبل:**

زخمي، وهلی، ټکولی، ټپي، پرې - پرې، مجروح.

زه ژوبل ژوبل د ښکلو په نګاه یم
لا له دې نه زیات غوښېږم چي پناه یم
(رحمان بابا)

ژوبل ښکلی نرینه نوم دی.

**ژوند:**

ژوندون، بقا، پایښت، ژواک، د مرګ ضد، د یوه سړي له پیدایښت څخه تر مرګه ټوله موده.

ژوند ښه پښتو نرینه نوم او تخلص دی.

**ژوندون:**

ژوند ته ژوندون هم وایي خو ژوندون لکه ژوند ښکلی تخلص دی. ژوندون یوه ادبي او معلوماتي مجله ده چي د ۱۳۲۷ کال د وري د میاشتي را په دې خوا په کابل کي خپرېږي.

**ژوندی:**

هغه څه چې ساه لري، ښوري او ژوند کوي. د مړي ضد. تر مرګ تر مخه هر انسان ژوندی بلل کېږي.

ژوندی ډېر ښکلی نوم او تخلص دی.

**ژیلا:**

مېرمن ژیلا د افغانستان د راډیو ډېره نامتو او خوږ آوازې سندرغاړې ده. نوم یې کبرا او ژیلا یې هنري لقب او کورنې نوم دی.

ژیلا د نجونو لپاره ډېر ښایسته نوم دی.

**ژینوس:**

د ستوري نوم دی خو په کابل کې تازه دود سوی دی.

ژینوس د افغانستان د ملي راډیو تلوېزیون یوه ښکلې سندرغاړې وه.

**ژیړکه:**

ژیړکه اصلاً د ژړ د کلیمې د ناز او کوچنۍ بڼه ده. ژیړکه د افغانستان یو پښتنه سندرغاړې وه چې اوس په جرمني کې اوسېږي. همداسې صادق ژیړک په کویټه کې دپښتو ادبي ټولنی بنسټ ایښودونکي او مشر دي.

دغه کلیمه ستاینوم دی نه نوم یا کورنی نوم.

# س

**ساحل:**

پټنړ، د سیند غاړه، د سیند څنډه، هغه وچه غاړه چي په بحر یا بحیرې پوري نښتې وي.

ساحل ډېر لوړ ښځینه نوم دی. شېرازي حافظ وایي:

زپـا فتـاده و رویـم بـه منـزل اسـت هنـوز
شکست کشتی و چشمم به ساحل است هنوز

**سارا:**

سارا په پاړسي ژبه کي د (سَرَه) څخه اخیستل سوې ده یاني خالص او سوچه لکه سره زر. ضد یې کوټه یا ناسره دي. خو سارا په پښتو ژبه کي د (صحرا) پښتو سوې بڼه ده. د دښت، بیابان او بېدیا مانا لري یا هغو شاړو او وچو مځکو ته وایي،چي اوبه او شینلي نه لري. سارا په ډېرو اروپایي هیوادونو، امریکا، کاناډا او نورو کي دود نوم دی، خو هلته سارا په بشپړه توگه بېله مانا لري.

**سارانۍ:**

د دښت او بیابان په نامه د صحرا د کلیمې پښتو سوې بڼه ده. سارانۍ یاني هغه نجلۍ چي په سارا کي اوسېږي یا لویه سوې وي.

سارانۍ یاني پاکه او بېله غشه ښځه، د چالاکي او حرامزاده ښځي په مقابل کي.

سارانۍ ډېر ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**ساروان – ساربان:**

ساربان د افغانستان د راډیو تلوېزیون ډېر نامتو سندرغاړی و. د ده بشپړ نوم محمدرحیم او کورنی نوم یې محمودي و. نوموړي د سعدي دغه بیت ډېر ښکلی سندریز کړی دی:

ای ساربان آهسته ران کارام جانم میرود
ان دل که با خود داشتم با دلستانم میرود

**ساغر:**

پیاله، پیمانه، د شرابو گیلاس یا پیاله. همداسي ساغر د غور د ولایت یوه سیمه ده چي د شهرک ولسوالۍ ته څرمه ده.

ساغر ښکلی ادبي نوم دی. یو انقلابي ایمان غواړی تر څو دغه نوم پر خپلو زامنو کښېښودل سي. ساغر د نجلۍ لپاره هم ډېر ښکلی نوم راځي.

به چشمانت شراب عشق را باور کنم یا نه
نگاهم را خراب و مست این ساغر کنم یا نه
(بهار سعید)

**ساغري:**

د ساغر، هغه څوک چي د ساغر د سیمی وي.

ساغري یوازي تخلص دی هغه هم اکثره د دغي سیمی د

اوسېدونکو لپاره. خو که څوک و غواړي ساغري د جام او ساغر په مانا خپل کورنی نوم کړي نو ښکلې خبره ده.

**ساقي:**

اوبه وېشونکی، اوبوېشی، هغه څوک چې د رندانو په بنډار کې شراب وېشي. صوفیان ساقي و بشپړ مرشد ته وايي.

ساقي پاڅه د سرو ملو ډک یو جام را
ستا لـه غمـه نـا آرام یمـه آرام را
(محمد هوتک)

ساقي معمولاً د ښځینه نوم او نرینه تخلص په توګه ایښودل کېږي. دغه توپیر ته باید بشپړه پاملرنه وسي.

حافظ وايي:

بیـار سـاقی آن کیمیـای فتـوح
که با گنج قارون دهد عمر نوح
بـده تـا برویـت گـشایند بـاز
در کـــامرانی وعمـــر دراز

**سالار:**

د لښکر مشر، سردار، سپاه سالار، مشر، قوم مشر، د لوړ صفت خاوند.

سالار ډېر ښه مانا لرونکی نوم او تخلص دی. دغه نوم او تخلص یوازې د نارینه وو لپاره وړ دی. منفي استعمال یې په پارسي ژبه کې د بلې کلیمې په تېره بیا د جنګ یا تفنګ د کلمو د پساوند په توګه دي، لکه: "جنګ سالار"، "تفنګ سالار" او داسې نور.

**سالک:**

سالک د طریقت او صوفیګرۍ په تړاو کلیمه ده چې مانا يې لاروی دی. "سالک" نېک، زاهد، عارف او پارسا ته وايي. سالک ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

مصطفی سالک یو تکړه غزلبول شاعر او د بې بې سي وياند دی.

**سالنګ:**

په جبل السراج کې د سالنګ دره، د سالنګ غابنی چې د بحر د سطحې څخه ۳۸۰۰ متره لوړ دی. د سالنګ لویه لاره، د سالنګ سیند چې د لوېدیځ هندوکش په سوېلي لمنو کې بهېږي ټول مشهور دي.

سالنګ ډېر ډېر ښکلی نرینه نوم دی. خلک د هیواد په هره سیمه کې سالنګ پېژني.

**سالو:**

سور وربښمین پوړنی، سور شال، سور ټکری. فکر کېږي چې سالو د "سره" او "شال" د کلمو څخه ورو ورو "سالو" سوی وي یعني سور شال. خو سالو په پښتو کې نرینه کلیمه ده او ځکه باید دغه نوم پر زلمیانوو کښېښودل سي.

د پېښور دستور مي خوښ دی
چي نجوني واړه سور سالو پر سر کوينه
(پښتو لنډۍ)

**سامانه:**

دبدبه، نخره او ناز کول، ځان کنجول، ځان ښکاره کول، د ځيګر

او اوږو ښورونه، ډب.

سامانه بېخي نوی، ډېر لنډ او خورا خوږ ښځینه نوم دی.

**ساهو:**

آزاد، خپلواک، اصیل، شریف، د مریي ضد.

په پښتو کې متل دی:

"مریي غوندي يې وګټه، ساهو غوندي يې وڅټه".

ساهو ښکلی نوم او تخلص دی او ډېره ښه مانا لري. ارواښاد امان الله ساهو د محمدصدیق پسرلي زوی د پښتو ژبي تکړه لیکوال، رسنوال او شاعر و.

**سايره:**

یو ډول وړوکې ښایسته مرغۍ ده چې د ښکلا او نارو یا ربز لپاره ساتل کېږي. په کندهار او شاوخوا ولایتونو کې سایره ډېر رواج ښځینه نوم دی.

**سایل:**

سوال کوونکی، سوالګر، فقیر، غریب. د سایل بله مانا د سیال له کلیمې څخه ریښه اخلي یعني سیال سوی. په دواړو ډولونو او مفهومونو کې ډېره ښه مانا لري.

سایل ښه نرینه تخلص او نوم دی. رحمت شاه سایل د پښتو ژبي ډېر انقلابي او نامتو غزلبول شاعر دی. په سلګونو ښکلي پښتو شعرونه او ډېری خپرې سوي شعري ټولګې لري. سایل صاحب په خیبر پښتونخوا کې اوسېږي.

**سبا:**

په پښتو کي د راتلونکي ورځي او کله هم د سهار يا سبايي په مانا راځي. لکه په "سبا و بېګاه" کي يا "اې باد سبا يار ته مي بوزه"

همداسي سبا د يمن په ختيځ کي يو پخوانی دولت و چي اوس حبشه نومېږي. سبا ځانګړې ژبه، کلتور او دين درلود. په قران مجيد کي په دې نامه يو سورت هم سته.

د سبا د ښار ملکه بلقيس نومېدله چي وروسته مسلمانه او د سليمان عليه السلام مېرمن سوه. د بلقيس او سليمان عليه السلام تر منځ د عاشقانه ليکونو لېږل رالېږل د (هدهد) مرغه په وسيله سر ته رسيدل. (په غيبو يوازي خدای پاک خبر دی).

**سباوون:**

روښنايي، سهار، ګهيځ، سبايي.

سباوون په دغه مانا نوی ادبي نوم او تخلص دی. دغه نوم په راوروسته کی ډېر خپور اود ود سوی دی.

**سپر:**

ډال، کنګل.

ډال يا سپر پخوانی جګړه ايزه وسيله وه چي په تن په تن او ډله ايزو جګړو کي کارېده. ډالونه معمولاً د پولادو څخه جوړېږي. د "سپربازي" لوبه د افغانستان يوه دوديزه لوبه ده او تر اوسه د هيواد په ځينو سيمو کي سر ته رسېږي.

په پښتني حماسي شعر کي ډال او توره ډېر کله يو ځای يادېږي. سپر ښکلی او د ښې مانا لرونکی تخلص دی. خو د نامه په توګه سپر

ډېر نوی او خوږ نوم دی.

یو پرهار به مي لا روغ پر وجود نه و
بل پرهار به مي پر تن سو یا په ډال

**سپرغۍ:**

د اور بڅرکی، د اور ګل، د اور ذره، بڅرکی.

د یوې شوخي او شنګي ښکلي نجلۍ لپاره سپرغۍ تر ټولو ښکلی نوم دی.

**سپنتا:**

د سپنتا اصلي بڼه (سپیتامه) ده چي د (سپین زوي) مانا او د پاک او مقد س مفهوم هم لري. وایي سپنتا د زردښت لقب و. زموږ په هیواد کي د کلونو راهیسي سپنتا د سلیمان لایق ادبي مستعار نوم دی. ډاکټر دادفر سپنتا د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او اوس هم د ملي امنیت په چارو کي د جمهور رئیس سلا کار دی.

سپنتا خورا ښکلی ښځینه نوم کیدای سي.

**سپوږمۍ:**

وږمکۍ، سپږمۍ، میاشت. سپوږمۍ ځمکي ته تر ټولو اسماني جسمونو رانژدې ستوری دی او له ځمکي سره یو ځای د لمر پر شاوخوا راګرځي. په پښتو شفاهي ادب، فوکلوري نکلونو او پښتو شعر کي له سپوږمۍ څخه کنایه ښکلا او ښایست دی.

سپوږمۍ د هیواد په ټولو سیمو او ټولو کلتورونو کي یو منل سوی ښځینه نوم دی.

**سپېدار:**

سفېدار یا سپین چنار یو ډول سپینه او ډېره جګه بې مېوې ونه ده. سپېدار وړ مناسب نرینه نوم دی.

**سپېده:**

سپېده یو ډول سپینه خاوره یا پوډر دي، چي ښځي یې د ښکلا لپاره پر مخ وهي. همداسي سپېده یا سپېدې صبح صادق یا هغه وخت ته وایي، چي شپه تېره او د سهار رو ښا لړ. لړ. ولګېږي.

سپېده ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**سپین غر:**

سپین غر د افغانستان په ختیځ کي د غرونو یوه لړۍ ده چي ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري. ډېره لوړه څوکه یې (سیکارام) نومېږي چي تل په واورو پټه وي . له همدې کبله د غرونو دغې سلسلې ته سپین غر وایي.

**سپین:**

د تور ضد، سپین رنګ، د پاکي واوري یا شیدو رنګ.

په ټبر کي هر سړی چي ګناه یې نه وي کړې سپین او که یې ګناه وکړه تور بلل کېږي. د کندهار په پښتو کي هغه نجلۍ ته چي ډېر سپین پوست ولري سپینه او زلمي ته سپین وایي. خو که نجلۍ یا هلک ډېر تور پوست ولري (توره، تور او تورجان) ورته وایي.

سپین تنی ځوان او تکړه ژورنالیست دی چي د کلونو راهیسي د بي بي سي په راډیو کي کار کوي او په لندن کي اوسي.

**سپينلمنه:**

سپېڅلې، پاک لمنه، عفيفه او باعفته ښځه.

د سپين لمني نوم نوی دی او ډېره ښه مانا لري.

**سپينه – سپينه کۍ:**

يعني سپينه، پاکه او ښکلې نجلۍ.

ښايسته ښځينه نوم دی.

**سپېڅلۍ:**

پاک، سوتره، ستره، پاکيزه، سوچه.

سپېڅلۍ ډېر ښکلی او مانا لرونکی پښتني نوم دی.

**سپېلنۍ:**

سپلني يا سپانده يو ډول بوټی دی چي توري وړې وړې دانې کوي. د سپلني بوټی او دانې د نظر مات لپاره استعمالېږي.

سپېلنۍ ډېر ښايسته ښځينه نوم دی.

**ستاره:**

ستاره ستوری دی چي په پارسي او عربي ژبو کي نجم، اختر او کوکب ورته وايي. هر هغه اسماني جسم چي د شپې له خوا د يوې روښانې او ثابتې نقطې په توګه په اسمان کي ځلېږي.

ستاره هروي د افغانستان د راډيو تلوېزيون سندرغاړې وه.

وايي د سلطان محمود غزنوي د دربار يو شاعر چي په پسرلي کي پر آس سپور د پاچا سره ملګری و ناڅاپه ګوری چي آس يي تر

سلطان دمخه سوی دی دستی يې وويل:

من آن ستاره صبحم که از طریق اد ب
همیشه پیشرو آفتاب می باشد

ستاره رواج او ښکلی ښځینه نوم دی.

**ستانه:**

روحاني، بزرگ، ستر او د روحاني کورنۍ غړی.

معمولاً سیدان، صاحبزاده گان او د هغوی د کورنۍ غړي ستانه بلل کېږي. خو په نورو قومونو او قبیلو کي هم ستانه سته.

ستانه په پښتو ژبه کي نرینه صفت دی، نو ځکه ډېر ښکلی او نوی نرینه نوم او تخلص کیدای سي. محمد طاهر ستانه پښتون لیکوال او رسنوال تېر سوی دی.

**ستاینه:**

توصیف، مدحه، تحسین.

ستاینه نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**ستوده:**

ستوده وستایل سوي، توصیف سوي، صفت سوي، مدحه سوي او تحسین سوي ته وایي.

ستوده لنډ، ښکلی او مانا لرونکی پارسي نوم دی.

**ستوری:**

"ستوری" ستاره ده چی په پارسي او عربي ژبو کي نجم، اختر او

کوکب ورته وايي. ستوري هغه اسماني جسم دی چي د شپې له خوا د یوې روښاني کوچنۍ او ثابتي نقطې په توګه په اسمان کي ځلېږي. ستوری د افغانستان په ټولو سيمو او کلتورونو کي دود نوم دی. څرنګه چي په پاړسي ژبه کي په ساکن تلفظ نه کېږي، اکثره پاړسي ژبي خلک هغه "استوری" وايی.

ستورۍ منګل د افغانستان د ملي راډيو تلوېزيون يوه وتلې هنري څېره ده چي ټوله ژوند يې د هيواد د هنري پراختيا لپاره وقف کړی دی. وروستی فلم يې (هجرت) نومېږي. ستوري منګل اوس په لندن کي اوسېږي.

**ستومان:**

ستړی، خسته، کهاله، زيله.

ځيني خلک د دغه ډول مانا لرونکو تخلصو سره مينه لري. خو د نامه په توګه دغه ډول کليمه مناسبه نه ده.

**سربلند:**

سرلوړی، سرافراز، وياړلی، د جګي شملې خاوند.

سربلند پاړسي کليمه ده خو په افغانستان کي د (خان) کليمه پوري نښلوي. د وزير فتح خان مشر زوی (سربلند خان) نومېدی.

**سرتاج:**

يعني تاجدار، تاجداره، د تخت او تاج خاوند پاچا.

سرتاج نوم او تخلص دی.

**سرتور:**

سرلوڅی، سرلڅ، سرلڅی.

له آره د خوار، بېچاره او غریبګوټي سړي مانا لري. خو ما په کندهار کي د نامه په توګه لیدلی دی او خلکو هم ډېر خوښاوه.

سرتور ښه نرینه تخلص هم دی.

**سرباز:**

عسکر، سرتېر، سرتېری، سرښندونکی، فداکار.

د افغانستان په وسله وال پوځ او پولیسو کي یو شمېر افسران سرباز تخلص کوي. کریم سرباز د هیواد یو وتلی نظامي او سیاسي شخصیت دی چي اوس په لندن کي اوسېږي.

سرباز د نامه په توګه هم ښکلی نوم دی.

**سرتېر:**

سرتېر د سرباز مانا لري خو په ادبي توګه سرباز سیاسي اړخ لري او برعکس سرتېر ادبي او فولکلوري مفهوم لري. نو ځکه سرباز یوازي د تخلص خو سرتېر د نامه په توګه ډېر ښکلی او ادبي راځي.

پوره مانا یې زړه ور، جسور، فداکاره، جانباز او عسکر دی.

**سرخېل:**

میر، سرکرده، مشر، هغه څوک چي قوم ورپسي ولاړ وي.

سرخېل د زړښت له مخي تر خان او میر لرغوني ښکاري. په کوچیانو کي سرخېل مشر ته وایي او په ادبیاتو کي د (ښکلو سرخېل) اصطلاح دود ده. سرخېل د نرینه کوچني لپاره ډېر ښکلی نوم دی.

**سردار:**

مشر، سرکرده، سرغنه، رئیس، په قام کي د واک او اختیار خاوند، قوماندان، سالار او د پوځ ستر افسر.

د سردار جمع سرداران دي. په افغانستان کي د محمدزیو د قبیلې هر غړی د سردار لقب لري. په افغانستان او هند کي معمولاً و سیکانو ته سردار وايي. افغاني سیکان د (سردار) کلیمه د کاکه، سرلوړي او باغیرته په مانا په ویاړ سره مني.

**سرشار:**

سرشار د ډک، لبالب، لبرېز، تر خولې پوري مانا لري. خو سرشارو سرشاره، کاکه، بې پروا او غښتلي سړي ته وايي. سرشار په بدخشان کي د یوه آباد کلي نوم هم دی.

اروانباد سرشار روشني د پاړسي او پښتو شاعر، لیکوال او ژورنالیست و.

سرشار ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**سرغندوی:**

سرغنه، مشر، لارښود، لارښوونکی او د سر سړی.

سرغندوی وړ او مناسب نرینه نوم دی.

**سرلوړی:**

سربلند، سرفرازه، مفتخر.

سره د دې چي سرلوړی ډېره لنډه کلیمه نه ده، خو په بشپړه توګه ډېره ښه مانا لري. سرلوړی وړ نرینه نوم دی.

**سرمست:**

سرمست و ځوان، کاکه، هغه څوک چي د شرابو مستي يې و سر ته رسېدلې وي، خرابات او بې پروا ته هم وايي.

استاد سليم سرمست د افغانستان د موسيقي د لويو استادانو څخه او همداسي کمپوزيتور او ډېر ښه (ترومپټ) ږغوونکی دی.

**سرود:**

نغمه، آواز، ساز، موسيقي، سندره، ټنګ ټکور، د انسان يا مرغۍ له خوښي او هيجان څخه ډکه نغمه.

ملي سرود د يوه هيواد رسمي ملي سندره ده.

سرود ډېر لنډ، ښکلی او نوی نوم دی.

**سروده:**

ښکلی هنري نوم دی. د هيواد د وتلي تبله وهونکي مرحوم استاد هاشم د لور نوم سروده دی.

**سرور:**

خوښي، خوشحالي، ساتېري، سماع.

سرور وړ او نوی نوم دی.

**نوټ:**

دغه کليمه د سر ور سره چي د لاربنود او مخکښ مانا لري توپير لري.

**سروش:**

د هغي پربنتې نوم دی چي د بندګانو د روزګار او ژوند چارواکه

ده (جبرییل). سروش و ښکلي نغمې او ښایسته آواز ته هم وایي.

سروش ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

در راه عشق وسوسهٔ اهرمن بسی است
پیش آی و گوش دل به پیام سروش کن
(حافظ)

**سرښته:**

سرشته، سررشته، بندوبس، بندوبست، سمبالونه.

څرنګه چي ښځه مور ده او مور ټوله کور او ژوند سمبالوي نو ځکه سرښته د ښځي لپاره تر ټولو وړ، ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**سکروټه:**

هغه اور چي تک سور لګېدلی او ځلېږي.

سکروټه ډېر نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**سکندر:**

د یار، ملګري، یاور او مرسته کوونکي مانا لري.

د مقدونیې پاچا و، چي ښخي ډېر هیوادونه یې نیولي او تر افغانستانه را رسېدلی و. سکندر رواج نرینه نوم دی.

**سکني:**

اصلي، سکه، حقیقي، هغه ورور او یا خور چي د یوه مور او پلاره څخه پیدا سوي وي. سکني تخلص دی، خو سکني تر ټولو ښکلی نوم هم دی.

**سکینه:**

له عربي ريښې څخه ده چي د آرام او آسوده مانا لري.

سکینه په هیواد کې رواج ښځینه نوم دی.

**سلا:**

مشوره، خوښه، مصلحت.

سلا لکه څلا ډېر لنډ، نوی او تازه ښځینه نوم دی.

**سلسله:**

لړۍ، ځنځیر، د ځنځیر کړۍ، پرله پسې والی. سلسله د ښځو یوه ګاڼه او زېور هم دی. (پاړسي لوز يې سِلسله او پښتو يې سَلسله دی). سلسله نوی، د ښې مانا لرونکی او خوږ ښځینه نوم دی.

**سلما:**

سلما په عربي ژبه کې د (اسلم) ښځینه بڼه ده. د انګرېزي ژبی Selma هم ښځینه نوم دی. سلما د افغانستان د راډیو تلوېزیون د یوې وتلې سندرغاړي نوم دی. سلما رواج او ښکلی ښځینه نوم دی.

**سلګۍ:**

سګلۍ، سوګلۍ، نیولې نیولې ژړا. سلګۍ سا کښل یا نفس ته هم وايي. سلګۍ تر ټولو ښکلی، لنډ، نوی او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**سلیقه:**

څوب، ذوق، طبعه، طبیعت.

څرنګه چي نجوني او ميرمنې ډېر وخت تر نارينه وو ښه ذوق او سليقه لري نو سليقه ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**سليمان:**

له ميلاد څخه لس پيړۍ وړاندی د داود عليه السلام زوی او د اسراييلو پاچا او پيغمبر و. سليمان رواج او معمولي نرينه نوم دی.

**سمبال:**

مجهز، آماده، په ټولو وسلو سمبال، مجهز او له ځانه پوره.

سمبال له آره هندۍ کليمه او ډير ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**سمسور:**

تروتازه، غوړېدلی، پوخ، رسېدلی، آباد، آبات، شين سوی.

همداسي سمسور غوړېدلو ونو، ګلونو او پاخه فصل ته هم وايي.

سمسور مناسب او نوی نرينه نوم او تخلص دی.

**سمندر:**

په پښتو ژبه کي سمندر ستر درياب (بحر) ته وايي.

سمندر ډېر ښکلی نوم او د ښې مانا لرونکی نرينه تخلص دی.

**سمون:**

انتظام، سمونه، تصحيح، برابري، جوړښت او تطابق.

سمون نوی، تازه او د لوړ کيفيت لرونکی نرينه نوم او تخلص دی.

**سنبل:**

سنبل يو ډول ښايسته ګل دی چي په ګلدان کي کرل کېږي او بوټي ته يې هم سنبل وايي. په پښتو او پاړسي شعر او ادب کي د معشوقې له زلفو څخه کنايه ده. سنبل ډېر ښه، نوی او ښايسته ښځينه نوم دی.

**سَند** (Sanad):

سند په لغت کي هغه څه ته وايي چي تکيه باندي کېږي. اهل حديث هغه خلګو او روشونو ته سند وايي چي روايت کوي. روايتونه ځکه سند بلل کېږي چي ملايان په هغو باندي د يوه حديث صحت او ضعف ټاکي. لنډه دا چي سند د حديث د باور بنسټ دی او هغه څه ته هم وايي چي باور باندي کېداى سي.

سند د ننګرهار د شينوارو په لويه ولسوالي کي د يوه وطنپالونکي نظامي افسر نوم دی. کله چي ما دغه نوم واورېد ډېر مي خوښ سو. سند نوی او ښکلی نرينه نوم دی.

**سندره:**

نغمه، بدله، غزله، ترانه، ټپه، ساز او آواز.

پښتانه سندره د ساز او سرود او همداسي د خوږو بدلو او شعرونو په مانا پېژني. اصلاً سندره هغه وزن لرونکی کلام يا نغمه ده چي د الفاظو يا آهنګونو د ترکيب، تناسب او يووالي څخه لاس ته راځي. د پښتو د ليکل سوي ادب په تاريخ کي د بيټ نيکه لاندنی مشهور مناجات لومړنی ثبت سوې پښتو سندره ده.

لويه خدايه، لويه خدايه

ستا په مينه پر هر ځايه

غـــر ولاړ دي درنـــاوي کـــي
ټولـــه ژوي پـــه زاري کـــي
(تذکرة الاولیاء)

سندره ډېر ښه، نوی، ادبي او خوږ نوم دی.

**سنځله:**

سنجت یا سنجته یو ډول ونه ده چي د ولي (بېد) غوندي سپیني خو کوچنی، اوږدې پاڼي او مېوه یې نازک سور پوستکی لري. وایي دسنجتو ګل چي یوه ژړبخونه شکوفه ده او له دغو ګلانو څخه د جوړو سوو عطرو بوی د ښځو شهوت زیاتوي.

په پکتیا کي اوس هم سنځله نوم سته. دغه نوم ډېر ښکلی دی.

**سندل:**

یو ډول خوشبویه او پسته شېریني ده چي معمولاً د چایو سره خوړل کېږي. د سندل عربي انډول صندل دی چي د هندي (چنډړه) څخه را خپل سوی دی. سندل غوره او خوږ نرینه نوم دی.

**سنګر:**

مورچل، مورچه.

ته په سنګر کي ځان شهید کړه
زه به سور شال ستا پر زیارت وغوړومه
(پښتو لنډۍ)

سنګر تر اوسه ځینو انقلابي زلمیانو د تخلص په توګه ایښی دی. خو سنګر ډېر خوږ او موزون نرینه نوم دی. سنګر د نامه په توګه مه

هېروئ. ارو ښاد محبوب سنګر يو تکړه انقلابي شاعر و.

**سنګين:**

دروند، پتمن، د وقار څښتن. د سپک په مقابل کي.

رېښه يې سنګيني ده.

سنګين دل است آنکه به ظاهر ملايم است

پنهـــان درون پنبـــه نګـــر، پنبـــه دانـــه را

سنګين ډېر لنډ، ښکلی او ادبي نرينه نوم او تخلص دی.

**سنګينه:**

سنګينه د سنګين ښځينه بڼه ده.

سنګينه ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**سوبمن:**

بريالی، فاتح، کامياب.

سوبمن نوم او تخلص دواړو ته مناسبه او ښکلې کليمه ده. سر څېړاند نصرالله سوبمن او سر څېړاند علی محمد سوبمن (منګل) د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړي دي.

**سورګل:**

سورګل، ښايسته ګل. "سور" په پښتو کي و تاوده، ګرم او سوځوونکي ته هم وايي. په پښتو ادب کي سورګل د ميني سمبول دی خو په انقلابي ادبياتو کي د راديکال او انقلابي مانا لري.

دغه نوم په کندهار او ګاونډيو ولايتو کي بشپړ رواج لري.

**سوزان:**

سوځوونکی، سوځنده.

ډېر خوږ او په زړه پوري نوم ښځينه دی.

**سوسن:**

د زمبک د کورنۍ څخه يو ډول پياز لرونکی ګل دی. سوسن نري اوږده بر ګونه، ښکلی او د ښه بوی لرونکي ګلان لري. ګلان يې شنه، ژړ او سپين رنګونه لري.

سوسن ډېر ښايسته ښځينه نوم دی.

سوسن د افغانستان د راډيو تلوېزيون يوه سندرغاړې ده.

شيرازي حافظ وايي:

از زبـــان سوســـن آزاده ام امـــد بگـــوش
کاندرين دير کهن حال سبکساران خوش است

**سونا:**

په ځينو ژبو کي طلا او سرو زرو ته وايي.

سونا لنډ او ښايسته ښځينه نوم دی.

**سونيا:**

سونيا نوی ښځينه نوم دی. دغه نوم په را وروسته کلونو کي زموږ په هيواد کي پراخ دود سوی دی.

**سهار - سحر:**

سهار، سهارمهال، ګهيځ.

ســحرگه وه د نــرگس لیمــه لانــده
څاڅکي څاڅکي یې له سترګو څڅېده
(نازو انا)

ســهار ســبا شــو پټېــږي ســتوري
خبــر رانــه غلــی د یــار لــه لــوري

سحر او سهار ډېر غوره نوم او تخلص دی.

**سهراب:**

سهراب د پاړسي ادب په لرغونو کیسو کي د (رستم) او (تهمینې) زوی دی. تهمینه د سمنګان د پاچا لور وه چي د رستم سره یې واده وکړ او سهراب ځني پیدا سو. سهراب پاړسي نرینه نوم او تخلص دی.

**سهېل:**

یو آسماني ستوری او ډېر ښه نوم او تخلص دی. پښتانه یې د جنوب په مانا سوېل هم کاروي.

**سهیلا:**

سهېلۍ، همزولې، ملګرې (دوې یا څو نجوني چي سره انډیوالاني وي پخپلو منځو کي سهېلۍ کېږي). سهیلا رواج افغاني نوم او د هېواد په ټولو سیمو کي اېښوول سوی دی.

**سیال ـ سیاله:**

مُځَی، برابر، انډول.

په قوم او ټبر کي سیال و رقیب ته ویل کېږي او همداسي سیال د حیثیت او اعتبار خاوند کس وي. سیاله د سیال ښځینه بڼه ده. په پښتني ټولنو کي تر (سیال) بل نامي، ښه او مناسب نرینه صفت او نوم نسته.

سیاله ډېر ښکلی ښځینه نوم دی. سیال او سیاله دواړه تخلص کېدای هم سي. خوشحال خټک وایي:

چي نه خال لري، نه زلفي، نه سرې شونډي
ځوک په څه وایي چي لمر د آشنا سیال دي

**سیاه مو:**

هغې نجلۍ چي تور وېښتان، توري کوڅۍ او توري زلفي لري. پښتو انډول یې تورپېکۍ دی. د افغانستان په فولکلوري ادب کي د (سیاه موی او جلالي) نکل ډېر نوم لري. په دغه کیسه کي ډېري ارمانجني څلوریځي راغلي دي چي ځینو سندرغاړو په ارمانجن آواز ویلي دي. سیاه مو ښکلی ښځینه نوم دی.

**سیاوش:**

تور ډوله، توره کی، تور وشمه.

په شاهنامه کي د کیکاووس د زوی نوم دی.

سیاوش کسرایي نامتو معاصر ایراني شاعر و چي ډېر ژوند یې په افغانستان کي تېر کړی او وروسته بیا په افغاني پاسپورټ ختیځي اروپا ته ولاړ، په چکوسلواکیا کي مړ او ښخ سو.

د سیاوش کسرایي د نامه مانا "هغه تور وشمه چي پاچهان یې خوښوي". سیاوش ډېر ښکلی پاړسي نوم دی.

**سیتا:**

د هندو خدایانو د یوه بګوان د مېرمنې نوم دی. ډېر افغاني هندوان پر خپلو لوڼو دغه نوم ایږدي. سیتا ښکلی او لنډ ښځینه نوم دی.

**سیکه:**

بڼه، څېره، قیافه، رنګ، قواره شکل.

سیکه د فلزاتو او په تېره بیا د سپینو او سرو زرو ټوټه ده چې د پاچا یا ملکې عکس باندې انځور سوی او یا په ځینو نخښو او څېرو سره مشخص سوی وي (جمع یې سیکې دي).

د سیکې مجازی مانا ښکلا او ښایست دی. سیکه د دولت رسمي پیسه ده. سیکه تر ټولو ښکلی ښځینه نوم دی.

**سېلاب:**

ځپه، د اوبو سیل. هغه ډېرې اوبه چې د باران له کبله پر مځکه راسي یا د رودخانې د خروښ پر وخت داوبو تند جریان.

سېلاب ښکلی نوم دی او ډېره ښکلې مانا لري. شهید سېلاب ساپی د پښتو ژبې ډېر نازکخیاله غزلبول شاعر او کمپوزیتور و. ده ډېرو هنري استادانو ته غزلې ویلې او کمپوز کړې دي.

سېلابي یعني هغه څه چې د سېلاب سره تړاو لري. سېلاب او سېلابي دود سوی انقلابي تخلص دی.

**سیلاني:**

ننداره کوونکی، سیل کوونکی، آګاه، هوښیار.

د نامه او تخلص لپاره ډېره په زړه پوري کلیمه ده.

**سېلۍ:**

څپلۍ، توپان، تېز باد.

سېلۍ ډېر په زړه پوري، ښکلی او لنډ ښځینه نوم دی.

**سیما:**

څېره، مخ، صورت، بڼه، تندی، باړخو، اننګي.

سېما ترانه د افغانستان یوه وتلې سندرغاړې ده چې اوس په کاناډا کي اوسېږي.

**سېماب:**

سېماب ته په پښتو کي پاره وايي. پاره یوه سپینه مایع ماده چي د هیندارو په جوړولو او طبي دواوو کي په کارېږي.

سېماب وتلی ښځینه نوم دی.

**سیمبر – سیمتن:**

دغه دواړي پاړسي کلیمې یوه مانا لري. یاني هغه څوک چي بدن يې لکه سپین زر داسي ښکلی او سپین وي. دواړه ښځینه نومونه دي. د پاړسي ژبي خوږ ژبی شاعر سحر مهجور وایي:

خندان بـه بـرم آمـده ان سـیمبر امـشب
از شـوق رخـش میتپـدم دل بـه بـر امـشب

عمری بـه فـراقش دل مـن غرقـه بخـون بـود
شادم که بـه وصلش شده ام مفتخر امشب

**سیمین:**

د سپینو زرو، لکه سپین زر داسي ښکلی او سپینه نجلۍ.
رواج پښتو او پاړسي ښځینه نوم دی.

**سیند:**

دریاب، دریا، دریاچه، رود، رودخانه.
په ژبپوهنه کي سیند قاموس یا د لغتونو کتاب ته وایي. خان محمد سیند یو تکړه شاعر او لیکوال دی.
سیند ښکلی نرینه نوم او تخلص دي.

**سینګار:**

ګاڼه، ښکلا، د ښځو له خوا د ځان او مخ ښایسته کول، پوډر وهل. سینګار ډیر غوره ښځینه نوم او تخلص دی.

# ش

**شاباز:**

د ښځي د تندي د ښې او کيڼې خواوو هغه نازکي کوڅۍ کړي وېښته يا چوټيګان دي چي د دواړو غوږونو خواوو ته اړول کېږي. د سر د دوو خواوو زلفي.

د کندهاري خامک په اصطلاح د خامکي غاړي د څنډي کار ته شاباز وايي. په کندهار او ځينو نورو سيمو کي د شاباز نوم د پخوا څخه رواج و. شاباز ډېر ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

پر خپل شهباز نوي نغمې وکړو؟
خاورو ته وسپارو شناخته سورونه
لـه سـره وزېـږوو نـوي کيـسې
لـه سـره وليکـو تـازه نکلونـه
(عبدالباري جهاني)

**شاه بخته:**

چي د پاچا غوندي بخت ولري، ډېره بختوره.
شاه بخته يو ښځينه نوم دی.

**شاه ترينه:**

غنمينه. شاه ترينه د پخوا څخه پېژندل سوی ښځينه نوم دی. د

پښتو په ولسي ادب کې شاه ترینه د خشکیار مَیَنَه او بیا یې مېرمن وه.
د شاه ترینې او خشکیار نکل د ارواښاد محمدګل نوري په (ملي هینداره) کې کښل سوی دی.

**ښاخله:**

څانګه، د ګلو لښته.

ښاخله نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**شاداب:**

اوبه سوې کرهېیزه مځکه، تر او تازه، خوشحاله او سرشاره.

شاداب ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**شادان:**

ښاد، خوشحاله، خوشدل.

عبدالله شادان د هیواد تکړه رسنوال (ژورنالیست) او دکلمه چې دی چې د بي بي سي په پاړسي څانګه کې کار کوي.

شادان ډېر ښکلی او په زړه پوري نرینه نوم دی.

**شاذ:**

نادر، کمیاب. هغه څه چې لږ پیدا کېږي او یا نه پیدا کېږي، نو ځکه ګران او قیمتي وي. شاذ ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**شاذیه:**

شاذیه د شاذ چې د نادر او کمیاب مانا لري ښځینه بڼه ده.

شاذیه چي اکثره خلک یې په ناسمه توګه په (ز) لیکي خورا ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**شاکر:**

شکر کښونکی، شکر کوونکی، شکرګذاره، خوښ، قانع، راضي. شاکر ښکلی نوم او تخلص دي.

اروابناد نوراحمد شاکر د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد او د بنسټ ایښودونکو څخه و. (د افغانستان ژبنی اطلس) د ده تر لارښوونې لاندې ترتیب سوی دی. نوموړی د وېښ زلمیانو تکړه غړی او ستر وطنپال شخصیت و. استاد شاکر بې له شکه له نړۍ څخه یو پرښته انسان تېر سوی دی.

**ښاپېرۍ - شاهپري:**

یو خیالي او افسانوي ښځینه موجود دی چي تر اوسه چا په سترګو نه دی لیدلی. په پښتو ادب کي دغه خالی موجود د ښکلا او ښایست د سېمبول په توګه یادېږي.

په پښتو ولسي ادب کي د ښاپېرۍ جسمي انځور داسي اټکل کېږي: شاپېرۍ یو ښکلی ښځینه موجود دی چي مناسب بدن، نرۍ ملا او دوه اوږده نازک او ښکلي وزرونه لري چي په الوزي.

ښاپیرۍ یا شاهپري د پخوا څخه په هیوادکي رواج نوم دی. د افغانستان د راډیو تلوېزیون د ښکلي او نامتو سندرغاړي (نغمې) نوم ښاپېرۍ یا شاهپري دی.

شاپېرۍ چي لیده نه شي سبب دا دی
مخ دا ستا له شرمه نغاړي په حجاب کي

***

زه طالب احمد ین ځکه پکښې خوښ یم
چې وطن د شاپېرو مې دی موندلی

**شاپور – شاهپور:**

شاپور، شازاده، د پاچا زوی.

شاپور یا شاهپور ښایسته نوم او تخلص دی چې له پخوا څخه په هیواد کې دود سوی و.

**شاه جهان:**

د ټولې نړۍ پاچا، چې ټوله نړۍ یې تر ولکې لاندې وي.

شاه جهان د مغولي دورې یو شاعر اوپر هنر مین پاچا و. ده د هند (تاج محل) مانۍ خپلې مېرمنې ته جوړه کړې ده.

شاه جهان دود او ښکلی نرینه نوم دی.

**شاهانه:**

سلطنتي، شاهي، د شاه، د پاچا په تړاو.

شاهانه په پښتو او پارسي کې ښکلی، خو نوی او ډېر وړ ښځینه نوم دی.

**شاهد:**

لیدونکی، شاهدي ورکوونکی، چا چې کومه پېښه یا کار پخپلو سترګو لیدلی وي.

په پارسي ادب کې شاهد د ښکلي نرینه معشوق او محبوب مانا

لري. په دواړو ماناوو سره شاهد ښکلی، ډېر نوی ، د ښې مانا لرونکی او لنډ نرینه نوم دی.

مستی به چشم شاهد دلبند ماخوش است
زانرو سپرده اند به مستی زمام ما
(حافظ شیرازی)

**شاهرخ:**

پیمخی، ښکلی، پاچا ډوله، ښایسته.
شاهرخ پارسي نوم او تخلص دی.

**شاهزاده- شازاده:**

شهزاده، پاچا زاده، د پاچا زوی.
دغه نوم ډېر پخواني دی او په تېره بیا د هیواد په جنوب لوېدیزو ولایتونو کې ډ پردود دی. همدا شهزاده د درانه، سنګین، کاکه او معتبر زلمي صفت دی. وایي: "پلانی ډېر شاهزاده سړی دی". شاهزاده ښکلی نرینه نوم او تلخص دی.

**شاهکار:**

پخه چاره، پوخ کار، څرګنده او ستره چاره، یو اثر چې په ډېر مهارت، استعداد او ظرافت سره را منتځه سوی وي. تر ټولو ستر هنري اثر یا کار.
شاهکار د ښې مانا لرونکی، ښځي نوی نرینه او ښځینه نوم دی.

**شاهناز:**

ډېره نازولې، پاچا نازولې، هغه ښځه چې په دربار کې لوړ مقام لري. دغه په ټول هیواد او دواړو پښتو او پارسي ژبو کې رواج نوم دی.
شاهناز ښکلی او ادبي ښځینه نوم ګڼل کېږي. نرینه بڼه یې شاهنواز دی.

**شاهنواز:**

پاچا نازولی، هغه سړی چې په دربار کې مقام لري (ښځینه څېره یې شاهناز ده)، شاهنواز له پخوا څخه خال خال رواج نوم و.
شاهنواز تڼی د افغانستان د وسله وال پوځ یو زړه ور جنرال و چې وروسته یې د نجیب الله پر ضد د ناکامي کودتا هڅه وکړه او پاکستان ته وتښتېدی. شاهنواز جانباز یو تکړه رسنوال دی چې په استرالیا کې اوسېږي. شاهنواز ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**شاه ګله:**

ښکلی ګل، هغه ګل چې د پاچهانو خوښېږي. شاه ګله له پخوا څخه په کندهار او ځینو محمدزیو کورنیو کې رواج ښځینه نوم و.
دغه نوم ښکلی او لنډ دی خو زیاتره د ښځو لپاره د کورني لقب په توګه کارول کېږي.

**شاهین:**

یو ډول ګربت (عقاب) ته ورته زړه ور ښکاري مرغه دی چې ژړ رنګ، خالداره وزرونه، پیاوړي پنجې او تېره مشوکه لري. دغه مرغه د ډېرو لوړو غرونو پر سر الوزي.
شاهین تر اوسه د تخلص په توګه لیدل سوی دی خو شاهین

ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

به پرواز آو شاهیني بیاموز
تلاش دانه در خاشاک تا کی

**شایان:**

وړ، ډېر بیه لرونکی، لایق، مناسب، هغه څوک چي ډېره وړتیا لري. ښکلی نوم او تخلص دی.

**شایګان:**

وړ، لایق او خوښ سوی. شایګان د ګران او قدرمن ماناوي هم لري. شایګان ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**شباب:**

ځواني، زلمیتوب.

سره له دې چي شباب د عربي ریښي څخه دی خو ښه مانا هم لري او ښکلی نوم دی. طاهر شباب د افغانستان د راډیو تلوېزیون ځوان سندرغاړی دی چي ډېري مستي پښتو سندري وایي.

ای دل شباب رفت و نچیدی گل زعمر
پیرانه سر مکن هوس ننگ و نام را
(حافظ)

**شبان:**

چوپان، ساتونکی. هغه څوک چي پسونه، وزې او د غویانو رمې پیایي او ساتي. شبان مناسب تخلص او ډېر ښه نوم دی.

**شبانه:**

شبانه ډېر ښه ادبي، لنډ او نوی ښځینه نوم دی.

د وتلي سندري غاړې پرستو د لور نوم شبانه دی. د دې بله لور بهانه نومېږي. همداسی د انګلستان په پارلمان کي د برهمنګم د ایالت وکیله شبانه محمود نومېږي. نوموړي د دي هیواد د ګارګر ګوند غړې ده.

**شبناز:**

هغه څوک چي د شپې ښه ناز کوي یا چي د شپې له خوا ښکلی ښکاري. شبناز ښکلی ښځینه نوم دی.

**شبنم:**

پرخه، شونم، شګنم.

شبنم په پښتو کي نرینه خو په پارسي کي ښځینه بهه ده. په دواړو ژبو کي بېخي زیات لنډ او ادبي نوم دی.

چي په لړه ګرځي شا کړې و آشنا ته
نور و ما ته بې وفا لکه شبنم شوې
(سکندر خټک)

**شبو:**

شب بو، د شبو ګل، یو ډول ګل دی، شېرچایي، ژړ او سپین رنګونه لري. جګواله يې تر نیم متر لږ ده، د شپې يې د ګلانو خوشبويي خورا زیاته وي نو ځکه شبی یا شب بو نومېږي.

لږ تر لږه په کندهار او شاوخوا سیمو کي د پخوا څخه رواج نوم

دی. زه چي ډېر کوچنی وم يوه پخه ګاونډۍ ښځه مي په ياد ده چي شبو خاله نومېده.

## شپنه:

شپنه، شپون توب، رمه پونه، د بوزو او مېږو څرړ.

شپنه ډېر ښه، ښکلی، لنډ، نوی او ادبي نوم دی. د هيواد دتکړه ژورناليست ايمل پسرلي لور شپنه نومېږي.

## شپون:

شپنکی، شپنه، شپونکی هغه څوک دی چي د بوزو او پسونو رمې پيايي او ساتنه يې کوي. استاد سعدالدين شپون د افغانستان وتلی رسنوال او داستان ليکونکی دی چي په کره کتنه کي هم لوی لاس لري. دی په امريکا کي اوسېږي.

شپون د ماشوم لپاره ښکلی، پښتني، نوی او ادبي نرينه نوم دی.

## شپېلۍ:

تولکه، تولۍ، توله، نی، شپېلکه، شمامه. د پو کوونکو آلو له ډله څخه يوه اوږده استوانه يې ډوله آله ده چي ښکلی آواز او لوړ فريکانسي (Pitch) لري. د موزيک دغه آله زموږ په هيواد کي ډېر لرغونی تاريخ لري.

ويديايي سرودونه ښيي چي شپېلۍ نږدې (۴۰۰۰) کاله پخوا د بلخ او باختر په دربارونو کي وهل کېده. چينايانو همدغومره کلونه پخوا د (لنک لن) په نامه يو هنرمند د شپېلۍ د زده کولو لپاره بلخ ته رالېږلی و.

شپېلۍ ډېر ښکلی نوی او ادبي نوم دی.

زه چې زلمی و مه کلونه پخوا
مـــا د دې غرونو په لمنو کې شـپېلۍ ږغـول
يو څه ځواني وه، څه مستي وه، څه موسم د ګلو
(عبدالباري جهاني)

**شتاب:**

بېړه، تلوار، تېزي.
شتاب يوازې مناسب تخلص دی.

**شراره:**

د اور ټوټه، بڅرکی، د لمبې او اور ډېره وړه ټوټه.
شراره ډېر ښايسته ښځينه نوم دی.

**شربت:**

خوږوبي، خوږې سوې اوبه، د مېوو ايستل سوې اوبه، هغه مايع چې په بوره، شکره او يا د مېوو په شيره سره خوږه سوې وي. کله هم د (ګل) پيشاوند ورسره نښلوي، لکه: شربت ګله.

شربت نرينه او ښځينه نوم کېدای سي.

په ۱۹۸۰ کال د پېښور د ښار د مهاجرو په يو کمپ کې يو امريکايي عکاس د يوې پښتنې نجلۍ چې (شربت ګله) نومېده عکس واخيستی. د دغې نجلۍ د زرغونو سترګو عجيب جذابيت دغه عکس ته نړيوال شهرت ورکړ. اوس دغه عکس د اکثرو افغانانو او بهرنيانو په کورونو او دفترونو کې ځوړند وي.

**شرق:**

ختیځ، لمر خاته، د یوه چا د ښي لاس سمت، هغه خوا چې لمر ځني راخېژي. د لوېدیځ مقابله خوا.

شرق د افغانستان د یوه پخواني لومړي وزیر تخلص و.

شرق ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**شرنګه:**

شرنګهار، شرنګول، شرنګی، شرنګېدل، شرنګا.

د فلزاتو یا ښیښو څخه د جوړو سوو شیانو د لګېدلو یا جنګېدلو آواز. شرنګ او شرنګه نهایت ښکلي نومونه دي. ما له ډېر پخوا څخه په کندهار کې دغه نوم اورېدلی دي.

شاپېرۍ یې دي په هورته هورته ګرځي
نن په دا لوري د شاه د باهو شرنګ دی
(خوشحال خټک)

**شعور:**

درک، فهم، پوهه، بصیرت، عقل.

شعور په زړه پوري تخلص او ښکلی نرینه نوم دی. اسدالله شعور د افغانستان یو تکړه څېړونکی او فکلور پیژندونکی دي.

**شفا:**

روغتیا، جوړتیا، روغوالی، د ناروغۍ ضد.

شفا ډېر ښکلی ښځینه نوم او تخلص دی.

**شفق:**

**د لمر لوېدو په پيل کې د لمر د روښنايۍ سوروالی.**

په دا تشت کې هره ورځ وينې توېږي
ښکاروليږي هر ماښام کاندي شفق
(خوشحال خټک)

**شفق مناسب تخلص او ډېر ښکلی ادبي نوم دی. شفق بايد له شفيق سره چې بېله مانا لري ګډ نه سي.**

**شقايق:**

**لاله، رېدی، يو سور ګل دی. شقايق د خاشخاشو بوټي ته ورته ګل دی چې زياتره په لندو او غرنيو سيمو کې وده کوي، لس سانتۍ جګوالی لري او ګل يي يوازي څلور پنځه پاڼي لري. د لاله ګل هم ور ته وايي. شقايق ښکلی او د ښې مانا لرونکی نوم دی.**

**شکره:**

**بوره، قند:**

**زما په اند شکره د نړۍ په ټولو ښځينه نومونو کې ډېر خوږ او خورا نوی نوم دی.**

ستا خبري خوند وري
ښې خوږې لکه شکري
(پښتو بيت)

**شکوفه - شکوپه:**

**د مېوو لرونکو ونو هغه ګلان دي چې په پسرلي کې له پاڼو نه پخوا**

غوړېږي. شکوفه یا شکوپه ډېر ښکلې خوږ او رواج ښځینه نوم دی.

## شِکوَه – شُکوه:

شِکوه او شکوه د لومړی د (ش) په زېر او د (و) په زور او دوهم د (ش) په پېښ دوې بېلې کلیمې دي. لومړی یې نخره، مانه او ګیلې ته وایي خو دوهمه یې پر تم، شان، جلال، او حشمت مانا لري.

دواړه ښکلي، نوي او لنډ ادبي نومونه دي.

## شکیب:

زغم، صبر، آرام، تحمل.

افغاني نوم دي، ښه مانا لري او ډېر لنډ دی. ښځینه بڼه یې شکیبا ده.

## شکیبا:

زغمناکه، صبر کوونکې، آرامه، تحمل کوونکې.

شکیبا په را وروسته وختونو کي ډېر رواج سوی لنډ او ښکلی نوم دی. نرینه بڼه یې شکیب ده.

## شکیلا:

د عربي شکیل له کلیمې څخه ده. یاني هغه څوک چي ښه شکل او څېره لري. شکیلا ښکلې ښځه، سپینه او سره ښځه ده خو د زړه وړونکي نجلۍ مانا هم لري. په را وروسته کلونو کي له ډېرو دود سوو نومونو څخه دی. ښه مانا لري او خوږ ښځینه نوم دي.

**شگوفان:**

غوړېدلی، و پوخوالي ته رسېدلی. هغه څه چې ډېره وده یې کړې وي. شگوفان نرینه نوم او تخلص دی. پښتو انډول یې سمسور دی.

**شلنډه:**

شلنډ یا شلنډه هغه چاغ زلمي او یا چاغي نجلۍ ته وایي چې یو څه په غوښه پټ وي. پخوا د افغاني ټولني په کلتور کي د زلمي او نجلۍ لپاره شلنډوالی د ښکلا، ښایست او ښه ایسېدلو لومړنی بنسټ و. وایي: "شلنډه منډه نجلۍ". شلنډ ډېر نوی او ښکلی نرینه او ښځنه نوم دی.

**شمال:**

باد، نسیم، تازه چلېدونکې هوا.

شمال په زړه پوري نرینه نوم او تخلص دی. نسیم شمال نامتو ترکی طنز لیکونکی دی چې نړیوال شهرت لري.

**شمشاد:**

شمشاد یوه لوړه، دنگه غرنۍ ونه ده، چې گردۍ پاڼي لري. شمشاد په تورخم کي د یوه لوړ غره نوم دی چې هسکه څوکه یې شهرت لري. شمشاد په افغانستان کي د یوه مشهور راډیو تلوېزیون نوم دی چې په پښتو ژبه خپروني کوي. د دغه تلوېزیون څښتن وطنپال شخصیت حاجي فضل کریم فضل دی.

شمشاد ډېر لوړ نوم او تخلص دی.

**شمله:**

جوغه، کتوه، شلکی. د لونګۍ یا لنګوټې هغه برخه چې جګه ولاړه او یا اکثره کښته ځوړنده وي. په پښتنو کې شمله د نارینه توب نخښه ده. د پښتنو د غیرت او مېړاني دروند مفهوم په شمله کې پروت دی. شمله لنډ او خوږ ښځینه نوم دی.

**شمله دار:**

شمله لرونکی، باعزته، غیرتي.

شمله دار ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

اروانښاد نصیر شمله دار د ننګرهار ولایت یو وتلی مبارز شخصیت و. دی په خټه شینواری او د هیواد د پارلمان غړی و. نوموړي د ننګرهار او شینوارو په خلکو کې ډېر ښه نوم او ګرانښت درلود.

**شنه/شینکۍ:**

د کورنۍ مشران هغه نجلۍ چې ښکلي شنې سترګي لري شنه بولي. خو (شینکۍ) د (شنې) د ناز ښه ده او له پخوا څخه دود نوم دی. د سترګو شین والی په ډېرو ختیځو هیوادونو او زموږ په هیواد کې د ښکلا نښه ده.

**شور:**

غوغا، چیغې، نارې سورې، زوږ، غالمغال، جګړه، جنګ، د خولې جنګ، خوشکه، قهر، تهدید، هیجان. د صوفیانو په اصطلاح شور هغه خاص حالت دی چې سالک عارف ته د حق د کلام او عبرتي خبرو د اورېدو او یا د سماع او رقص په حال کې ورپېښېږي.

شور ډېر ښه لنډ او ښکلی نرینه نوم دی.

شهید آصف شور د افغانستان د وسله وال پوځ یو وتلی او زړه ور جنرال و چې د وخت واکمن ډاکټر نجیب الله د کودتا کولو په تهمت وواژه.

**شورش:**

ښورښ، حرکت، طلاطم، غالمغال، بلوا، ګډوډي، اعتشاش، بې نظمي، هیجان. شورش یا ښورښ ډېر ښکلی نرینه نوم دی. په لندن کې یو مبارز او مهربانه شخصیت د نادر شورش په نامه ژوند کوي.

**شوکت:**

برم، پرتم، شان، عزت، سامانه.

شوکت ښایسته او په زړه پوري نرینه نوم دی.

**شهاب:**

لمبه، د اور لمبه، ستوری، روښانه ستوری.

شهاب نرینه نوم او تخلص دی.

**شهباز:**

سپین غټ باز، ښه ښکاري باز، په بازونو کې تر ټولو وتلی باز، د الوتونکو مرغانو د ښکارولو لپاره روزل سوی باز. د خوشحال خان ورنیکه هم شهباز خان نو میدي. شهباز ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**شاهبال/شاهپر:**

شاهبال او شاهپر یوه مانا لري. د دغو نومونو لنډه بڼه شهبال او

شهپر دي. شاهبال او شاهپر د الوتونو مرغیو د وزرونو هغو اوږدو او سترو بڼو ته وايي چې د هوا په لوړو او جګو برخو کي الوتل باندي کوي. اروانباد شهرالله شهپر د هیواد یو سیاستوال او د دری ژبې شاعر و، په فاریاب ولایت کي زیږېدلی او د کابل مزار پر لاره جهادیانو وواژه. عظیم شهبال د دری ژبې شاعر دی چي په کابل کي زیږېدلی او په جرمنی ژوند کوي.

**شهرناز:**

هغه ښکلې ښځه چي ټول ښار په نازېږي او یا هغه ښکلې چي ټول ښار یې نازوي. شهرناز ډېر ښکلی نوم دی. خو باید پام وسي چي شهر ناز د (شهناز) سره توپیر لري.

**شهزاده:**

پاچازاده، د پاچا زوی، ډېر دروند، پوه او سنګین ځوان. په پخوا زمانو کي شهزاده یوازي د پاچا د کورنۍ د ټولو ځوانو غړو لقب و. ښځینه بڼه یې شهزادګۍ ده. شهزاده ښکلی او دود نوم دی.

**شهلا:**

شین وشمه توري ښایسته سترګي، توري مېښي سترګي (د ښځي). شین وزمه سترګي په ادب کي د سترګو کنایه ده. یو ډول نرګس هم شهلا نرګس نومېږي.

شـــا وخوا زه پیرمحمـــد د صـــنم کېـږم
پورته نه کړې راتـه هیڅ سترګي شـهلا
(پیرمحمد کاکړ)

**شهناز:**

شاه ناز، د شاه نازولې، چې پاچا يې نازوي، د ډېر ناز وړ، ډېره نازولې نجلۍ.

شهناز ډېر ښکلی ښځينه نوم او هر چيري دود دی.

**شهو:**

شها، شهی، مابوبا، مينه.

د پښتو په ولسي ادب کي د شهو او دلي کيسه مشهوره ده. شهو د دلي مَيَنَه او وروسته مېرمن سوه.

شهو لنډ او ښکلی ښځينه نوم دی.

**شېبه:**

لحظه، دم، گړی، لږ وخت.

که په شېبو باران اورېږي
زما پخپل جانان باور دي را به سينه
(پښتو لنډی)

ستا د يادونو په خوږه لړی کي
دا اوږده شپه راته يوه شېبه سي
(فدا نظري)

**شېرخان:**

شيرخان ناشر نوميالي ليکوال، تاريخ ليکونکې، يو وخت هم د قطغن او بدخشان نايب الحکومه او روڼ اندي شخصيت و. د افغانستان په شمال کي مشهور (شېرخان) بندر او شيرخان لېسه د

هغه په وياړ نومول سوي دي. دغه كورنۍ د (ناشر) كورنۍ په نامه هم يادېږي. د دې كورنۍ وروستى غړى خوږ آوازه سندرغاړى فرهاد دريا دى.

شېرخان ښكلى نرينه نوم دى.

## شيدا:

مين، زړه بايللى، د جذباتو خاوند. د پښتو كلاسيک شاعر كاظم خان (شيدا) لومړى مين تخلص كوى.

ټول افغانان د افغانستان ډېر ښه سندرغاړي استاد شيدا هم پېژني.

شيدا ښه تخلص او خوږ ادبي نرينه نوم دى.

## شېرزوى:

شېرزاد، د زمري زوى.

د كندهار او بيا د ننگرهار والي گل آغا شېرزوى تخلص كوي، چي د دغو ښارونو په آبادولو كي يې زړه وړتيا او وړتيا د يادولو وړ ده. نوموړى د كندهار د نامتو مجاهد حاجي عبداللطيف زوى دى.

## شېرشاه:

زمرى پاچا، دلاوړ پاچا.

سوري شېرشاه په هند كي يو پښتون پاچا و. شېرشاه ښه او مشهور نوم دى. زما (نظري) د اوو زامنو څخه د څلورم زوى نوم هم شېرشاه دى.

**شېرينه/ شېرين:**

خوږه، خوږ لکه بوره، شکره.

ځيني دغه نوم ته د (شير) يا شيدو سره تړاو ورکوي.

د شېرين ښځينه بڼه شېرينه ده، چي په پارسي ژبه کي يې ښځينه بڼه هم (شېرين) تلفظ کېږي.

شيرينه په ولسي ادب کي د فرهاد د ميني نوم و. په پښتني سيمو په تېره بيا په کندهار کي د شېرين نوم د نارينه او د شېريني نوم د نجونو لپاره خورا دود دی.

من نه آنم که دو صد مصرع رنگين گويم
همچو فرهاد يکی گويم و شېرين گويم
(...)

**شيفته:**

مين، عاشق، چي زړه يې بايللی وي.

شيفته د تخلص په توګه موجود و. خو شيفته ډېر ښکلی لنډ او ادبي نرينه نوم دی.

**شيبا:**

مينه، شيفته، آشفته، لېونی.

شيبا ډېره ښه مانا لري او ښکلي نوم دی.

**شيلا:**

شيلا د شيلان سره تړاو لري. شيلان يا عناب د سنجتي غوندي يوه مېوه لرونکې ونه ده. چي مېوه يې هم شيلان يا عناب نومېږي. دغه

میوه وچه او لانده خوړل کېږي.

دغه ډېر رواج او ښکلی ښځینه نوم دی.

**شیما:**

په را وروسته څو لسیزو کي ډېر رواج ښځینه نوم دی او د افغانستان په ګوټ ګوټ کي ایښودل کېږي.

**شین خالۍ:**

شین د آسمان او ژور سمندرګي رنګ دی، "شین" د زرغون او چوښیا تر منځ رنګ دی. په پښتني رسم او رواج کي نجوني د ښایست لپاره پر بدن په تېره بیا پر تندي، باړخو او زنه باندي شنه خالونه وهي.

شین خال په تېره بیا پر تندي ډېر ښکلی وي. شین خالۍ ښکلی، خوږ او نوی ښځینه نوم دی.

**شینلۍ:**

دغه کلیمه و تازګۍ ته وایي، تازه ګلان او واښه. دغه کلیمه په اصل کي مذکر یعني نارینه ده: شینلي یا شنیلي. خو ښځینه څېره یې شینلۍ ده. ښکلی، لنډ، پښتو او نوی نوم دی.

**شینواري:**

د شینوارو د قبیلې هر غړی.

شینواري د پښتنو یو مشهور ټبر دی. شینواري د ننګرهار ولایت یوه لویه ولسوالي وه چي راوروسته پر ۸-۷ ولسوالیو وویشل سوه. همداسي شینواري د پروان ولایت هغه ولسوالي ده چي مرکز یې

(قاشقار) نوميږي.

شينواري زياتره د شينوارو د قوم د غړو تخلص وي. خو تر ټولو مهم په خپله د شينواري نوم دی چي پر ماشومانو کښېښودل سي، که څه هم د شينوارو د قوم څخه نه وي.

**شيوا:**

روان، فصيح، بليغ، بې قيده، رسا.

شيوا ښکلی ښځينه نوم دی.

**شېوه:**

لاره، طريقه، اصل، روش، قاعده، ترتيب، خوی، عادت. همداسي شېوه ناز، مکيز او کرشمې ته هم وايي. دلته د شېوې د کليمې څخه زموږ مقصد همدغه دويمه مانا ده.

شېوه ډېر ډېر خوږ، ښکلی، نوی او د ښې مانا لرونکی ښځينه نوم دی. حافظ وايي:

رسم عاشق کشی و شيوۀ شهر آشوبی
جامه است که بر قامت او دوخته بود

نرگس همه شيوه های مستی
از چشم خوشت به وام گرفت

بباختم دل ديوانه و ندانستم
که آدمی بچۀ شيوۀ پری داند

ناز پرورد تنعم نبرد راه به دوست
عاشقی شيوۀ رندان بلاکش باشد

**خواجو وايي:**

صـيد ملـخ شـيوهٔ شـهباز نيـست

**حافظ په نورو ځايونو کي وايي:**

نرگس كرشمه ميبرد از حد برون خرام
ای مـن فـدای شيوهٔ چشم سـياه تـو

شـيوهٔ چـشمت فريـب جنـگ داشـت
مـا غلـط كـرديم و صـلح انگاشـتيم

**دلته د نورو مثالونو لپاره بشپړ وخت نسته، که نه پر شېوه او د هغه پرپه کار وړلو بشپړ کتابگوټی ليکل کېدای سي.**

**وروستي بيت بيا هم د حافظ دی:**

چشم حافظ زير بام قصر آن حوری سرشت
شيوهٔ جنات تجری تحتها الانهار داشت

# ښ

**ښادمن:**

خوښ، خوشحاله، بریالی، موفق، ښاد سوی.

ښادمن لنډ، نوی، خوږ او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

**ښاده:**

ښاده د ښادمن او ښاد ښځینه بڼه ده.

پښتنې تل وايي: "ښاده سې" ، "ښاده مراده سې".

ښاده د ښځي لپاره تر ټولو خوږ، نوی او ښکلی نوم دي.

**ښارو:**

د کوتري په اندازه وړوکی مرغه دی چي د انسان د وینا پېښې کوي. په ځینو پښتني سیمو کي یې مینا بلی. ښارو نوی او ښایسته ښځینه نوم دی.

**ښایسته:**

ښکلې، آغلې، ډولي، حسینه، د ښکلي مخ او قوارې څښتن.

پاړسي بڼه یې (شایسته) ده چي د وړ او لایق مانا لري. په کندهاری پښتو کي د نارینه او ښځي دواړو نوم کېدای سي.

ښايسته ښکلې، خوږه او لنډه کليمه ده. کله چې دغه کليمه د نارينه نوم سي نو يې ښايسته خان بولي.

**ښکارندوی:**

ښکاره، څرګند، جوت، معلوم، مشهور، نوموتی.

ښکارندوی د پښتو يو خورا پخوانی شاعر دی. د ده پلار احمد نومېدی او د سلطان شهاب الدين غوري په وخت کې د غور د فېروز کوه حاکم و(ښکارندوی د ښکاري مانا نه لري). ښکارندوی غوره، نوی او د ښې مانا لرونکی نرينه تخلص دی.

**ښکلا:**

ښايست، حسن، ډول، جمال. هغه څه چې که په يوه څيز او يا چا کې وي او وليدل سي نو د کتونکي يا اورېدونکي خوښيږي او پام يې ورته اوړي.

په را وروسته کلونو کې ښکلا خورا دود سوی ښځينه نوم دی.

**ښيښه - شيشه:**

هغه شفافه او صافه تخته يا قطعه ده چې د يخنۍ د مخنيوي او روښنايۍ لپاره کړکيو او دروازو ته اچول کېږي. ښيښه په نړۍ کې د ۲۰۰۰ کلونو راهيسي رواج لري او په الماسو سره پرې کېږي.

ځيني خلک هينداري يا آينې ته چې د شيانو تصوير منعکسوي هم ښيښه وايي. د کنايې په توګه د ښيښې ستر مفهوم او مانا پاکوالی او سپېڅلتيا ده.

ښيښه يا شيشه ډېر ښه، نوی او لنډ ښځينه نوم دی.

# ص

**صادق:**

رښتونی، سپین، سم، صاف. د کاذب په مقابل کي. صادق د هیواد د مشهور شعر پېژندونکي او سندرغاړي استاد ناشناس نوم دی.

**صاعقه:**

رعد، تندر، ټکه او هغه اور چي د تالندي او زیاتي برېښنا څخه تولید سي. صاعقه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**صحرایي:**

صحرا، بیابان، دښت.

خو صحرایي یعني هغه څوک چي په کلي کي اوسېږي، د ښاري په مقابل کي. صحرایي یعني پاک، بې غشه، د چالاک او حرامزاده په مقابل کي.

صاحب جان صحرایي د روزګان یو مبارز شخصیت و. صحرایي ښه نرینه تخلص او نوم دی.

**صدف:**

سپېی دسمندري ژوو څخه ده. دغه ژوی په یوه پوښ کي چي

صدف نومېږي په تروو اوبو کي اوسي. يو ډول يې د ملغلرو صدف دی چي په خپل نس کي يوه ماده لري او دغه ماده ورو ورو کلکه او سختېږي تر څو ملغلره (مروايد) ځني جوړه سي.

صدف ډېر ښکلی، پيشيني، رواج او لنډ ښځينه نوم او تخلص دی. معزالله وايي:

صدف لاس په دعا ونيسي دا وايي
چي که ځای مي د گوهرو ستا پېزوان شي

**صراحت:**

څرگندتيا، څرگندتوب،زغردتيا، څارتيا او سوچه والی. صراحت يعني په ډاگه، په ښکاره په جوته، په څرگنده.

صراحت ښکلی ښځينه نوم او تخلص دی. ليلا صراحت روشني د پارسي ژبي يوه تکړه شاعره وه.

**صفا:**

پاکيزه، پاک، سپېڅلی، روڼ، که څه هم صفا عربي ريښه لري خو بيا هم ښکلی نوم او تخلص دی.

په بار بار د خپل اشنا منت را باندي
چي له زنگه يې صفا زما ضمير که
(...)

**صميم:**

هغه څوک چي صميمي وي، مينه ناک، مينه کوونکی، مخلص.
صميم نوم او تخلص دواړه کېدای سي.

**صمیمي:**

مینه ناک، مینه کوونکی، اخلاص مند، صمیمانه، د زړه له کومي. هغه څوک چي د غرض څخه پر ته او پاکه مینه کوي.

صمیمي ښکلی تخلص او نوم دی.

**صنم - صنمه:**

په لغت کي صنم بت ته وايي خو مجازي مانا يې معشوقه ده.

ډېر مـي مـاړوه پـه تـور او سـپین صـنمه
چي خوني به پخپـل ځـان سم ستا لـه غمـه
(حمید مومند)

**صنوبر:**

یو ډول لوړه او غټه ونه ده چي د ځینو جګواله نزدې دېرش متره وي، زیږې او کلکي پاڼي لري چي تل شنې وي. صنوبر حسین کاکاجي د لري پښتونخوا یو مبارز، شاعر او انقلابي شخصیت تېر سوی دی. په پښتو او پارسي ادب کي د صنوبر جګواله د اشنا د لوړي وني او قد سره پر تله کیږي.

سروي صنوبر کړه لـه لويي لاس پـه غـوږو
قـد چي يې د زړه پـه سترګو ولیدلی ستا
(حمید مومند)

د پښتو ژبي په ولسي ادب کي د (ګلي او صنوبر) کیسه سته. (ګله) د صنوبر مینه وه.

څوک چي له یاره وفا غواړي
ما ته کیسه د صنوبر را یاده سینه
(پښتو لنډۍ)

**صهبا:**

صهبا عربي کلیمه ده او د سپینو انګورو شیرې ته وایي. مجازي مانا یې می او شراب دي. غیاث اللغات سره وشمه د انګورو څخه جوړ سوي شراب صهبا بولي.

صهبا د حضرت علي کرم الله وجهه یوه مېرمن وه چي عمر او رقیه څني پیدا سوي دي. د پاکستان د پخواني جمهور رئیس جنرال مشرف مېرمن هم صهبا نومېږي چي ډېره ښکلې او هوښیاره ښځه ده.

صهبا ډېر خوږ او ښکلی ښځینه نوم دی.

مګر خیال د یار رهبر شي لکه خضر
او که نه توبه څوک څنګه د شراب کا

(صدیق)

***

چنان بزد ره اسلام غمزهٔ ساقی
که اجتناب ز صهبا مګر صهیب کند

(حافظ)

(په دغه بیت کي صهیب د پیغمبر ﷺ یو اصحابي او نامتو غشي ویشتونکی عرب و. لیکونکی).

# ض

**ضمیر :**

**"ضمیر" وجدان او اخلاقي شعور ته وايي. ضمیر د انساني مغز او روح هغه خصوصیت دی چې د اکثرو کړو وړو اخلاقي ارزښت ټاکي. ضمیر د انسان دننه او باطن دی.**

په بار بار د خپل استاد منت رابانـدي
چي لـه زنګـه يـې صـفا زمـا ضـمير کـړ
(خوشحال ختک)

# ط

**طالب:**

طالب د غوښتونکي او طلب کوونکي مانا لري او په اصطلاح کي د ديني مدرسو زده کوونکو ته وايي. معمولاً په مسجد کي هغه ملا ګي ته طالب وايي چي هم ديني پوهنه تر لاسه او هم په مسجد کي د ملا چوپړ کوي.

دلته د طالب نوم په هيڅ توګه د "طالبانو له سياسي غورځنګ" سره تړاو نه لري.

طالب کندهاری د افغانستان د پښتو او پارسي ډېر نازکخياله شاعر و چي بشپړ دېوان لري. عبدالکريم طالب رحيمي هم د هيواد وتلی فرهنګي شخصيت دی چي په کندهار کي اوسېږي.

خوشحال خټک وايي:

طالبان يې د جمال لکه حاجيان دي
چي کعبې لره ورځي په لارو لارو
(خوشحال خټک)

د "طالب جان او ګلبشرې" کيسه او نارې د پښتو په فولکلوريک ادب کي اوچت ځای لري. ګلبشره پر طالب ناره کوي:

طالبه خدای که به ملا سې
پر کتاب پروت يې يادوې شينکي خالونه

سر که راپورته له کتابه
ستا د کتاب تر حاشیو ډېر دي زما خالونه

راسه زما د پلار طالب سه
تر مُطَـــوَله به دي زه ورســـومه

"مختصر او مطول د کندهار په مسجدونو کي د دینی زده کړو د تعلیمی نصاب دوه مهم کتابونه دي".

**طلا:**

سره زر، یو ډول ژړ رنګه، روښانه، قیمتي او پوست فلز دی چي زنګ یې نه وهي. طلا یا سرو زرو ته د فلزاتو پاچا وایي. دغه فلز په سکو او ګاڼو کي کارېږي. طلا لکه ځلا ډېر ښکلی ښځینه نوم دی چي په کندهار او شاوخوا ولایتونو کي پوره رواج لري.

**طغیان:**

د سیند او سمندر له غاړو څخه د اوبو اوچتېدل دي. سرغړونه او راپارېدني ته هم وایي.

طغیان انقلابي تخلص دی خو زه یې د نوم په توګه سپارښتنه کوم. طغیان ښکلی نوم دی. به آنندراج کي یو بیت سته وایي:

صرف زهرش گفته ام، شکر لبم را میگزد
درد طغیـان میکنـد گـر نـام افیـون میبـرم
(ظهوري)

**طنين:**

**آزانګه، بونګهار. د اواز د اصلي او فرعي نوسانونو ترکيب ته طنين وايي. طنين ښکلی او لنډ نرينه نوم دی. طنين د هيواد د نامتو رسنوال، څېړونکی او سياست پوه ظاهر طنين تخلص دی. دی د لوګر له پښتنو څخه دی، پخوا د بي بي سي راډيو د افغاني څانګې مشر او اوس په ملګرو ملتونو کې د افغانستان نماينده دی.**

کی از طنین ذبابی پلنگ راست زیان
کی از حنین حبابی نهنگ راست خطر

(قاآنی)

**(يادښت: دغه شاعر بايد له خاقاني سره غلط نه سي. "حنين" ياني شوق او هيله).**

# ع

**عشوه:**

ناز، ادا، نخره، مکیز، کرشمه. د ښکلو هغه کړه وړه او حرکتونه چي د مين زړه نرى کوي.

دلنـوازه، سـرفرازه، عـشوه بـازه، لعبـت بـازه
خودپسنده، سربلنده، شکرخنده، لب شکره
(خوشحال ختک)

**عقاب:**

ګوربت، ګوربته، يو پياوړى، غټ او چټک الوتونکى مرغه دى. ګوربت د لوړو غرونو پر سر ډېر پورته الوتنه کوي. په ادب کي د سرلوړي او بلند پروازي مانا وي لري.

عقاب ډېر ښکلى نوم او په ځينو ولايتونو کي پوره دود دى.

**عنبر:**

عبير، ابير، يوه غوړه خړه ماده ده چي ښه بوى لري او د (عنبر) نومي کب (ماهي) له ګېډې څخه را ايستل کېږي. عنبر د عطرونو په جوړولو کي په کارېږي. عنبر ډېر ښکلى، نوى او ادبي ښځينه نوم دي. خوشحال ختک وايي:

د عنبرو بوی الوزي ستا په کوی کي
وارہ ستا د زلفو بوی دی عنبر نشته

**عنقا:**

دغه نوم اصلاً عَنقا دی، خو زموږ په هیواد کي يې عُنقا تلفظ کوي. عنقا سيمرغ ته وايي چي يو افسانوي مرغه دی. داسي تصور کېږي چي ګواکي دغه يو غټ مرغه دی او اوږده غاړه لري، خو تر اوسه هيچا عنقا نه دی ليدلی. عنقا د بلند پروازۍ او لوړ همت سمبول دي. رحمان بابا وايي:

هره چاره تر وخت تېره شي عنقا شي
عنقا نه دي په دام نښتی د هيچا

شېرازي حافظ وايي:

عنقا شکار کس نه شود دام باز چين
کآنجا هميشه باد بدست است دام را

**عوام:**

د "عام" جمع، وګړي، خلګ، د ټولني بشپړ اکثريت، خواريکښان، ولس.

عوام غوره تخلص او بازمير عوام يو پښتون ليکوال دی.

# غ

**غازي:**

هغه څوک چي د خدای لپاره جګړه کوي.

ځيني غازي د تخلص په توګه کاروي. په کندهار کي د عبدالرؤف مخلص زوی غازي مخلص نومېدی. غازي ښکلی نوم دی.

که غازي شنې مي پر قبر وې ولاړي
که غلام مړ وم راځي تو کړي پرې ناړي
څو په خپلو وينو نه يم لمبېدلی
په ما مه مرداروي د جومات غاړي
(غني خان)

**غاټول:**

رېدی، لاله، خاټول، شندي ګل.

لاله يا غاټول يو پياز لرونکی ګل دی، زياتره د پسرلي په وخت کي په غرونو او رغونو کي شين کېږي. د دغه بوټی ګل پنځه پاڼي لري او هغه ډول يې چي د ګلو ډېري پاڼي لري (شقايق) نومېږي. دښتي غاټول يا رېدی سره ګلان او په منځ کي تور داغ لري.

غاټول ډېر ښکلی او رواج ښځينه نوم دی. په پارسي ژبه کي (غاتول) تلفظ کېږي، چي د نامه خوند زياتوي.

**غاړه ګۍ:**

امېل، د غاړې ښځينه ګاڼه، غاړه ګۍ، ګردنۍ، هار، له روپو څخه جوړ سوی امېل چې ښځې يې په غاړه کوي. ځيني يې غاړکۍ بولي.

غاړه ګۍ نوی لنډاو د ښې مانا لرونکی نوم دی.

**غټی:**

غټی د جامد شي ټوټې ته وايي او (زرغټی) ياني د سرو زرو ټوټه، ډېر قيمتي، ډېر ښکلی او مهم.

دغه نرينه نوم په کندهار کي ډير دود دی.

**غرزی:**

د غره زوی، په غره کي زېږېدلی، څوک چي په غره کي زېږېدلی او يا هلته اوسي. غرزی په مجازي مانا ياني کلک، ټينګ او مټور.

غرزی د نامه په توګه ډېر ښکلی او ننۍ نوم دی چي د ډېرو خلکو خوښېږي.

**غرغښت:**

غرغښت په پښتنو کي د دوی د يوه ستر نيکه نوم دی. په دغه لړۍ کي غرغښت د (سړبن) ورور او د کيس (قيس) دريم زوی دی.

همداسي غرغښت د پښتنو د يوې قبيلې نوم دی، غرغښت د دې ټبر د ځينو غړو تخلص وي.

**غرنی:**

روهي، د غره اوسېدونکی، څوک چي په غره کي اوسي يا

زېړېدلی وي.

غرنی یاني کلک، ټینګ او متهور. په عامه توګه غرنی لکه دښتي، صحرايي، بياباني، بېدياني. د ښاري پر ضد، د پاک او صاف مانا لري.

غرنی ښکلی نرينه نوم دی.

**غروال:**

غروال هم د غرني او غرزي مانا لري.

ښه نوم او تخلص دی.

**غرڅنی - غرڅنۍ:**

غرڅنی د غرني، غرنیز، د غره او روهي مانا لري.

غرڅنی د ماشومانو او نجونو لپاره نوی او ښکلی نوم دی.

**غزال:**

کبلی، د هوسۍ بچی، معشوق، مَيَنَه، لمر او د لمر وړانګې.

غزال ډېر ښکلی ښځينه نوم دی. غزال اصلاً پارسي کلیمه ده، پښتو انډول يې کبلی دي چې نرينه نوم ګڼل کېږي.

**غزل - غزله:**

غزله، بدله، هر غنايي شعر، هر لنډ شعر چې په وزن سره وويل سي. غزل د شعر يو ډول دی، غزل د عشق کيسه او د ښځو سره خبري دي. د غزل لومړی بيت مطلع او وروستی بيت مقطع نومېږي. د غزلي د بيتونو شمېر معمولاً د اوو څخه تر يوولسو پوري وي.

په را وروسته وختونو کي چې د ځينو منورو او روښان انده خلکو

و ښکلو نومونو ته مخه سوې ده، غزل هم د یوه ډېر ښکلي او ادبي ښځینه نوم په توګه اېښودل کېږي.

**غشی:**

غشی یا تیر، یو لنډ او نری لرګی یا فلز دی چې په سر کې یې تېره وسپنه نښلوي او د لیندۍ په وسیله یې د هدف پر لور ولي. غشی پخوا د دفاعي یا جګړه ایزي وسلې په توګه استعمالېدی، خو اوس د بدني روزني او سپورټ وسیله ده. غشی ښکلی تخلص او د کوچني لپاره ډېر ښکلی او لنډ نرینه نوم دی.

**غښتلی:**

پیاوړی، تکړه، زوره ور، قوي، کلک، ګړندی، خواریکښ.

غښتلی ډېر خوږ، پښتو او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم او تخلص دی. حفیظ الله غښتلی روښاندی، لیکوال او رسنوال دی.

**غلجی:**

یوه تاریخي کلیمه او د پښتنو د یوه ستر ټبر نوم دی. اصلي ریښه یې د (غر) له کلیمې څخه ده او د غر نوم د احمدشاه بابا له زمانې را وروسته د هغو خېلونو او قومونو لپاره استعمالېدی چې نه په درانو کې راځي او نه په کرلاڼو کي. غلجی نرینه نوم او تخلص دی.

**غلیان:**

ایشېدل، خوټېدل، جوشېدل.

غلیان نوی نرینه تخلص او ښکلی نوم دی.

**غمخور:**

غمخوار، خواخوږی، غم خوړونکی، همدرد.

غمخور ډېر وړ نرینه تخلص دی.

حبیب الله غمخور د روزگان یو مبارز شخصیت او لیکوال دی چې اوس په سویډن کې اوسېږي.

**غمزه:**

غلشکه، کرشنه، کرشمه، ناز او نخره. د ترپاکو چلم، په سترگو او بڼو اشاره او بې توجهي. غمزه ښکلی ښځینه نوم دي.

**غمی:**

نگین، قیمتي کاڼی. د دغه ډول کاڼي څخه په بېلابېلو گاڼو او پسولونو کې کار اخلي.

غمی رواج ښکلی او لنډ نرینه نوم دی.

**غنچه - گل غنچه:**

د گلانو دسته، چې یو یا څو گلان په ښکلې او مناسبه توگه سره غونډ او وتړل سي. د گلانو غنچه اکثره په نړۍ کې و ښځو ته په بېلابېلو مناسبتونو کې د ډالۍ په توگه ورکول کېږي.

د گل غنچې د نوم لنډه بڼه غنچه ده. په کندهار کې دغه نوم له پخوا څخه دود دی.

**غنمرنگه:**

غنمرنگه یعني هغه ښکلې ښځه چې د بدن پوست یې ډېر سپین

نه بلکي لږ څه توربخن او د غنمو په شان وي. دغه نوم غونچه هم لیکل کېږي. د بدن دغه ډول رنګ په اروپایي هیوادونو کي ډېر خوښوي.

غنمرنګه ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

پلار مي د غنم میني را وایست له جنته
زه لا تمــه دار د غنمرنګــو د وفــا یــم
(علي خان)

**غورځنګ:**

حرکت، جوش او خروښ، برید، یرغل، نهضت او جنبش.

غورځنګ ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**غوټۍ:**

د ګل د ودي هغه پړاو چي لا غوړېدلی نه وي.

ما له یاره سپینه خوله په خندا غوښته
دي له نـازه دغـوټۍ پـه د ود ونغـښته
(پیر محمد کاکړ)

غوټۍ په پښتنو کي ډېر ښکلی، لنډ او خوږ ښځینه نوم دی.

غوټۍ خاوري د افغانستان د راډیو تلوېزیون ویانده او لیکواله ده.

**غیرت:**

همت، ننګه، ننګ، مېړانه، زړه ورتیا، نارینه توب، ښه ځواني، ناموس پالنه. غیرت د مبارز شخصیت او شاعر هنر غیرت تخلص دی. دی په خټه شینواری او په ډنمارک کي اوسېږي. غیرت ډېر ښکلی، لنډ او ادبي نرینه نوم دی.

**غیور:**

غیور ډېر زړه ور او ناموسپال سړي ته وايي. ډاکټر خانمیر غیور په افغانستان کي یو مبارز شخصیت دی.

غیور ډېر ښکلی نرینه نوم دي.

# ف

**فتانه:**

د فتنې له ريښې څخه ده. فتنه شور، ږوږ، بلوا، قيام او پاڅون ته وايي.

په تاريخي لحاظ فتنه منفي مفهوم لري او وايي: "فتنه خفته به".

خو په پښتو او پارسي ادب کي دغه کليمه د ډېري ښکلي، مين، معشوقې او محبوبې مانا لري. ياني دا چي ښکلي او مهرويان په خلکو کي فتنه يا بلوا راپاڅوي او عاشقان ناارامه کوي.

فتانه يعني هغه څوک چي خلک په فتنه کي اچوي. فتانه يعني ښکلې او ښايسته نجلۍ.

فتانه په ټول هيواد کي رواج، لنډ او ښکلی ښځينه نوم دی.

**فرحناز:**

دغه نوم د فرحت له ريښې څخه دی او د خوښي، خوشحالۍ او ښادېدو مانا لري. يعني هغه ښکلې نجلۍ چي ناز يې موږ خوښ او خوشحاله کوي. دغه نوم په کابل، کندهار او ځينو نورو سيمو کي بشپړ دود دی. فرحناز ښکلی او لنډ ښځينه نوم دی.

**فردا:**

سبا، بله ورځ، راتلونکې ورځ.

فردا ښه نوم او تخلص دی. ډاکټر فاروق فردا د پښتو ژبې تکړه شاعر، لیکوال او رسنوال دی. اصلاً د ننګرهار د ولایت دی او په مسکو کې اوسېږي.

**فردوس:**

فردوس باغ او بڼ ته وايي. فردوس جنت یا د یوه جنت نوم دی. له آره دآریاني "پرادیس" معربه بڼه ده. فرد وس په عربو او پنجابیانو کې ښځینه او په افغانانو کې نرینه نوم دی. فردوس په هیواد کې له پخوا څخه دود سوی نرینه نوم و.

**فرزام:**

وړ، لایق، مناسب، ښه او د ستاینې وړ.

ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**فرزان - فرزانه:**

فرزان پوه، هوښیار، او عاقل چا ته وايي.

ښځینه بڼه یې فرزانه ده. فرزانه د افغانستان د راډیو تلوېزیون یوه ښکلې سندرغاړې ده.

**فروزان:**

ځلېدونکی، روښانه.

فروزان ښکلی پارسي نوم او تخلص دی. فروزان د افغانستان د راډیو یوه خوږ آوازه سندرغاړې ده.

**پرښته – فرشته:**

پرښته، ملايکه، ملکه، هغه اسماني موجود چي ښه خوی، نېک عمل او ښکلی صورت لري.

پرښته لنډ او ښکلی ښځینه نوم دی، نه تخلص.

**فرضیه:**

حدس، ګومان، قیاس، تصور.

فرضیه ډېر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**فرغانه:**

په لرغونو ادبیاتو کي د دغي سیمي د ښکلو نجونو کیسې او نکلونه شهرت لري.

فرغانه زموږ د هیواد د شمالي پولي ها پلو یوه غرنۍ سیمه ده چي د جیحون او سیحون د سیندونو د ځینو څانګو سرچینه ده. فرغانه د ماوراء النهر یوه برخه او د آسیا (جنت) بلل کېږي.

**فرمان:**

امر، حکم، هدایت.

فرمان ښکلی او ېخي نوی نرینه نوم دی.

**فرناز:**

ډېره نازولې، نازدانه او درنه ښځه.

فرناز ډېر ښکلی پارسي ښځینه نوم دی.

**فرهاد:**

په فکلوري کیسو کې فرهاد د شېرینې مین او عاشق دی.

فرهاد دریا د افغانستان یو خوږ آوازه سندرغاړی دی. نوموړی په کندز کې زېږدلی او د شېرخان له درنې کورنۍ څخه دی.

فرهاد مشهور او ښکلی نرینه نوم دی.

**فرهنګ:**

ښوونه او روزنه، ثقافت، پوهه، علم، فضل، کمال، ادب.

فرهنګ ډېر ښه نوم دی او د نامه په توګه ډېر ښکلی راځي.
خوشحال خټک وايي:

د عشق برخه ازلي ده په جنګ نه ده
په کتاب په مسئلو په فرهنګ نه ده

**فروتن:**

عاجز، متواضع، شکسته نفس، هغه څوک چې کبر او غرور نه لري. بیدل وايي:

فروتنی است نشان رسیده گان کمال
که چون سوار به منزل رسد پیاده شود

**فروغ:**

روښنايي، رڼا، نور.

فروغ فرخزاد د پارسي ژبې ډېره خوږ ژبې شاعره ده. د دې لڅ شعرونه ډېر شهرت لري.

فروغ ډېر ښه ښځینه نوم دی.

**فروهر:**

د فروهر ریښه د (فرح) څخه ده چې د عظمت، عزت، جاه و جلال او ستروالي مانا لري. په زردښتي عقیده کې فروهر د (اهورامزدا) په نامه د (روڼا) یوه ډېره وړه ذره ده چې ګواکې د هر انسان په وجود کې ایښودل سوې ده تر څو هغه ته د ښو کارونو لارښودنه وکړي.

همداسې فِروهر (د "ف" په زېر) د پاک لمنې، پاک روحه، پاکیزه او سپېڅلې مانا لري.

**فرهیخته:**

په ادب لوی سوی، ډېر با ادبه.

فرهیخته ښکلی پاړسي ښځینه نوم دی.

**فریاد:**

ږغ، آواز، لوړ آواز، چغه، ناره، کوکاره، غاو او ګیله.

فریاد ښکلی نرینه نوم او تخلص دي.

**فریبا:**

ښکلې، ښایسته، فریب ورکوونکې، هغه ښایسته ښځه چې ټول یې پر ښکلا مین دي، هغه څوک چې ښکلا او ښایست یې خلک تېر باسي. سره له دي چې ځیني پخواني پوهان لکه د (براهین العجم) لیکوال دغه کلیمه غلط مفعول بولي بیا هم دغه ډېر لنډ او ښکلی ښځینه نوم دی او ډېر رواج لري.

**فريد - فريده:**

يوازي، بې ساري، بې نظيره، بې مثله، ممتاز.

د سوري شېرشاه نوم فريد و. فريد رواج نرينه نوم او تخلص دی. د فريد ښځينه بڼه فريده ده.

**فريدون:**

په پخوانيو خيالي نکلونو کي د يوه غښتلي پاچا (آبتين) زوی فريدون نومېدی. فريدون دود نوم دی.

**فطرت:**

پنځ، طبيعت، خټه، پيدايښت.

فطرت زموږ د هيواد د ستر هنري شخصيت او سندرغاړي ډاکټر صادق ناشناس تخلص دی. فطرت ډېر ښکلی نرينه او ښځينه نوم دی.

**فلکناز:**

هغه څوک چي زمانې نازولی وي. ازلي نازولی او ډېر نازولی سړی. فلکناز ډېر ښکلی، نوی او ادبي نرينه نوم دی. خو فلک نياز په لندن کی د لري پښتونخوا ديوه مبارز پښتون نوم دی.

# ق

**قافیه:**

په شعر کي د بیت د پای کلیمه ده چي بیت پای ته باندي رسېږي او تکرار يې په ورپسې بیتونو کي لازم وي. قافیه په پخوانیو شعرونو کي ډېره مهمه وه.

قافیه ډېر ښکلی، ادبي او نوی ښځینه نوم دی.

**قافله:**

کاپله، کاروان، بهیر، د مساپرو ډله او ګروپ.

قافله ډېر ښکلی او د ښې مانا لرونکی، نوی ښځینه نوم دی.

ورځ او شپه پر لار رواني قافلې دي
نېک او بد د قافلې پر لاره تله کا

**قدرمن – قدردان:**

قدرمن، قدر پېژوندونکی، عزتمند، درناوی کوونکی.

قدردان ښکلی تخلص دی.

**قریحه:**

طبع، ذوق، په هنري کارونو او شعر لیکلو کي خدایي استعداد.

همداسي قريحه د هر شي اول ته وايي. قريحه يو ښکلی، نوی او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**قرينه:**

نخښه، نښه، پیلامه، مثل، شبیه، و هدف ته د رسېدلو لپاره د انساني هڅي دليل. قرينه د بيان د علم يوه اصطلاح ده.

قرينه يو نوی، لنډ او ښکلی ښځینه نوم دی.

**قصيده:**

د نظم او شعر يو ډول دی، چي يو ټاکلی مقصد بيانوي.

قصيده ډېر ښکلی مانا لرونکی او نوی ښځینه نوم دی.

**قطره:**

څاڅکی، ځاڅی، د باران يوه دانه، ډېره لږه اندازه اوبه.

قطره ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**قلم:**

قلم د ليکلو وسيله ده. په پخوانيو زمانو کي د الوتونکو د بڼکي څخه د قلم په توګه کار اخيستل کېدی. نن قلم ټول هغه څه دی چي ليک په ليکل کېږي او يا انځور په کښل کېږي.

**قلندر:**

کلندر، ملنګ، ګرځېدونکی فقير، مجرد، څړه، بې قيده، چي د دنيا د کاروبار څخه لاس پر سر وي.

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
خان، سلطان او قلندر درې واړه یو دی
(رحمان بابا)

قلندران طریقت به نیم جو نخرند
قبای اطلس آنکس که از هنر خالی است
(حافظ)

قلندر اپرېدی د پښتو کلاسیک شاعر تېر سوی دی.

**قمر:**

قمر سپوږمۍ ته وایي. په عربي ژبه کي د پښتو او پاړسي برعکس (شمس) ښځینه او (قمر) نرینه نوم دی، په پښتو کي شمس نرینه او قمر ښځینه دی. قمر له پخوا څخه په ټول هیواد په تېره بیا په کندهار کي رواج ښځینه نوم دی.

قمره اڅکزۍ د کندهار یوه ټولنیزه، فرهنګي مخکښه میرمن ده چي اوس په جرمني کي اوسېږي.

قمرګله د پښتو ژبي وتلې سندرغاړې ده. د دې د نامه اصلي څېره (کمرګله) ده، کمر ملا او د بدن نیمایي ته وایی. په پښتو کي (کمر) د غره لمني ته هم وایي او کمر ګل هغه دښتي ګل دی چي د غره په لمنه او کمر کي شین وي.

پاس په کمر ولاړه ګله
نصیب د چا یې او به زه در خېژومه
(پښتو لنډۍ)

**قند:**

سپینه مخروطي یا مکعبي څه وړه خو ډېره خوږه ماده ده چي د

سکروز د بلوړو (بوره – شکر) د يو ځای کولو څخه جوړېږي. قند خواږه شي ته وايي. د ناز شکل يې (قندول) يا (قندولک) دي. قند ښکلی نرينه نوم دی.

**قندي:**

په کندهار کي قندي رواج ښځينه لقب دی. يعني د قندو، له قندو څخه جوړ سوی، خوږه او شېرينه.

**قهرمان:**

په پخوانيو ولسي نکلونو (اساطيرو) کي قهرمان هغه څوک و چي ستر زور او قدرت يې درلود، د ارباب الانواعو ملاتړ ورسره و او تر مرګ وروسته يې خلکو عبادت کاوه. په اوس زمانه کي هغه څوک قهرمان دی چي د خپل زړه ورتيا، نجابت، لياقت او نوښت پر بنسټ غوره او ستايل کېږي. د هنر په نړۍ کي عمده لوبغاړي، محوري پرسوناژ، هيرو او ستر کرکټر قهرمان يا اتل بولي.

قهرمان د پالوان، پهلوان او نامي ماناوي هم لري.

قهرمان او اتل هر يو ډېر، ډېر، ښکلي، لنډ او د ښې مانا لرونکی نوم دی. قهرمان د ځينو خلکو لقب وي نه تخلص، لکه د هلمند په ولايت کي جبار قهرمان. قهرمان هيڅکله قهرمن نه وي.

**قيام:**

پاڅون، درېدنه، ولاړېدل، د ظلم او زور پر ضد د ولسونو او خلکو درېدل، انقلاب.

قيام ډېر ښکلی نرينه نوم دی.

**قيس:**

قيس په ناز او کرشمه سره پر لاري تګ مانا لري. قيس د کاس عربي سوی بڼه ده. د (ليلا او مجنون) په نکل کي د عامر زوی قيس د کيسې اتل (مجنون) دی. همداسي د پښتو د پښت پېژندني (انتروپولوجي) په لړۍ کي قيس چي په عبدالرشيد هم شهرت لري د پښتون کام لومړی نيکه بلل سوی دی. د ده درې زامن (سړبن، بېټ، غرغښت) هر يو پخپل وار د پښتني قبيلو نيکه ګان دي.

قيس رواج او مناسب نوم دی.

# ک

**کاتبه:**

کاتبه د کاتب یعني لیکونکي، مامور، ادیب او پوه ښځینه څېره ده. کاتبه ښکلی، نوی او لنډ ښځینه نوم دی.

**کاردان:**

کار سمبوونکی، کاردار، کارمند، په کار پوه، د تجربې څښتن، تجربه کار. کاردان ښکلی نوی او لنډ نوم او تخلص دی.

**کاروان:**

قافله، د مساپرو، سوداګرو، زیارت کوونکو، حاجیانو یوه ډله چي په بېلو بېلو علتونو یو ځای سفر کوي.

کاروان د عبدالحق هاله په امتیاز د یوه آزاد اخبار نوم و.

کاروان د پښتو د وتلي او نازکخیاله شاعر پیرمحمد کاروان تخلص دی. کاروان ډېر ښکلی، سندریز، لنډ او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دی.

**کاکل:**

پېکی، څڼې، د تندي له پاسه ورېښتان.

کاکل بیخي نوی او ادبي ښځینه نوم دی.

**کاکړ:**

د پښتنو په غرغښت ټبر کي يوه ستره قبيله ده. د کاکړو د قبيلې هر غړی کاکړ دی.

پيرمحمد کاکړ د پښتو ژبي او ادب وتلې څېره وه. نوموړی د شهزاده سليمان پښتو ښوونکي و، چي د احمدشاه بابا په عصر کي يې ژوند کاوه. لومړنی پښتو تعليمی گرامر (معرفة الافغاني) ده کښلی دی. د ده شعر دی:

نـــاز د خوبـــانو پـــر لېمـــه ورسـي
چي څوک يې نه وړي په حق به پړ سي
پـــر ســـجده ژاړه و خپـــل حبيـــب تـــه
څـو دي پـه اوښـکو مځکـه چکـړ سـي

**کامران:**

بريالی، کامياب، بختور، نېکمرغه.

کامران نرينه نوم او لقب دی. حاجي محمد کامران د افغانستان د راډيو تلويزيون او سينما ډېر نامتو او بريالی کمېډي هنرمند دی.

**کامل:**

بشپړ، پوره، بې عيبه، بې نقصه او د عربي شعر د عروضو څخه يو بحر دی. کامل د پښتو د نامتو څېړونکي ارواښاد دوست محمد کامل تخلص دی. کامل ډېر ښکلی او نوی نرينه نوم دی.

**کاوه:**

د فردوسي د شاهنامې د خيالي کيسې له مخي د پېشداديانو د

پنځم پاچا (ضحاک) پر ضد د (کاوه) په نامه پښ یا آهنګر پاڅون وکړ او فریدون یې په ټولواکي ومانه. کاوه په را وروسته کلونو کي د ډېرو انقلابي شخصیتونو د زامنو نوم و.

**کاوون:**

کاوون د الیشنګ د درې په لوېدیځ او د تګاو په ختیځ کي د غرونو یوه لړۍ ده چي لوړه څوکه یې ۴۲۷۷ متره جګه ده.

کاوون منل سوی نوم او ډېر ښه تخلص دی. کاوون توپاني د پښتو ژبي نومیالی او وتلی شاعر او همداسي د افغانستان یو سیاسي او مبارز شخصیت دی چي اوس په جرمني کي ژوند کوي.

**کامه:**

د کام له ریښې څخه د مراد، خواهش، هیلي او آرزو مانا لري.

همداسي کامه د ننګرهار د ولایت یوه لویه ولسوالي ده، چي د ګوشتي او کوز کونړ د ولسوالیو تر منځ پرته ده.

کامه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**کبلی:**

کبلی د هوسۍ بچی دی. توري سترګي یې په شعر او ادب کي نوم لري. په کندهار کي له ډېري پخوا زمانې څخه کبلی دود نوم دی.

تورو سترګو د یار هسي دېوانه کړم
چي کبلی کړي همېش میل د جنون زما

(حنان بارکزی)

**کجکی:**

کجکی د کج یانی کوږ د تصغیر بڼه ده. کجکي د ښځي د تندي هغه وربښتان دي چي د بادام په څېر يې جوړ کړي وي. همداسي کجکی د هلمند د يوې ولسوالۍ نوم دی.

د اروانښاد احمدظاهر وتلې غزله ده:

کجکی ابرویت دم گژدم است
چه کنم افسوس مال مردم است

کجکی نوی، خوږ او ښکلی ښځینه نوم دی.

**کچکول:**

د ملنګانو او درویشانو د خیر ټولولو بیضوي شکله او اکثره فلزي لوښی دی چي دوی یې په لاس کي نیسي او یا یې په غاړه ځړوي.

پښتانه وايي: "یو بهلول یو یې کچکول".

کچکول ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**کرشمه:**

ناز، مکیز، نخره، غمزه، په وروځو او سترګو سره اشاره.

کرشمه خورا ډېر ښکلی، لنډ، نوی او ادبي نوم دی.

**کروړ:**

کلک، سخت، غښتلی. کروړ ښه نرینه نوم او تخلص دی.

**کدنی:**

کدنی په کندهار کي د سپین بولدک پخوانی نوم دی.

کدنی ډېر لنډ او ښکلی نرینه نوم دی.

**کرګر:**

بزګر، کرونکی، څوک چې مځکه کري.

اکبر کرګر د پښتو ژبې يو نامتو څېړونکی او ليکوال دی. دی اوس په لندن کې اوسي.

**کرياب:**

اړ، محتاج، ځنډېدلی او معطل ته وايي. ښځينه بڼه يې کريابه ده.

کرياب ښېخې ډېر ښکلی، لنډ، نوی نوم او تخلص دی. نعمت الله کرياب د کونړ يو تکړه رسنوال او د بي بي سي خبريال دی.

تل به هيڅوک نا اميد پر جهان نه وي
په کريابو کرم کېږي له کريمه
(خوشحال خټک)

**کشمالی – کشمالۍ:**

ببرې او ريحان ته وايي.

ببری، ريحان او کشمالی درې سره ډېر نوي، ښکلي او لنډ نومونه دي. که دغه درې نومونه د درو ورونو نومونه سي ډېره به ښه وي.

**کشمير:**

د افغانستان، پاکستان، د چين د سنکيانګ، د هند د هماپرديش او پنجاب د ايالتونو تر منځ يو ښکلې، تاريخي او غرنۍ سيمه ده. هندي کشمير ته جمو او کشمير وايي چې د هند يو ايالت دی. بله برخه يې په پاکستان اړه لري چې آزاد کشمير ورته وايي.

کشمير په هيواد په تېره بيا په پښتني سيمو کې له پخوا څخه

رواج نرینه نوم و. دغه نوم ډېر ښکلی او لنډ دی.

په پښتو کي یو متل دی، وایي: "سر چي د شال لایق وي له کشمیره ورته راځي".

ناز غمزې چي د خوبانو پکښي وینم
کندهار ته جوړ هنر د کشمیر راغی
د زړه خونه ورخالي کړه پیرمحمده!
بیت الله لره د مصر امیر راغی
(پیر محمد کاکړ)

**کلال – کلاله:**

څوک چي خاورین لوښي جوړوي.

کلال او کلاله ډېر ښکلي نرینه او ښځینه نومونه دي. خو کلالي په کلال او کلالۍ پوري تړاو لري او ښه تخلص دی.

**کلیمه:**

عربي ریښه لري، یاني خبره او مانا لرونکی لفظ.

کلیمه ډېر ښکلی ښځینه نوم دی. زه په پکتیا کي کلیمه خان پیژنم.

**کلیوال – کلیواله:**

د کلي، د یوه کلي اوسېدونکی، د کلي خلک، سارایي، صحرایي، دهاتي، دښتي.

کلیوال ښکلې تخلص دی، خو کلیواله ډېر لنډ او ښکلی ښځینه نوم دی.

**کمال:**

ټوله، تمامېدل، بشپړېدل، سر ته رسېدل، پوهنه، پرمختګ، فن، کسب، پېشه، هنر.

د پخوا څخه کمال رواج او ښه تخلص دی.

**کمالداره:**

کمالي، د کمال خاونده، د فن څښتنه، د یوه هنر څښتنه، لایقه او پوهه. کمالداره نوی، لنډ او ښه ښځینه نوم دی.

**کمرګل – کمرګله:**

کمر په غره کې غټې تیږې او د غره یا غونډۍ په لمن یا ډډه کې جګ ځای ته وایي. "کمرګل" یو ډول بوټی دی، چې د کمر او تیږې دپاسه شین کېږي او ژر ګل کوي. کمرګله زموږ د هیواد نامتو پښتو سندرغاړې ده چې اوس په کاناډا کې اوسېږي.

پاس په کمر ولاړه ګله
نصیب د چا یې او به زه درخېژومه
(پښتو لنډۍ)

د کمرګلي اصل نوم حسن بي بي دی. پلار یې ګل شېرین نومېدی. په ۱۳۲۵ کال کې د ښېوې د ولسوالۍ د بازارک په کلي کې زېږېدلې ده. په ۱۳۴۷ کال کې یې لومړنۍ سندره له راډیو څخه وویل:

زه انتظـــار لرمـــه ســـتا د ســـترګو
ولـــي فنـــا شـــوي تـــه زمـــا د ســـترګو

کمرګله د استاد محمد دین ژاخېل مېرمن وه.

**کنایه:**

په خبرو او د بیان په علم کي کنایه دې ته وايي چي په ظاهره ځوک يو څه وايي خو په اصل کي يې مطلب بل څه وي. کنایه ښکلی، لنډ او نوی ادبي ښځینه نوم دی.

**کناره:**

کڅ، څنډې، غاړي او ساحل ته وايي. مثلاً د آسمان کناره (جمع يې کنارې دي) په پښتو کي کټاره هم ورته وايي. د اړخ، خوا، بغل او غېږي مانا هم لري.

کناره نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

د عطار په (تذکرة الاولیاء) کي لیکلي دي:

"زما مرید هغه ځوک دی چي د دوږخ پر کنارو ( کټارو) ودرېږي او هر ځوک چي دوږخ ته بیايي لاس يې ونیسي او جنت ته يې بوزي"

راهیست راه عشق که هیچش کناره نیست
انجا جز آنکه جان بسپارند چاره نیست
(حافظ)

**کنشکا:**

د پخواني افغانستان د يوه ډېر نامتو پاچا نوم دی. دی تر اسلام مخکي د هیواد ډېر ستر واکمن و. نوموړي د دوهمو کوشانیانو بنسټوال دی. په افغانستان کي ډېري پخوانۍ سکې، کتیبې او لیکل سوي ماخذونه د ده د زمانې ښکارندوی دي. دغه نوم ډېر دود نرینه نوم دی.

**کنډول:**

کنډول و مات، نیمگړي او ناقص ته وايي. کنډول په پښتني او پاړسي ژبو سیمو کي و هغه ښکلي ماشوم ته وايي چي بشپړ غاښونه يې نه وي راغلي، خو ښه ايسي. د وړوکتوب ښه يې هم کنډول او په پاړسي کي (کندولک) ده.

**کوتره:**

کفتر، کبتره. کوتره تر ښارو (مینا) څه غټ مرغه دی.

کوتره ښکلی ښځینه نوم دی. که نارینه کولای سي چي خپل نوم زمری کښېږدي، ښځه ولي کوتره نوم نه سي ایښودلای. په پښتنو کي کوتر خان هم سته.

**کوڅۍ:**

کمڅۍ، لمڅۍ. کوڅۍ (چوټي) ته ورته مانا لري. کوڅۍ د ښځي د سر وریښتان دي چي درې درې لاړه سره اودل سوي وي. د کوڅۍ بر او پنډوالی تر چوټي لږ دی.

کوڅۍ هم ښکلی ښځینه نوم او هم د ښکلا د سالون لپاره مناسب نوم او عنوان دی.

**کوکبه:**

د کوکب ښځینه څېره ده. کوکب ستوري ته وايي.

همداسي کوکب یو گل دی چي ډېر رنگونه يې پیدا کېږي. کوکبه لنډ او ښکلی نوم دی. همداسي کوکبه و جلال، جلوې، دبدبې او شکوې ته هم وايي.

رهي معيري وايي:

رهی تا چند سوزم در دل شبها چو کوکب ها
بـه اقبـال شـرر نـازم کـه دارد عمـر کوتـاهی

**کوهاټ:**

د مرکزي پښتونخوا یوه مشهوره علاقه ده چي اوس یې د کوهاټ ضلعه بولي. شمال ته یې اپریدي او پېښوریان ژوند کوي.

کوهاټ ډېر ښکلی پښتو نرینه نوم دی.

**کوکو:**

کوکو یاني واوا، کوکو واوا، ښکلی، ښایسته.

کوکو د ماشومانو په ژبه هر هغه شي ته وایي چي د دوی ذوق پوره کړای سي. کوکو ښکلی ښځینه نوم دی.

**کوثر:**

حوض کوثر، د کوثر ویاله، په جنت کي د یوې ویالې نوم دی چي اوبه یې تر شیدو سپیني، تر مشکو خوشبویه او تر شربتو خوږې دي.

کوثر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**کوچی – کوچۍ:**

کوچی، پوونده کډه پر سر، خانه بدوش.

موږ هغه کډوال کوچیان بولو، چي د ښارویو د روزني او ساتني له لاري خپل ژوند پر مخ بیایي. کوچی او کوچۍ دواړه ډېر خواږه او لنډ نرینه او ښځینه نومونه او تخلصونه دي.

**کوشان:**

کوښښي، خواریکښ، زیارمل، هغه څوک چي په پرله پسې توګه زیار باسي. هڅي، کوشیدن، هاند او خواری ته هم وايي. کوشان ښکلی تخلص دی.

**کوکچه:**

د پامیر د غرونو یو سیند دی. دغه سیند د بدخشان له فیض اباد څخه تېرېږي. کوکچه ډېر ښکلی ښځینه افغاني نوم دی.

**کوهسار:**

غرنی سیمه، غرنی مځکه.
کوهسار ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**کوهي:**

د غره، غرنی، اطرافي، صحرايي، دښتي او کوهي مانا لري.
کوهي لکه روهي ښکلی نوم او تخلص دی. (دغه کوهي د څاه مانانه لري).

**کوه نور:**

یو مشهور تاریخي او د زیاتي بیي لرونکی الماس دی. د هند په کیسه ایزه تاریخي کتاب (مهابهارت) کي د دغه الماس یادونه سوې ده. ۵۰۰۰ کاله پخوا دغه الماس د یوه هندي پهلوان (کرنا) څخه و.
کوه نور وروسته ډول ډول واکمنو بابر، مغول، د افشار نادر، دراني احمدشاه، شاه شجاع او رنجیت سنګه ته ورسېد. خو کوه نور

ته دغه نوم افشار نادر ور کړی دی.

په ۱۲٦۲ ق کال کي دغه الماس انګرېزانو ترلاسه کړ. د ۱۲٦٦ ق د رجب پر ۲۲ نېټه د برتانوي هند د وایسرای لارډ دلهوزي له خوا د انګلستان ملکې ته د سوغات په توګه ولېږل سو. او د ملکې په تاج کي ځای پر ځای سو. اوس هغه په ځانګړي موزیم کي ساتل کېږي.

کوه نور ۱۰٦/۵۰ کراته دي.

کوه نور د پر ښکلی نرینه نوم دی.

**کهزاد:**

یعني غرزی، د غره زوی، په غره کي زېږېدلی، ډېر کلک او ټینګ.

د افغانستان په تاریخ کي موږ دوه ستر کهزاده لرل:

احمدعلي کهزاد (۱۲۸۱ - ۱۳٦۱) چي لرغون پېژندونکی، تاریخ پوه او ادب پېژندونکی و. د ده پښتو، پارسي، انګلیسي، فرانسوي، او ایټالوي ژبي په بشپړه توګه زده وې. د ده څخه بېخي ډېر تاریخي کتابونه راپاته سوي دي.

دوهم: محمدیوسف کهزاد. دی د محمدعلي زوی او په ۱۳۱۲ کال په کابل کي زېږېدلی دی. دی د هیواد نامتو نقاش، لیکوال او شاعر و. کهزاد ښکلی او ادبي نرینه نوم دی.

**کیان:**

ټولواک، ستر پاچا، پوه امیر.

کیان د هیواد په شمال کي د یوې ښکلې درې نوم دی.

کیان ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**کیږدۍ:**

کیږدۍ، د کوچیانو خېمه.

کیږدۍ ډېر نوی، ښکلی او ادبي ښځینه نوم دی.

**کیسه:**

قصه، نکل، لنډه کیسه.

کیسه په یوه لنډه یا اوږده لیکنه کي د لیکوال له خوا د نکل په توګه د خلکو د ټولنیز ژوند بېلابېل اړخونه انځورول دي.

کیسه ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**کېمیا:**

کېمیا یوه داسي پوهنه ده چي د جسمونو د ذاتي بدلون څېړنه کوي. وایي کېمیا هغه څه دي چي مس او سپین زر په سرو زرو بدلوي. هغه څه چي لږ وي او په سختۍ سره تر لاسه کېږي.

کېمیا ډېر نوی، لنډ او خوږ ښځینه نوم دی.

معدوم شد مروت و منسوخ شد وفا
این هر دو نام ماند چو سیمرغ و کیمیا
(واسع جبلي)

***

د کېمیا د بوټي ګل چیري مونده شي
څو د پښو تلي ګلګون نه کړې په غوښته
(خوشحال خټک)

**کیوان:**

کیوان د (زحل) ستوري ته وایي. دغه ستوری تر (مشتري)

وروسته ډېره ستره سياره ده چې د مځکې څخه ۷۰۰ واري ستروالی لري.

کیوان نرينه تخلص او نوم دی.

**کیهان:**

جهان، نړۍ، دنیا، روزګار، فضا، هوا، د شمسي منظومې د ستورو مجموعه. کیهان یاني ستر او لوي.

کیهان ډېر ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**کیهانه:**

د کیهان ښځینه بڼه ده. یعني جهان، نړۍ، روزګار، فضا، هوا.

په عامه توګه کیهانه د سترواﻟي مانا لري. کیهانه ښکلی ښځینه نوم دی.

# ګ

**ګاڼه:**

زېور، پسول، لکه پېزوان، ګوتمۍ، امېل او داسي نور.
ګاڼه ډېر ښکلی، نوی او لنډ ښځينه نوم دی.

**ګدا:**

سوالګر، فقير، لاس نيوونکی، اړ، محتاج، خوار، نېستمن، بېوزلي، بې کبره، دروېزه ګر.
ګدا ښه نرينه تخلص دی. محمدصالح ګدا د تحفة نصايح ليکوال دی.

که ګدا د بل په غولي غرض نه کا
سپي به نه کا په ګدا باندي غرض
(رحمان بابا)

**ګډا:**

رقص، نڅا، ګډا. ګډا يو ښکلی طبيعي هنر او صنعت دی چي د بدن ځيني يا ټول غړي (په تېره بيا پښې او اوږې) په منظمه توګه د يوه تال يا ريتم سره سم حرکت کوي او معمولاً د موسيقۍ سره يو

ځای سر ته رسیږي.

ګډا ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**ګران – ګرانه:**

ګران هغه څه ته وايي، چي ډېره بيه ولري، د ارزانه ضد. د ګران بله مانا نژدې دوست او محبوب دی. "ګرانه"د ګران ښځينه بڼه ده. دواړه ډېر ښکلي، خورا خواږه او نوي نومونه دي. بيدل وايي:

ګران شد زنده ګی، اما نمی افتد زدوش من
جهان جایی ندارد، ګر توانی در دلی جا کن

**ګرېوان:**

د کميس هغه برخه ده چي د غاړي پر شاوخوا راګرځېدلې وي. ګرېوان د پښتنو د عزت نخښه ده. (څيري ګرېوان) ياني رسوايي. په مينه او يارانه کي تل د مينو ګرېوان څيري او شکيدلې وي چي پايله يي رسوايي ده.

چي په تا و د ميني خوار لکه رشته شم
ګوندي وي چي يار مي مزي د ګرېوان کا

***

زه خو يې ګرېوان مخي ته نه وينم
خدايه دا د اوښکو لښکر چيري ځي

(جهاني)

**ګړندی:**

تېز، فعال، چالاک، ژوندی. اغا محمد ګړندی یو پښتو ښوونکی، لیکول او ناظم دی. ګړندی نوی نرینه نوم او تخلص دی.

**ګل:**

ګل خو ګل دی. خو کله چي انسان ګل سي نو ډېر ښکلی وي. زیاتره له دغه نوم سره د (جان) یعني ځان کلیمه یو ځای کوي، لکه (ګل جان) او ګلجانه. دغه نومونه هر ځای په پښتو او پاړسی ژبو سیمو کي دود دي.

**ګل اندامه:**

د دوو کلمو (ګل) او (اندام) څخه جوړ ښځینه نوم دی. له پخوا څخه دود و خو دومره چي ښکلی نوم دی پراخ او رواج سوی نه دی. ګل اندامه ډېر خوږ او ښایسته ښځینه نوم دی.

**ګل آرا:**

د ګل او آرایش د ښکلو کلمو څخه جوړ دی. یعني هغه ښکلې ښځه چي حتی ګل د دې له ښایست څخه ښکلا اخیستې ده. د ګل غوندي ښکلې. دغه نوم لکه "شهر آرا"، "جهان آرا" تاریخي او ښکلي ښځینه نومونه دي.

**ګل بشره:**

دغه نوم د (ګل) او (بشر) د ښکلو کلمو څخه جوړ دی. چي بدن یې د ګل غوندي ښکلي وي.

د پښتو په فولکلوریک ادب کي د طالب جان او ګل بشرې نکل

ډېر نوم لري. گل بشره د وخت د پاچا لور او ملا عباس چي طالب و او خلکو طالب جان باله يو پر بل مينان وو. د دغه نکل کيسه ارواښاد محمدگل نوري په ملي هينداره کي په تفصيل سره راوړې ده. يو پر بل باندي د طالب جان او گل بشرې نارې ډېر ي خوږې دي.

تر دېوال دوې گوتي سر لوړ که
د زني خال به دي دېوال وسولوينه
***
سر که راپورته له کتابه
ستا د کتاب تر حاشيو ډېر دي زما خالونه
***
گل مي په لاس درته ولاړ ه
يا مي گل واخله يا جواب راکړه مينه
***
د کلي منځ کي به نارې کړم
ليلا زما د يارۍ واخيسته لاسونه
***
نجلۍ د باغ ولور ته ولاړه
سالويې نه و مخ په پانو پټوينه
***
په طالبانو دي اوروسي
سرۍ مين کړي کالي واخلي ځيني ځينه
***
يو مي په اصل کي رنگ ژړ دی
بل مي جانان په لاس کي راکړل ژړ گلونه
***
آشنا په داسي لمبه وسوم
چي نه يې دود سته نه يې تاو چا ته ورځينه

***

بېلتانـه وسـوم غـم ايـرې کـړم
رضـا د بـاد ده چې مـي هـري خـوا تـه وړينـه

**ګل اندام:**

د ګل پيکر او ګلبدن مانا لري. هغه ښکلې ښځه چې ټول اندام يې لکه ګل داسي ښکلي وي.

حافظ وايي:

در مذهب مـا بـاده حـلال است ولـيکن
بی روی تو ای سرو ګل اندام حرامست

**ګل غوټۍ:**

لکه د ګل غوټۍ تازه او ښايسته. غوټۍ هغه ګل دی چې تر اوسه په بشپړه توګه نه وي غوړېدلی. د ګل غوټۍ لنډيز (غوټۍ) دی. دغه ښکلی ښځينه نوم په ټول هيواد په تېره بيا په کندهار کي ډېر دود دی.

**ګلمکۍ:**

ګل مکۍ ښکلی او رواج ښځينه نوم دی چې يوازی مکۍ يي هم دود دی.

**ګل ځانګه:**

د ګلو ځانګه، د ګلو لښته.

ډېر دود او ښکلی ښځينه نوم دی.

**ګلاب - ګلابه:**

ګلاب د ګل ګلاب لنډیز دی. ګل ګلاب د اغزي لرونکو بوټو له ټله څخه دی چي ډول ډول عطرونه ځني جوړېږي.

ګلاب ډیر غوره نرینه خو ګلابه ښکلې ښځینه نوم هم دی.

**ګلالی - ګلالۍ:**

ګل ډوله، ښکلی، پی مخی. دغه ښایسته پښتو نوم په ټول هیواد او ان په پاړسی ژبو سیمو او کابل کي خورا دود دی.

**ګلباز:**

د ګلانو شوقي یا هغه څوک چي ګلاب کري، روزي او ساتي.

ګلباز په پښتنو کي دود نرینه نوم دی.

**ګلبته:**

دغه نوم اصل (ګل بټه) ده یاني د ګلانو بوټی. لکه ګل ځانګه، ګلپاڼه او داسي نور. په پښتو کي ښه مانا لري او نوی ښځینه نوم دی.

**ګلبدن:**

ګل او بدن، چي بدن یې ګل غوندي ښکلی وي. دغه ښځینه نوم د ګل اندام او ګل پیکر غوندي مانا لري. په پښتو کي ګلبدنه لیکل او ویل کېږي. ګلبدن بېګم د ظهیرالدین بابر د هغی لور نوم و چي د هغه د کابلۍ مېرمني څخه نړۍ ته راغلې وه. ګلبدن بېګم ډ. خپل وخت ډېره پوهه، روښانه او شاعره ښځه وه او د (همایون نامه) په نامه کتاب لري چي د خپل ورور په هکله یې کښلی دی.

**ګلبرګ:**

ګلپاڼه، او ګلبرګ یوه مانا لري. خو (ګل پاڼه) تر (ګلبرګ) پراخ دود سوي نوم دی. دواړه ښکلي ښځینه نومونه دي.

**ګلبهار:**

د ګلو بهار، د پسرلي یا بهار ګل. ګلبهار د پروان په ولایت کي د غوربند او پنجشېر د سیندونوله یو ځای کیدو سره د یوه ښکلي ښار نوم دی. ګلبهار په پښتنو کي نرینه نوم دی. خو د کوهستان خلګ ګلبهار د ښځینه نوم په توګه ایږدي.

**ګلپوش - ګلپوشه:**

په ګلو پوښل سوی، په ګلو پټه.

ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**ګلدسته:**

د ګلانو دسته، ګېډۍ.

په ټول هیواد کي یو دود نوم دی. په پښتو او پارسي کي ورته مانا لري.

**ګلپاڼه:**

د ګلو پاڼه، ډېر ښکلی نوم دی. په کابل کي خورا دود سوی دی. کابلیان یې لنډیز (پانو) خوښوي.

**ګلپري:**

یعني هغه پري چي ګل غوندي ښکلې ده. ګلپري د امیر امان اله

خان دوهمه مېرمن وه. دغه ښځه د چترال له سيمي څخه او ډېره ښکلې وه.

**گلپښت:**

د گل د پښت مانا لري يانې هغه ښکلې ښځه چي له آره د گل له ټبر څخه وي. دغه نوی او ښکلی ښځينه نوم دی.

**گلجار:**

د (گل) او (جار) له کلمو څخه جوړ سوی دی. مانا يې دا ده چي څوک تر گل جار سوي وي. يانې له هره پلوه يو گل دی. که په پښتني دود د خان کليمه ورسره يو ځای سي نو گل جار خان راځي، چي ښکلی، نوی او خوږ نرينه نوم دی.

**گل جهان:**

د نړۍ گل، هغه ښايسته ښځه چي په نړۍ کي د يوه گل غوندي ښکلې ده. که څه هم دغه د شاجهان پر وزن کليمه ده خو ښځينه نوم گڼل کېږي. په کندهارۍ پښتو کي گل جان هم د گل جهان لنډيز دی.

**گلچين:**

هغه څوک چي گلان راټولوي. باغبان، گلباز، گل خرڅوونکی.

گلچين ښکلی نوم او تخلص دی. په تېره بيا د تخلص په توگه ډېر ادبي او د ښې مانا لرونکی دی.

**ګلرخ:**

ګلالی، پیمخی، ګل مخی.

چې څېره او مخ یې لکه ګل داسي ښکلي وي. دغه ډېر ښکلی او ښایسته ښځینه نوم دی.

**ګلرخسار:**

رخسار و باړخو او اننګي ته وايي یاني هغه څوک چي باړخو یې لکه ګل غوندي سور او سپین او تازه وي. په پاړسی کي (ګلعذار) هم دغه مانا لري.

دغه نوم په تاجکستان کي ډېر دود دی.

**ګلرنګ:**

د ګل په رنګ، لکه ګل ښکلی او تازه. ګلرنګ د ظهیرالدین بابر د دریمي لور نوم دی چي د هغه د کابلۍ مېرمني څخه نړۍ ته راغلې ده.

**ګلرېز:**

ګل پاشونکی، ګل شنونکی، ګل وېشونکی. ګلرېز د امیر عبدالرحمن خان د یوې سریتې مېرمنی نوم و. دغه مېرمن اصلاً د نورستان وه. (مینځه چي په نکاح سي سریتي مېرمن بلل کېږي).

**ګلزار:**

بڼ، ګلستان، د ګلانو باغ، هلته چي یوازي او یا ډېر ګلونه وي. سیداحمد ګلزار د پښتو خوږ ژبي شاعر او ګلزار ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

باغبان همچون نسیم زدر باغ مران
کاب گلزار تو از اشک چو گلنار منست

**گلنار – گلناره:**

دغه کلیمه د انار گل مانا لري چي وروسته گلناره سوې ده. خو د دغي کليمې اصلي مانا انارگله ده. گلناربېگم د پښتو ژبي وتلې سندرغاړې وه چي په صوات کي نړۍ ته راغلی ده.

**گلنازه:**

د گل او ناز د ښکلو کلمو څخه جوړه سوې کلیمه ده. گلناز ډېر خوږ ښځينه نوم دی.

**گلنواز:**

د گل او ناز د ښکلو کلمو څخه جوړه سوې او په پښتنو کي د پخوا څخه رواج نرينه نوم دی.

**گلڅېره:**

ښکلې، ښايسته، پی مخې، څوک چي څېره يې د گل غوندي ښکلې وي. دغه نوم له پخوا څخه دود و. د ظهيرالدين محمد بابر د دويمي لور نوم گلڅېره و. دا د ده له کابلی ښځي څخه وه.

گلڅېره ډېر ښايسته ښځينه نوم دی.

**گوتمۍ:**

گوتمۍ د سپوږمۍ پر وزن ښکلی نوم دی. گوتمۍ يا انگشترۍ

هغه فلزي او زیاتره د سرو او سپینو زروڅخه جوړه سوی ګاڼه ده چي ښځي او کله ناکله نارینه د ښکلا لپاره په ګوتو کوي.

ګوتمۍ لنډ، ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**ګوربز:**

د پښتنو د وزیرو د ټبر یوه پښه ده چي د خوست په ولایت کي اوسیږي. د دغه ټبر د ځینو غړو تخلص ګوربز وي. خو ګوربز ښکلی، عام پښتني نرینه نوم کیدای سي.

**ګوهر:**

د یوه شي اصل، ذات او ماهیت ته وایي. همداسي ټوله قیمتي ډبري چي په ګېڼو کي کارول کېږي لکه الماس، پېروزه، یاقوت، لاجورد، ګوهر بلل کېږي. ګوهر یعني ملغلره. ګوهر ډېر مناسب نرینه نوم دی.

**ګویا:**

وېند، وېندوی، ویاند، نطاق، هغه څوک چي رواني خبري کولای سي.

سرور ګویا د اعتمادي کورنۍ څخه د خپل وخت یو زبردست ویناوال ادیب او شاعر و.

**ګهیځ:**

ګهیځ سهار ته وایي. ګهیځ د افغانستان د دموکراسۍ په لسیزه کي د یوې ورځپاڼي نوم و چي مسئول مدیر یې منهاج الدین ګهیځ نومېدی. ګهیځ ډېر ښه پښتو نرینه نوم دی.

**ګيتي:**

**نړۍ، دنيا، کيهان، جهان، روزګار، زمانه. وايي يو ډول خوشبويه ګل هم ګيتي نوميږي. ګيتي ډېر نازولی ښځينه نوم دی.**

**حافظ وايي:**

آسايش دو ګيتی تفسير اين دو حرف است
با دوستان مروت با دشمنان مدارا

**ګيسو:**

**ګيسو ياني د سر او تندي وربښتان، زلفي، چوټي، ښځينه وربښتان.**

در سر زلف ندانم که چه سودا داری
که بهم بر زده ای ګيسوی مشک افشان را
(حافظ)

**ګيسو نهايت ښکلی ښځينه نوم دی.**

**ګېډۍ:**

**په راوروسته پښتو دود سوو نومونو کي ګېډۍ تر ټولو ښکلی، خوږ او لنډ ښځينه نوم دی. په پاړسي (ګيدي) تلفظ کېږي. دغه نوم د افغانستان په جنوب لوېديځو سيمو کي پراخ ايښودل کېږي.**

# ل

**لاجورده:**

د لاجورد ښځینه بڼه ده. لاجورد یو ډول ډېره ګران بیه تیږه یا ډبره ده چې په ګېڼو کې کار ځنې اخیستل کېږي. کانونه یې یوازې په افغانستان او د چیلي په هیواد کې سته. زموږ د هیواد لاجورد زړه وړونکی رنګ لري.

د لاجوردي نوم په کندهار کې له ډېر پخوا څخه رواج و. دغه نوم د ننګرهار خواته لاجبره سوی دی. لاجورده ښکلی ښځینه نوم دی.

**لاروی:**

په پاړسي ژبه کې لاروی پر لاره تلونکي ته وایی، خو هیڅکله د (همراه) یعني د لاري او سفر د ملګري په مانا نه راځي. خو پاړسي انډول یې (رهنورد) دی.

فدامحمد لاروی د افغانستان یو مبارز شخصیت دی چې د ننګرهار په خوږیانو کې زېږېدلی او په جرمني کې اوسي.

لاروی ډېر ښکلی پښتو نوم دی.

**لالی:**

لالا، لاله، مشر ورور، محبوب، معشوق، د ماشوم لقب، وړوکی

ځوان یا کوچنی.

که په شپبو باران اورېږي
زما په خپل لالي باور دي رابه سینه
(پښتو لنډۍ)

**لامبوزن:**

آبباز، آوباز، لامبو وهونکی، د لامبو په فن پوه، ماهکی، ملاح.
لامبوزن یو په زړه پوري نرینه تخلص دی.

**لاهو:**

په اوبو کي ډوب، غرق، اوبو وړی. کله ناکله لاهو د کښتي په مانا هم راغلی دی.

چیري اوښکي مي لاهو نه کا بېړېږم
په ژړا کي ځکه دواړه بصر نیسم
(عبدالقادر خټک)

**لایق:**

لایق، جوګه، وړ، سزاوار، ښایسته، برازنده، ښکلی.
سعدي وایي:

آنکه هفت اقلیم عالم را نهاد
هر کسی را هر چه لایق بود داد

سلیمان لایق د افغانستان ډېر ستر ادبي او سیاسي شخصیت دي. دي په اوسني زمانه کي د پښتو شعر تر ټولو ډېر ښه استازی دی.

نوموړی پر کال ۱۹۳۰ د پکتیکا په ولایت کي زیږېدلی او په ۱۳۴۱ کال کي د (چونغر) د شعري ټولګی په خپریدلو سره مشهور سو. ده په لسهاوو شعري، ادبي او څېړنیز کتابونه کښلي دي.

اوس بېخي ډېر پښتانه د نوموړي په ویاړ خپل زامن لایق نوموي.

لایق ډېر ښکلی پښتو نرینه نوم دی. لایق وایي:

بیـا مـي سـاقي ولیـد د خیـالونو پـه خوبونـو کـي
بیـا د جنـت حـوري راتـه نـاڅي پـه جـامونو کـي
زه د سـکندر د آینـي څـه ګـدا نـه یمـه
زه هـر څـه لیـدای شـمه د ښـکلو پـه مخونـو کـي
غرونـه کـه لالونـه شي طـلا شـي او زمـا شـي بیـا
نـه ارزي پـه دې چـي ځـواني خـاوري کـم غمونـو کـي
زانګـم د سـپوږمۍ پـه تنـاوو کـي د جانـان سـره
خیـال چـي راسـره شـي د نـشې پـه جنتونـو کـي
کلـه چـي د یـار پـه سـودا پرېوزمـه ویـده شـمه
اوړم پـه ګلونـو کـي را اوړم پـه ګلونـو کـي

**لټون:**

لټونه، معلومونه، څېړنه او پلټنه، د رابرسېره کولو او را پیدا کولو کوښښ. لټون نوی، لنډ، خوږ او ادبي نرینه نوم دی.

**لرغونی – لرغونه:**

وړاندنی، مخکنی، پخوانی، د آرین د ټکم ټاټوبی، د آریایانو ځای.

خلـک هوښـیار دي زه لېـوني یـم
نـه اوسـنی یـم لا لرغـوني یـم
(خوشحال خټک)

لرغون د زرغون او لرغونه د زرغونه پر وزن ښکلی او نوی نرینه او ښځینه نومونه دي.

**لژند:**

په وینو لړلی، په وینو کي ډوب، ویجاړ، خراب.

د ځینو ذوقونو لپاره ډېر غوره نرینه تخلص دی.

**لښته:**

لشته، نری ښانګه، د وني ښاخله، د بوټی او د ګلو ښانګي.

د نوم په توګه د لښتي مانا یعني نازکه، نری، جګه او ښایسته نجلۍ.

د ګلو لښتي خمار دي کړم

**لښکر:**

لشکر، پوځ، سپاه، ګڼ خلک، پراخ ولس، فرقه.

لښکر ډېر نوی نوم دی او لښکر تخلص کېدای هم سي.

که پاچا سره بېشماره خزانې وي
چي یې ښه جنګي لښکر نه وي هم هیڅ
(خوشحال ختک)

**لګیا:**

بوخت، اخته، مصروف، مشغول، نښتی.

د افغانستان دوتلي فکلوریست اروا ښاد محمد ګل نوري لومړی تخلص لګیا و. لګیا غوره تخلص دی.

**لمبه:**

د اور شغله، تاو، ګرمي. يو ډول مرغۍ ده چې د وزرو سرونه يې ژړ او سره رنګونه لري.

لمبه ډېر ښکلی ښځينه نوم دی. په را وروسته کلونو کي لمبه په کندهار او شاوخوا ولايتونو کي ډېر رواج سوی نوم دی.

څه لمبې لمبې ناري وهې آسمانه
دا وطن چي پيدا سوی دي تنور دی
(عبدالباري جهان)

**لمر:**

نمر، نور، آفتاب، شمس. لمر مخی يعني ښکلی، ښايسته او حسين. لمر ډېر په زړه پوري نرينه نوم دی.

**لمسون:**

لمسه، تحريک، پاڅول، لمسول، پارول، آماده کول.

لمسون لکه پاڅون ډېر نوی نرينه نوم دی.

**لمن - لمنه:**

د کميس لاندنۍ ځوړنده برخه.

لمن ښکلی ښځينه نوم دي. خو ددغه نوم مجازي او پټه مانا پاک لمنه ده.

**لنګر:**

د کاروان د دمي او بيدېدو ځای. د اوسپني هغه ځنځير چي د

کښتې د درولو لپاره په کارېږي. و ملنګانو او فقیرانو ته د خیرات ورکولو ځای، د خېمې اوږده رسۍ.

لنګر ډېر مناسب، نوی او ډېر ښایسته نوم او تخلص دی.

**لوبه:**

ننداره، تماشا، مشغولا.

لوبه نوی، پښتو، ادبي او ښکلی ښځینه نوم دی.

**لونګ:**

لونګ یو ډول خوشبویه بوټی او د هغه دانې دي. د لونګو له دانو څخه امېلونه جوړوي.

پر تورو بد مه وایه یاره
تور خو لونګ دی پاچهان یې بویوینه
(پښتو لنډۍ)

نن د واړو دلبرانو غوره ته یې
که دي یو لونګ پر پوزه زېور نسته
(خوشحال خټک)

مختار لونګ شینواري د پښتو ژبې تکړه شاعر دی.

همداسي مېخکی او مېخک د لونګو په څېر د سرو زرو څخه یو ډول زېور او ګاڼه ده چي په پزه کېږي.

لونګ ډېر ښکلی نرینه او لونګه خورا ښایسته ښځینه نوم دی.

**لونګین - لونګینه:**

لکه لونګ د ډېر ښه بوی څښتن. لونګین او لونګینه ډېر ښکلي

نرینه او ښځینه نومونه دي. لونګین مومند د پښتو تکړه شاعر دی. (په پارسي ژبه کي لونګین ښځینه نوم دی).

**لېچه:**

لېچه یاني مټ، د ځنګلي څخه تر اوږو پوري لاس.
لېچه ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**لیلما:**

د (لیل) او (ماه) څخه جوړ نوم دی. یعني د شپې سپوږمۍ، د ځورلسمي سپوږمۍ.

لیلما تر ډېري اندازې د افغانستان په ډېرو سیمو کي دود نوم دی.

**لیلی:**

د لیلا لنډیز او د ناز بڼه ده، د محبوب، معشوق او جانان مانا لري.

په افسانوي لحاظ لیلا د مجنون مینه وه. د لیلی او مجنون کیسه ډېر شهرت لري. په پښتو کي دغه کیسه پر سکندر ختک سربېره نورو پښتنو شاعرانو هم نظم کړې ده. خو پارسي نظم یې لومړی سر نظامي ګنجوي کښلی دی.

**لېمه:**

لېمه، مژګان، باڼه، هغه جګ وریښتان دي چي د هري سترګي پر جړمه راخېژي. لېمه ښکلی، لنډ، ادبي او خوږ ښځینه نوم دی.

لېمه د نجیبه زېري مطبوعاتي نوم دی. دا په بي بي سي کي کار کوي او ډېره تکړه مېرمن ده.

**لښندۍ:**

کمان، لیندکۍ، کمانه، د ښکار هغه آله ده چې غشی پکښې نصب وي. د هجري شمسي کال نهمه میاشت لښندۍ ده.

لښندۍ ښکلی ښځینه نوم دی. شاعران لښندۍ د خپل مین د وروځو او غشي یې د باڼو سره پرتله کوي.

**لېوال:**

هیله من، آرزومند، غوښتونکی.

عبدالغفور لېوال د افغانستان د علومو اکاډمۍ څېړونکی، شاعر او ځوان سیاست پوه دی او نور رحمان لیوال د پښتو ایشیا سوفټ کمپیوټري پروګرام بنسټوال دی.

لېوال ډېر نوی، لنډ او ښکلی پښتو نرینه نوم دی.

# م

**مالیار:**

**ملیار، باغوان، مالي، بڼوال. هغه څوک چي د باغ پالنه، ساتنه او روزنه کوي.**

چي يې ګل ستا د چمن په سر کي نسته
چي ګدا دي مالیار سي نو پري څه
(ګدا)

**مالیار ښکلی تخلص دی خو مالیار ښه نوم هم دی.**

**مانا:**

**د معنی پښتو سوې بڼه ده. مانا، تعبیر، تشریح وضاحت او څرګندونه ده.**

**مانا ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.**

زه نـه تقـدیر او نـه دنیـا غـوارم
د عـشق او میـنـي ښـه مانـا غـوارم
(ح . ش)

**ماد جهان – ماه جهانه:**

**نړیواله سپوږمۍ، ستره سپوږمۍ.**

په کندهار کي دغه کليمه ورو ورو ماه جانه سوې ده. هم ماه جانه هم ماه جهانه دواړه ښکلي ښځينه نومونه دي.

**ماه ګله:**

د سپوږمۍ او ګل غوندي ښايسته نجلۍ.
د پخوا زمانو څخه په ټول هيواد کي منل سوی ښځينه نوم دی.

**ماهپري:**

هغه شاپيرۍ چي سپوږمۍ غوندي ښکلې ده.
ډېر پخواني پېژندل سوی ښځينه نوم دی.

**ماهناز:**

هغه ښکلې نجلۍ چي پر سپوږمۍ يې ناز چلېږي. د (سپوږمۍ) او (ناز) کلمو د يو ځای والي څخه جوړ سوی دی.
ښايسته نوم دی د پخوا څخه په ټول هيواد کي رواج و.

**مبارز:**

جنګيالې، د ظلم او استبداد پر ضد جګړه کوونکی، د سولي او آزادۍ لپاره تلاښ کوونکی.
عبدالحميد مبارز د افغانستان وتلی روښاندی، رسنوال او سياستپوه، ليکوال او څېړونکی دی. دی د کابل اوسېدونکې او زياتره په فرانسه کي وي.
مبارز ډېر ډېر ښکلی نرينه نوم دی.

**مبنا:**

مبنا عربي ريښه لري. آر، بنياد، آساس، تاداو، بنچک، بيخ، اصل، ريښه. لنډ ښځينه نوم دی.

**مټور:**

مټي لرونکی، د تکړه کورنۍ لرونکی، د ډېرو سړيو لرونکی، ځواکمن او طاقت ناکه.

مټور ښه نرينه تخلص خو ډېر ښکلی پښتو نوم دی.

**مثال:**

تصوير، صورت، نمونه، بېلګه، ډول.

يعني د ښکلا او ښو اخلاقو بېلګه او مثال.

نوی، لنډ او ښکلی نرينه نوم دی.

**مجنون:**

لېونی، عاشق، مين، شيدا، د ميني لېونی.

مجنون د (ليلا او مجنون) د خيالي نکل اتل دی. مجنون پر ليلا مين و. اروانښاد محمدعلم مجنون د هجري شمسي پېړۍ د ۴۰ لسيزي د مبارزينو او روښاندو څخه و. نوموړی په کلونو کلونو د کابل په ښاروالي کي د کابل د خلکو استازيتوب کاوه.

مجنون د عاشقانو او عارفانو لقب و.

زه دا هسي دېوانه او مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بېرون چا کړم

مجنون ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**محبوب:**

عربي ريښه لري. خوږ، ګران، دلدار، دوست، معشوق، ښکلی، د سترګو تور، ډېر ګران.

محبوب ښايسته نرينه نوم او تخلص دی.

**مځکنی - مځکنۍ:**

ځيني خلکو فلکي تخلص ايښی دی، ياني آسماني. خو څرنګه چي موږ مځکني موجودات يو نو مځکنی يا مځکنۍ هم د ښې مانا لرونکی نوم او تخلص دي.

**مخکښ:**

په مخکي تلونکی، مشر، قايد، پېشوا، سرکرده، لارښوونکی، رهنما.

که دي بيايي په تحقيق آب حيات ته
د هيچا خو دي مخکښ نه شي ناکس
(مصري خان)

**مخلص:**

سوچه، رښتينی، خيرخواه، اخلاصمند، صادق، يارباشه، مينه ناک.

علي محمد مخلص د بايزيد روښان لاروی چي د ده حالنامه يې ور بشپړه کړه. ولي محمد مخلص او د هغه زوی عبدالرؤف مخلص چي د کندهار وتلي ټولنيز شخصيتونه او شاعران وو، دواړو مخلص تخلص لاره.

مخلص ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**مدني:**

مدنيت و تهذيب او تمدن ته وايي او مدني ياني ښاري، د ښار ژوند او خوی اخيستنه، د ترقۍ او پرمختګ د وسايلو سره آشنا. مدني د فرهنګيالي مانا هم لري. د المان د فرانکفورت په يوه درنه کندهارۍ کورنۍ کي يوه ميرمن مدنۍ نومېږي. د نوموړې دوی نوری خويندی ستورۍ او ورۍ نومونه لري.

مدنی خورا خوږ نرينه او (مدنۍ) ډېر ډېر ښکلی ښځينه نوم دی.

**مدينه:**

مدينه په عربي ژبه ښار يا ښارګوټي ته وايي. خو مدينه تر مکې وروسته په سعودي عربستان کي دوهم اسلامي ښار دی او د نړۍ په مسلمانانو کي سپېڅلی مقام لري. سره له دې چي مدينه عربي ريښه لري، خو لنډ اومنډولی ښځينه نوم دی.

**مرجان – مرجانه:**

مرواريد، يو ډول قيمتي ډبره ده. مرجان سور رنګ لري او رنګ يې د انارو دانې ته ورته دی. مرجان د ښکلي ماشوم د نامه په توګه له ډېري پخوا زمانې څخه رواج و. لعل او مرجان په ادبياتو کي يو ځای يادېږي.

په پښتو کي (مرجان) د نارينه او (مرجانه) د ښځي لپاره نوم دی. خو په پارسي ژبه کي مرجان د ښځينه نوم په توګه ايښودل کېږي.

**مرستندوی:**

زړه ته تېر ملګری، خوږ ملګری.

مرستندوی وړ نرينه تخلص دی.

**مرسته:**

کومک، لاسنیوی، تعاون، مدد، لاس ورکونه، استعانت، استمداد. مرسته ډېر نوی، ښکلی، لنډ او ادبي ښځینه نوم دی.

**مرستیال:**

معاون، مرسته کوونکی، د یوې اداري دوهم صلاحیت لرونکی کس. مرستیال ډېر ښه نرینه تخلص دی.

**مرسل:**

مرسل د ګلابو یو ډول دی چې د نسترن د بوټي په تنه پوري یې پیوند کوي او ډول ډول ښکلي ګلابونه رازېږوي. خو د وحشي او پر خپل سر راشنه سوو ګلابو څخه یې بوی لږ وي.

پریسا مرسل د افغانستان د راډیو تلوېزیون ښکلې سندرغاړې ده. اوس په امریکا کې ده او د سندرغاړي عمرشکیب سره یې واده کړی دی.

**مرکه:**

مجلس، شورا، د سلا او مشورې غونډه، خبري اتري.

مرکه ډېر ډېر ښکلی، نوی، ادبي، پښتني ښځینه نوم دی.

مرګه او جرګه توپیر سره لري. مرکه د وړوکو او جرګه د سترو او ستونزمنو مسلو د حل لپاره جوړېږي.

**مړوند:**

د څنګلي څخه تر پنجې پوري د لاس برخه. د اشنا مړوند په

ادب او شعر کي هر وخت ډېر ستایل کېږي. مړوند خورا ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**مزدک:**

د ساساني پاچا (قباد) په زمانه کي د زیارکښانو مخکښ جنګیالی و. ده د یو ډول مساوات، برابرۍ او عدالت لپاره مبارزه کول. وروسته بیا د (نوشیروان) پاچا پر ضد مبارزه کي د خپلو زرګونو پیروانو سره ووژل سو.

مزدک ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

**مژده:**

زېرې، بشارت، د نوي او ښه خبر ورکول.

شاعران د یار پیغام ته مژده وایي.

**حافظ وایي:**

مـژده ای دل کـه مـسیحا نفـسي مـی آیـد
کـه از انفـاس خوشـش بـوی کـسي مـی آیـد

***

ای مـژده دیـدار تـو چـون عیـد مبـارک
فردوس به چـشمی کـه تـرا دیـد مبـارک
(بیدل)

**مژګان:**

مژګان د پښتو د باڼه سره انډول دی. د سترګو پر جرمو چارچاپېره وریښتان مژګان بلل کیږي.

که د زړه ویني مي جوش وهي له سترګو
هر مژګان مي لکه خار د کربلا کا

مژګان ډېر رواج، خو ښکلی، لنډ او ادبي ښځینه نوم دی.

بیدل وايي:

بیدل ز فیض عشق به مژګان ګذشته یم
در بیشهء که ناخن شیران شکست ورفت

"ځیني هغه د (م) په پېښ (مُژګان) تلفظ کوي. اصلاً د (م) په زېر دي". مژګان د افغانستان د راډیو تلوېزیون د یوې تکړه سندرغاړي نوم دی. د دې مورنۍ نوم (ثریا) دی او د هرات په ولایت کي نړۍ ته راغلې ده.

**مستان:**

شور او مستي یوه مانا لري. مستان د مست جمع ده.

مستان له پخوا څخه دود نرینه او ښځینه نوم و. د کندهار په لهجه کي یې ښځینه بڼه مستانه ده. کمال مستان یو نوښتګر شاعر او لیکوال دی.

**مِسرۍ:**

غزل یا بدله.

د پښتو او پاړسي ادب یو اساسي شکل دی چي زیاتره د مین په هکله وي. په غزل یا بدله کي لومړي بیت ته مطلع وايي. د مطلع د دواړو نیم بیتیو او د نورو ټولو بیتونو هري وروستۍ کلیمې ته (مسرۍ) وايي. د غزل ټولي مسرۍ باید په وزن کي برابري او په قافیه کي یو شی وي.

مسرۍ ډېر ښکلی نوی او ادبي ښځینه نوم دی.

خو (مسري) یو ډول خواږه شېریني ده چې د بورې (شکري) څخه جوړېږي، خو د ښځینه نوم لپاره زموږ مقصد د کلیمې لومړنۍ مانا ده.

**مشعل:**

مشال، څراغ، ډیوه. د نور او روښنایۍ مانا هم لري.

مشعل ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

استاد مشعل د غور او هرات له نومیالیو میناتوریستانو څخه و او مشعل هنریار د افغانستان د راډیو تلویزیون تکړه هنرمند دی.

**مشک:**

مُشک د (م) په پېښ یوه توره خوشبویه ماده ده. وایي چې د ختن (د چین یو ایالت دی) د هوسۍ د نو (ناف) څخه یې راټولوي. څرنګه چې د مشکو رنګ تور دی نو ځکه په شعر او ادب کې د تور او یا توروزمه په مانا هم راځي. مُشک ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

دغه نوم په کندهار کي له پخوا څخه رواج و. خو متاسفانه کله ناکله په عامیانه ژبه (مَشک) د (م) په زور تلفظ کېږي، چې ښه مانا نه لري. ملا مُشک عالم د کندهار د ډېرو متبحرو دیني عالمانو څخه و چې امیر عبدالرحمن وواژه. د ده زیارت په کندهار کي دی.

**مشکین – مشکینه:**

د خوشبویه مانا لري. مشکین او مشکینه دواړه نوي او ښکلي ښځینه نومونه دي.

**معجزه:**

هغه تر عادت او معمول پورته کار چي د عادي خلکو په وس نه وي او پيغمبران يې د خپلو دښمنانو د تسليمۍ لپاره سر ته رسوي معجزه ده. که همدغه کار د وليانو (اولياء الله) له خوا سر ته ورسېږي (کرامت) ورته وايي. خو همدغه کار که د يوه کافر (غير مسلمان) له خوا سر ته ورسېږي استدراج بلل کېږي.

معجزه ډېر ښکلی او نوی ښځينه نوم دی. په تېره بيا د يوې ډېري ښکلي نجلۍ پيدايښت رشتيا هم معجزه ده.

تا شاه خسروان سفر سومنات کرد
کردار خويش را علم معجزات کرد
(عسجدي)

جهان حسن تو داری به زير خاتم زلف
تراست معجزه و نام تو سليمان است
(خاقاني)

**مفتون:**

عربي ريښه لري، لغوي مانا يې تېروتلی او په فتنه کي لوېدلی ده. يعني عاشق، مين.

لکه زه پر يار مين يم بل به نه وي مين هسي
لکه زه پسي مفتون يم بل به نه وي مفتون هسي
(خوشحال ختک)

حاجي محمد مفتون شاعر، ليکوال او يو تقواداره سياسي شخصيت دی.

مفتون ښکلی او ادبي نرينه نوم دی.

**مقدس:**

پاک، په پاکي یاد سوی، پاکیزه، پاک او منزه، بېګناه، د اطاعت وړ. هغه څه چي باید توهین ورته ونه سي.

مقدس ډېر مناسب نرینه نوم دی. د عربي ریښې سره سره ښکلې مانا لري. دغه نوی او لنډ نوم دی، خوږ تلفظ لري او هر څوک یې په مانا پوهېږي.

**مکیز:**

ناز، ادا او کرشمه. غمزه او په سترګو او ښو سره اشاره هم مکیز بلل کېږي. زه د مکیز او ممیز په نامه دوې پنجشېرۍ خویندي پېژنم. خو (مکۍ) چي د مکیز لنډه بڼه ده ډېر رواج نوم دی.

مکیز لنډ، ښکلی او ادبي ښځینه نوم دی.

**مکۍ:**

د مکیز یاني ناز، ادا او کرشمې لنډ ه بڼه ده.

ښکلی دود سوي نوم دی. پاړسی او پښتو تلفظونه یې څه توپیر سره لري، خو دواړه ډ یر خواږه نومونه دي.

**ملاتړ:**

مرسته، مل، ننګه، دوستي، ملګرتیا، حمایت کول، تصدیقول، تاییدول، کومک کول، حمایت، ساتنه، پلوي، مددګار. ذکریا ملاتړ د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څانګي یو علمي غړی دی.

ملاتړ ښکلی تخلص او ښایسته نرینه نوم دی.

**ملال:**

خپه، غمګین، چرتي.

ملال ښايسته نوم او ښکلی تخلص دي. ارواښاد سيدجان ملال يو پر هيواد مين ليکوال او ژورناليست و. د ده مېرمن پروين فيض زاده ملال په اوسنيو پښتو ښځينه شاعرانو کي تر ټولو نازکخياله شاعره ده. په خټه د کندهار پوپلزۍ ده، اوس په کراچي کي اوسېږي.

په ملال ملال کاته عاشقان وژني
ستا په سترګو کي چړې دي د قصاب
(خوشحال خټک)

**ملالۍ:**

محبوبه، معشوقه، مينه.

د هغي قهرماني نجلۍ نوم دی چي د افغان او انګليس د دوهمي جګړې په وخت کي يې د يوې پښتو لنډۍ په ويلو سره جنګيالي زلميان د غليم پر سنګرونو باندي و يرغل ته وهڅول.

که په ميوند کي شهيد نه سوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتينه

ملالۍ جويا د هغي مبارزي نجلۍ نوم دی چي د افغانستان د جګړه مارو پر ضد په مبارزه کي نړيوال شهرت لري. دا د فراه د ولايت ده او اوس په کابل کي اوسېږي.

ملالۍ يو ښکلی او رواج ښځينه نوم دی.

**ملت:**

ملت د يوه هيواد وګړي، د وطن خلک او قوم ته وايي. قام، کام،

ټبر. ملت ډېر ښکلی، لنډ او نوی نرینه نوم دی.

**ملغلره:**

مرغلره، دُر، مروارید، ملغلره لال یا لعل ته چي یو ډول قیمتي کاڼی دی وایي.

ملغلره په ټول هیواد په تېره بیا په پښتني سیمو کي یو خوږ، ښکلی او لنډ ښځینه نوم دی.

**مَلِکه:**

ملکه په اصل کي د پاچا مېرمني او مایني ته وایي.

ملکه په ټول هیواد کي دود سوی ښځینه نوم دی.

**ململه:**

ململ یو ډول پوست نخي ټوکر دی. پښتانه سپیني خاسې ته ململ وایي.

مخ دي په سپین کي سرخی وایي
لکه خاسه چي پر گلاب وغوړوینه

ململه ښکلی ښځینه نوم دی. دغه نوم په کندهار کي رواج دی، په نورو سیمو نه یم خبر.

**ملنگ:**

ناچار، غریب، گدا، دروېش، قلندر، بې پروا، سوالگر، دروېزه گر، د کوره وتلی یا ایستل سوی مسافر. ملنگ ته کله ناکله کلیوال نذرانه ورکوي او هغه ته قلنگ وایي.

ځوک چې لاس له سوده وکاږي زيان نشته
په ملنګ باندي قلنګ او تاوان نشته

(رحمان بابا)

ملنګ جان د پښتو د يوه ډېر نازکخيالَه شاعر نوم و. ده خپل ډېر شعرونه د پښتونستان لپاره ويلي دي:

زما پښتونستانه ملنګ يمه ملنګ

ملنګ ډېر ښايسته او د ښې مانا لرونکی ادبي نرينه نوم او تخلص دی.

## ملهم:

هغه غوړه دوا ده چې پر زخم باندي يې وهي او پرهارونه په جوړېږي. ملهم ډېر ښايسته او نوی نرينه نوم دی. خوشحال خټک وايي:

طبيبان د رغېدو ملهم پرې نهږدي
ځو پرهار په ترخو پيازو ژاولن نه کا

## ملګری:

مرستيال، د لاري مل، دوست، يار، آشنا، رفيق، همرزم.

پښتانه زلميان خپلو همزولو ته ملګری وايي. د خلق په ګوند کي د ګوند هر غړي بل غړي ته د ملګري رږغ کاوه.

عبدالمنان ملګری د راډيو افغانستان يو منلی ممثل و. ملګری ښه نرينه نوم دی. انډيوال د خوراک او څيښاک ملګري ته وايي خو ملګری زياتره د معنوي او سياسي دوستۍ په مانا راځي.

**ملکیار:**

د پاچا ملګری یا مرستیال.

په پټه خزانه کي د هوتک بابا زوی او ځای ناستی و. هغه یو صوفي، دینداره مشر و او په پښتو ژبه یې شعر هم وایه.

دغه کلیمه په را وروسته کي دود تخلص و. په افغانستان کي د ملکیار کورنۍ شهرت لري.

**ممتاز:**

امتیاز لرونکی، غزتمن، اعلی، معزز، لوړ، معتبره، ځانګړی.

ممتاز په ځینو سیمو کي دود سوی نرینه نوم او تخلص دی.

**ممنون:**

منت بار، منت وړونکی، احسانمند، شکر ګذار.

ممنون تر ټولو ښکلی او لنډ نوم دی. ممنون مناسب او د ښې مانا لرونکی هم دی. قاضی عزیزالرحمان ممنون تکړه شاعر دی.

**منصور:**

اصلاً عربي نوم دی. په اسلام کي حسین بن منصور حلاج پخپله د وحدت الوجود په عقیده مشهور و. منصور په اوسني ادب کي د غښتلی پر خپله وعده ټینګ او د کلک ایمان او عقیدې لرونکي چا ته وایي.

که منصور غوندي په دار او یا سنګسار شم
نه شته دا چي ستا له میني توبه ګار شم
(حمید مومند)

منصور غوره نرینه نوم او تخلص دی.

**منلی:**

قبول، مسلم، محترم، ښاغلی. منلی د بېلګي او نمونې ماناوي هم لري. منلی ډېر لنډ، ښکلی او ادبي نرینه نوم او تخلص دی.

منلی د استاد زین الله منلي او همداسي د ده د زوی، ځوان لیکوال، څېړونکي او رسنوال نجیب منلي تخلص دی.

**مننه:**

مننه د تشکر، کوروداني او مهربانۍ لپاره ډېره مناسبه او خوږه کلیمه ده چي په را وروسته کلونو کي په عامه توګه منل سوې ده.

مننه ډېر ښایسته، نوی، ادبي او لنډ ښځینه نوم دی.

**منوچهر:**

منوچهر د شهنامې د خیالي نکلونو له مخي یو پاچا و، چي رستم پهلوان د ده د پاچهۍ په دوره او قلمرو کي ژوند کاوه.

منوچهر په ځینو سیمو کي دود سوی نوم دی. خو ځیني بیا هغه ډېر بهرنی نوم بولي نه افغاني.

**منګل - منګله:**

منګل د پښتنو یو ستر قوم دی چي له آره په پکتیا کي اوسېږي. ځیني منګل د کندهار د ولایت د ښوراوک د ولسوالۍ د رېګ په سیمه کي هم اوسېږي.

ګلاب منګل د هلمند والي، ستورۍ منګل د راډیو افغانستان فلمي هنرمنده، پاینده محمد منګل د راډیو افغانستان خوږ آوازه سندغاړی او داسي نور منګل تخلص کوي. منګل د ځینو نوم او د ځینو

تخلص دی. منګله ښکلې ښځینه او منګل په زړه پوري نرینه نوم دی.

منګیواله:

منګی له خاورو او ختو څخه ګردی او غونډ منډ جوړ سوي لوښي دي چي اوبه پکښي راوړل او ساتل کېږي. منګیواله هغه ښځه ده چي، زیاتره د مازیګر پر مهال، د ګودر څخه کور ته په منګي کي اوبه راوړي. منګیواله ډېر ښایسته، ادبي او نوی ښځینه نوم دی.

منیژه:

د شهنامې د نکل له مخي منیژه د (افراسیاب) لور وه، چي پر بېژن باندي مینه وه. منیژه په هیواد کي دود نوم دی.

مړوکی:

مړوکی د (ماړو) د تغصیر شکل دی. ماړو یو بوټی دی چي سپلني غوندي يې د نظر د ماتېدو لپاره پر اور اچوي. مړوکی منګل د هیواد یو سیاسي شخصیت دی.

موج:

څپه، جوش، ولوله، خیال، وهم، مستي، شوق، خوښي، سرګردانه، لالهانده. د قرار او آرام ضد.

غوره نوم او تخلص دی.

لکه موج بې قرار کړم خپلو اوښکو
چي مي لاندي تر پهلو سو بستر آب
(ک. شیدا)

**مورچل:**

سنگر، مورچه، سنگره، څوکۍ، خندق.

مورچل ښکلی پښتني نرينه نوم دی.

که په مورچل کي شهيد نه سوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتينه
(پښتو لنډۍ)

**موسکا- مسکا:**

تبسم، مسېدنه، په شونډو کي نرۍ خندا.

په را وروسته کلونو کي دغه نوم ډېر زيات رواج موندلی دی. مسکا ډېر لنډ او ښايسته پښتو ښځينه نوم دی. اصلي بڼه يې موسکا دی خو اوس يې موسکا ليکي. د ډاکټر نجيب الله د لور نوم مسکا دی.

**موسم:**

د کال هري درې مياشتي يو موسم دی. يو کال څلور موسمونه لري: پسرلی، دوبی، منی او ژمی.

موسم ډېر ښايسته او نوی نرينه نوم دی.

**مومند:**

مهمند يا مومند د پښتنو يوه ستر ټبر دی. مومند د دغه ټبر دځينو غړو تخلص وي.

ارواښاد محمدګل مومند يو ستر ژب پوه، ليکوال او سياست وال تېر سوی دی. پښتانه يې (د پښتو بابا) بولي. همداسي عبدالاحد مومند لومړنی افغان هواباز و چي د سپوږمۍ په لوري يې

سفر وکړ.

مومند ډېر ښکلی نرینه نوم دی.

**مهپري:**

چې مخ یې لکه د پري یا شاپېرۍ غوندي ښکلی دی.

د هیواد په ډېرو سیمو کي منل سوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**مهتاب:**

سپوږمۍ ځلېدل، د سپوږمۍ رڼا.

مهتاب ښکلی نوم او تخلص دی. په کندهار کي مهتاب نرینه خو په کابل کي ښځینه نوم دی.

مهتـاب نـدارد بخـدا تـاب جمالـت

**مهتاب بلند:**

لوړه سپوږمۍ، ښکلې سپوږمۍ.

په کندهار او ګاونډیو ولایتونو کي (آفتاب بلند)، (مهتاب بلند)، (جهان بلند) او داسي نور نومونه دود دي. دغه ټوله ښکلي او د ښې مانا لرونکي نومونه دي.

**مهدخت:**

د سپوږمۍ لور، لکه سپوږمۍ داسي ښکلي.

د (ماه) او (دخت) یاني سپوږمۍ او نجلۍ یا لور د کلمو د یو ځای والي څخه جوړ ښځینه نوم دی.

**مهربان – مهربانه:**

مینه ناک، مینه کوونکی، مهرباني کوونکی.

دغه دواړه کلیمې هم مناسب تخلصونه او هم ښکلي نومونه دي.

**مهرو:**

سپوږمۍ مخې، پې مخې، سپین مخې، ښکلې، ښایسته.

بي بي مهرو د کابل د ارگ او هوايي ډگر تر منځ د یوې سیمې نوم دي. هلته په دغه نامه یو زیارت هم سته.

مهرو ښکلی ښځینه نوم دی.

**مهناز:**

هغه ښکلې نجلۍ چې پر سپوږمۍ یې ناز چلېږي، ډېره نازولې.

مهناز ښکلی ادبي ښځینه نوم دی.

**مهنوش:**

ښکلی پارسي او ادبي ښځینه نوم دی.

**مهوش:**

لکه سپوږمۍ، د سپوږمۍ په څېر، ښکلې، ښایسته.

مهوش د افغانستان د راډیو تلوېزیون وتلې سندرغاړې ده. د دې نوم فریده دی او لومړنۍ ښځه ده چې د سندرو په نړۍ کې یې د استادۍ لقب گټلی دی.

په دغه پارسي شعر کې د مهوش کلیمه و گوري:

بنگر چه مهوشان کمرچین به کابل است
زلفان حلقه، حلقهٔ پرچین به کابل است
گلگون رخان غمزه گر چین به کابل است
خوبان خوش قوارهٔ سرچین به کابل است
چندین هزار مهوش همچنین به کابل است

**مهرانه:**

**مهر، رحم، شفقت، میني او مهربانۍ ته وايي.**
**مهرانه ياني مهربانه.**
**مهرانه ښکلی، نوی او د ښې مانا لرونکی ښځينه نوم دی.**

**ميثاق:**

**د وعدې او تړون مانا لري.**
**ميثاق هغه لومړنی تړون دی، چې د خدای او بندګانو تر منځ د پيدايښت په لومړۍ ورځ سوی دی، تر څو ټول بندګان به خدای ستايي او عبادت به يې کوم. ميثاق ښکلی ادبي او نوی نوم دی.**
**عبدالکريم ميثاق د افغانستان يو شاعر، ليکوال او مبارز شخصيت دی. نوموړی له آره هزاره، په کابل کي لوی سوی او اوس په لندن کي ژوند کوي.**

**ميرکی:**

**د مير کليمې څخه دی چې د مير ( پاچا) کوچنۍ بڼه ده. ميرک د وړوکي امير مانا لري او وړوکو شهزاده ګانو ته ويل کېږي.**
**ميرکی ښکلی پښتو نرينه نوم دی.**

**میرویس:**

میرویس نیکه (۱۰۸۴ - ۱۱۲۷) د افغانستان د هوتکیانو د سلسلې بنسټ ایښودونکی دی. میرویس په ټول هیواد کې رواج او ښکلی نوم دی.

**میلاد:**

د زیږیدو ورځ، د اسلام د پیغمبر د زیږیدو ورځ. همداسې میلاد د شاهنامې د خیالي نکلونو یو اتل دی.

میلاد ډیر ښکلی، لنډ او ادبي نرینه نوم دی.

**میلان:**

مینه، علاقه، تمایل.

میلان مناسب تخلص او ډیر ښکلی، نوی او لنډ نرینه نوم دی.

**میمنه:**

د افغانستان په شمال کې د فاریاب د ولایت د مرکز نوم دی. د مانا په لحاظ میمنه د لښکر د مخ خوا ته وایي. مقابل حرف یې (میره) ده چې د لښکر د شا برخې ته وایي.

میمنه ډیر ښکلی او نوی ښځینه نوم دی.

**میمونه:**

مبارک، پاک، خجسته، برکت لرونکی.

میمونه د پخوا څخه دود ښځینه نوم دی. میمونه غزال د افغانستان د تیاتر ډیره پخوانۍ لوبغاړې ده.په پښتو فلکلوریکو

نکلونو کي د میمو نې او شیر علم کیسه او نارې یا سندري ډېر مینه وال لري. د نکل چیانو په خبره شېرعلم خپله ښکلې او بېگناه مېرمن د بې ځایه شک او گومان له کبله حلالوي.

په ایمان خوار سې شېر علمه
د تمباکو په پاڼو چا کړې مرگونه

**مین:**

هغه چي زړه یې بایللی وي، په محبت اخته، هغه څوک چي یو بل څوک ډېر پر گران وي. مین نوی، ادبي او لنډ نرینه نوم او تخلص دی.

**مینا:**

هغه مرغۍ ده، چي ښه آواز لري او که وروزل سي د انسان څخه خبري زده کوي او بیا یې په ښکلې توگه تکراروي.

مینا له پخوا څخه رواج ښځینه نوم دی.

**مینوش:**

نشه، مست، هغه چي شراب یې څکلي وي.

مینوش ډېر ښکلی او ادبي تخلص دی.

**میهن:**

وطن، مملکت.

میهن ډېر ښکلی، نوی او لنډ نوم دی. په پاړسي ژبه کي کله کله د تخلص لپاره د پور کلیمه ورسره یو ځای کوي، (میهن پور) یعني د هیواد بچی.

**میوند:**

د کندهار په ولایت کي د یوې ولسوالۍ نوم دی چي د افغان او انګلیس په دویمه جګړه کي انګریزانو په دغه سیمه کي کلکه ماتې وخوړه. وروسته دغه نوم ډېر مشهور سو.

میوند خورا ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی.

که په میوند کي شهید نه سوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دي ساتینه

**مېړنی:**

ډوډۍ مار، مېلمه پال، غیرتي، تورزن، زړه ور.

مېړنی ښکلی او لنډ نرینه نوم او تخلص دی.

**مینه:**

محبت، اخلاص، دوستي، عشق، تعلق، علاقه، الفت، خوښي، وفا.

مینه ډېر ډېر ښکلی نوم دی. په را وروسته کلونو کي ډېرو شاعرانو او لیکوالو پر خپلو لوڼو مینه نوم ایښی دی.

میني دي داسي لېونی کړم
پر لاري ځم په کاڼو ولم زیارتونه
مینه په تګ راتګ ډېرېږي
کله راځه کله به زه درځم مینه
(پښتو لنډۍ)

**مېنه پال:**

"مېنه" کور، وطن او هیواد ته وایي. مېنه پال یعني وطن پالونکی. مېنه پال ښه نرینه تخلص دی.

# ن

**نادر – نادره:**

نادر، نایاب، کمیاب، ښه، غوره، غیر معمولي.

شهید محمدنادر د افغانستان ټولواک او د محمدظاهرشاه پلار و. نادر ښکلی نوم او ډېر ښه تخلص دی.

**نازبو:**

نازبو، کشمالی، ریحان او ببري ګل یوه مانا لري.

دا هغه ګل دی چي یاثمین او یاسمین هم نومېږي. دغه بوټی واړه ګلان او ډېر ښه بوی لري. دغه ټول ښه نومونه دي.

نازبوی من مبادا ناکسان بویت کند
با بدان کمتر نشین ترسم که بد خویت کند
(...)

**نازپرور:**

نازپرورو په نعمتونو، آرامي او استراحت کي لوی سوي شخص ته وایي. نازپرور یاني هغه نجلۍ چي په ناز یې پرورښت سوی وي. ښکلی، نوی او خوږ نوم دی. په پاړسي او پښتو کي یو ډول ماناوي لري. په ولسي جرګه کي د هلمند ولایت د یوې وکیلي نوم هم

نازپروره دی. حافظ وايي:

یاقوت جان فزایش از آب لطف زاده
شمشاد خوش خرامش در نازپروریده

**نازکه:**

تنکۍ، لطيفه، نرۍ، چي پوست يې نرم وي، گرانه، د نازکو اندامو لرونکې، نازک بدنه، نازک اندامه. دغه ښکلی ښځينه نوم له پخوا څخه په کندهار کي رواج دی، خو ما په نورو سيمو کي نه دی اورېدلی.

**نازک گل:**

نازک او ښکلی گل.

دغه يو رواج پښتو نوم دی چي په ننگرهار او پکتيا کي پراخ دود سوی دی.

**نازنين – نازنينه:**

هغه څوک چي ډېر ناز و نخرې کوي، هغه څوک چي ښکلی او پر ټولو گران وي، هغه څوک چي ټوله يې نازونه اخلي، (د ښځو په تړاو) هغه نجلۍ چي په ناز او نزاکت تگ کوي. په ناز لويه سوې، په ناز باندي عادت سوې، نازک طبع او نازک مزاجه. خوشحال خټک وايي:

لکه ښکلا هومره ناز

***

اوس به دي يو موټي ايرې کړم
که خماري سترگي په ناز در واړومه
(پښتو لنډۍ)

نازنين او نازنينه خورا ډېر ښکلي نومونه دي.

**نازو:**

د ستر ملي قايد میرویس نیکه مور نازو انا نومیده. دغه پتمنه مېرمن په ختټه توخې وه او په ۱٦۸۲ میلادي کال کي د کندهار او کلات تر منځ په (تازي رباط) کي زېږېدلې ده. نوموړې یوه ډېره پوهه مېرمن وه او د شعرونو دېوان یې نژدې ۲۰۰۰ بیتونه لري. پلار یې سلطان ملخي توخی او مېړه یې شاه عالم نومېدی. دې ځلور زامن لرل، چي تر ټولو مشر یې میرویس نیکه و. د نازو انا شعر دی:

سحر گه وه د نرگس لېمه لانده
څاڅکي څاڅکي یې له سترگو څڅېده
ما وې څه دي ښکلې گله ولي ژاړې
ده وې ژوند مي دي یوه خوله خندیده

نازو یو دود ښځینه نوم دی.

**نازولې:**

په ډېره مینه لویه سوې، د ناز څښتنه، غزتمنده، درنه، د قدر وړ نجلۍ. نازولې ډېر نوی، ښکلی او ادبي ښځینه نوم دی. نازولی د نازنین پښتو انډول دی.

**نازدانه:**

ډېره نازولې، په ناز لویه سوې.
نازدانه نوی، ادبي او لنډ ښځینه نوم دی.

**نازیلا:**

ناز کوونکې، نازولې، ښکلې.

نازیلا تر ډېري اندازې رواج خو ښکلی او لنډ ښځینه نوم دی.

**نازیه:**

هغه ښکلې نجلۍ چې ډېر ناز کوي، خورا نازولې.

نازیه ښکلی ښځینه نوم دی. نازیه اقبال د پښتو یوه ډېره ښکلې او خوږ آوازه سندرغاړې ذه، له آره د صوات ده خو اوس په ډوبۍ کي اوسېږي.

**ناله:**

فریاد، نارې.

شاه بي بي ناله د پارسي ژبي ډېره ښه شاعره ده، په کابل کي زېږېدلې او اوس په لندن کي اوسېږي. د شعرونو ټولګه يې چاپ سوې ده. واسع ناله یو تکړه هنرمند دی چي په لندن کي اوسېږي.

**نامتو:**

د نامه او شهرت خاوند، نامور، نوم وتلی، توروزن، تکړه، لوی او پېژندل سوی. نامتو نوی، ښکلی، لنډ او ادبي نرینه نوم دی.

**نانځکه:**

ناوکۍ، ګودي، لولۍ.

خوشحال ختک وایي:

حقیقت دی که مجاز دی درته وایم
یو خو ښه ښایسته جل بله نانځکه

نانځکه نوی او خوږ ښځینه نوم دی.

**ناوکۍ:**

د ټوکرانو څخه ګنډل سوې او یا د پلاستیکو څخه جوړه ښکلې نانځکه چي د انسان او په تېره بیا د وړو نجونو څېره لري. ماشومان هغه دلوبو لپاره استعمالوي. په مجازی توګه ناوکۍ یاني ښکلې او ښایسته نجلۍ. ناوکۍ ډېر ښکلی، خوږ او زړه وړونکی ښځینه نوم دی.

**ناهید:**

ناهید د (اناهیتا) لنډیز دی. ناهید د زهره ستوري ته وایي. په پخوانیو نکلونو کي ناهید د اوبو رب النوع و. ناهید ډېر دود ښځینه نوم دی. ناهید د افغانستان د راډیو تکړه سندرغاړې ده.

**نایاب:**

نادر، چي لږ پیدا کیږي لکه ملغلري یا پخواني قلمي کتابونه.
نایاب مناسب تخلص او ښکلی نوم دی.

**نبات:**

نبات یا مسري یو ډول خوږه شېریني ده چي د بورې او شکري د شرې څخه یې جوړوي. ډېره روښانه او د کرسټال لوښي ته ورته وي.
نبات پخوانی ښځینه نوم دی.

حافظ چه طرفه شاه نبات است کلک تو
کش میوه دلپذیر تر از شهد و شکر است

**نتکۍ:**

د پزي یوه ګاڼه ده، چي پیغلي او ښځي یې اچوي.
نتکۍ ډېر ډېر ښکلی، لنډ او نوی ښځینه نوم دی.

**نجات:**

ازادي، خلاصون، استقلال.

په کابل کي د یوې ډېري پخوانۍ لیسې نوم دی. پخوا اماني لیسه بلل کېده وروسته د نجات نوم ورکړه سو.

نجات ډېر ښکلی او نوی نرینه نوم او تخلص دی.

**نڅا:**

گډا، رقص، ډانس، اِیشَله.

نڅا تر ټولو ښکلی، نازولی، خوږ، ادبي او نوی ښځینه نوم دی.

**نذرانه:**

صدقه، نیاز، تحفه، پېښکښ.

ډېر نوی، ښکلی او ادبي ښځینه نوم دی.

**نرگس:**

یو ډول ښایسته گل دی، چي ښه بوی او ژړوزمه سپین گل لري. شاعران نرگس د خپلو مینو د سترگو سره پرتله کوي.

چو چشم من همه شب جویبار باغ بهشت
خیال نرگس مست تو بیند اندر خواب

**نړیوال:**

د جهاني مانا لري او ډېر ښه نرینه نوم او تخلص دي.

**نژند:**

زهیر، سرگردانه، خوابدی، خواپټی.

نژند ښکلی نرینه نوم او تخلص دی. محمد عثمان نژند د پښتو لیکوال او شاعر و.

**نسترن:**

سپین او کله ناکله هم سور رنګه ګل دی. ساقه یې د مرسل ګلاب سره د پیوندولو لپاره په کارېږي.

نسترن لنډ او ښکلی ښځینه نوم دی.

**نسرین:**

یو ډول ښکلی ګل دی، چې سپین رنګ او ښه بوی لري.

نسرین ډېر رواج ښځینه نوم دی.

**نسیم:**

نرۍ باد، تازه هوا، د نرم او لږ څه ساړه باد هغه جریان چې اکثره د سهار په وخت د ختیځ څخه د لوېدیځ لوري ته او د ماښام په وخت کي له لوېدیځ څخه ختیځ ته چلیږي.

نسیم ډېر پخوانی او رواج نوم دی.

**نشاط:**

د خوښي او خوشحالۍ مانا لري، یاني هغه څوک چې ژوندی، خوشحاله او خندونکی حالت ولري. ضد یې سترړی، خوابدی، خپه او غمجن دی. نشاط نوی او ښکلی نرینه او ښځینه نوم دی.

شبی که اول آن شب سماع بود و نشاط
میانه مستی و آخر امید بوس و کنار

(فرخي)

**نښان – نښانه:**

نشان، نښه، نخښه، علامه، سمبول، ټکی، داغ، نقش، توړنی، ګرړنی، زخم.

نښان ښکلی نرینه او نښانه نوی او خوړ ښځینه نوم دی.

**نښتر:**

نښتر د صنوبر ونه ده. همداسي نښتر هغه تېره څوکه لرونکې آله ده، چي د وینو د کښلو لپاره پر بدن وهل کېږي. په شعر او ادب کي نښتر د مین د سترګو او یا د سترګو د بڼو سره پرتله کېږي.

شاعران کله کله په شعري مبالغه کي د همدغه مقصد لپاره خنجر استعمالوي، نښتر او خنجر دواړه ډېر نوي، ښکلي او ادبي ښځینه نومونه دي.

**نغمه:**

سندره، ترانه، آواز، ساز، ټنګ ټکور، بدله، ټپه.

نغمه د افغانستان د راډیو تلوېزیون یوه ډېره ښکلې او خوږ آوازه سندغاړې ده. نوم یې ښاپېرۍ دی. په کندهار کي لویه سوې او اوس په امریکا کي اوسېږي. نغمه په افغانستان کي د ښکلا مثال دی. وایي: "داسي ښکلې ده لکه نغمه". نغمه ښه شاعره ده او د (ماته هینداره) په نامه شعري ټولګه لري. د نغمې د سیاست سره هم مینه ستهٔ. د شعر نمونه یې دا ده:

څڅېدلې مي سرې وینې له کوګله

بل وطن ته چي زه تلمه له کابله

زه د خپل کلي بې قدرو کړم پردېسه
اې زړ‌ګيه ګيلې مه کوه له بله

(ماته هينداره، ۳ مخ)

**خو ما هم نغمه جانه بې جوابه پرې نه ښودله او پر کتاب مي ور وليکل:**

پردېسي ته چي نغمه تله له کابله
د هر ګل د زړه نه وينه څڅېدله
د لاله سترګي د غم په او ښکو سرې وې
د ګلاب زړه و وتلی له کوګله
"ما وې ولي ښکلې ګله څله ژاړې"
وې له دې بڼ څخه والوته بلبله

(فدا نظري)

**نفس:**

**ساه، دم، ځان، روح، ذات، وجود، ښځينه وجود يا بدن ته هم نفس وايي. نفس، نفس جانه، نفس ګله په ټول هيواد کي دود ښځينه نومونه دي.**

**نفيسه:**

**نفيسه د نفيس يعني ښکلې، نرم، ظريف او قيمتي له ريښې څخه ده. نفيسه په ټول هيواد کي دود نوم دی او ډېره ښکلې مانا لري.**

**نمايداره:**

**نمکي، ښکلې، ښه ايسېدونکې، ښايسته، هغه نجلۍ چي مناسب**

او برابر اندام ولري.

نمايداره ډېر ډېر ښکلی، خوږ او نوی ښځينه نوم دی.

**نګار - نګاره:**

تصوير، انځور، نقش، بت، محبوب، معشوق، ډول، سينګار او پر لاسونو د نکريزو چاپ.

نګار او نګاره ډېر نوي او ښکلي نرينه او ښځينه نومونه دي.

زما نګار رنګين رخسار مخ لکه لمر لرينه
پر ما مسکين په زړه حزين کله نظر لرينه
(د ناشناس په آواز کي)

**نګاه:**

کتنه، ليدنه، تماشا، نظر، د ليدو قوت، بصيرت، بينايي، پام، توجه، مهرباني، ننداره، نظاره. سيد مقدس نګاه ډرامه ليکونکی، انځورګر او کارتونيست و. نګاه ډېر نوی او ښکلی ښځينه نوم دی.

جز چشم سياهش که فرنگی است نگاهش
در ديده که ديده ست که بتخانه زند موج
(صايب)

***

صد ملک دل به نيم نگاه ميتوان گرفت
خوبان درين معامله تقصير ميکنند
(حافظ)

**نګهبان:**

ساتونکی، په امن کي راوستونکی، محافظ، بچوونکی، ژغورونکی.

نگهبان ډېر ښکلی او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم او تخلص دی.

**نگهت:**

سمه ښه یې نکهت او لغوي مانا یې "یو ځل بویول" دي. نکهت یانې ښه بوی، خوشبویي، عطر، د گلاب بوی.

حمیرا نگهت دستگیرزاده د پارسي ژبې نوموتې شاعره ده چې اوس په بلغاریا کې ژوند کوي. رهي معیري وایي:

رفت و نرفت نگهت گیسوی او هنوز
غرق گل است بسترم از بوی او هنوز
دوران شب زبخت سیاهم بسر رسید
نگشوده تاری از خم گیسوی او هنوز

**نگین - نگینه:**

غمی، هغه گرانه ډبره، چې په گوتمه (انگشتری) کې کارېږي. د پاچهانو او ملکو پر تاجونو ډېر غمیان ټومبل سوي وي.

دواړه ښکلي او نوي نومونه دي.

**نمکینه:**

نمکي، ملیح، ښکلې، ښایسته، زړه وړونکې.

نمکینه نوی ښځینه نوم دی. دغه نوم په پارسي کې نمکین او په پښتو کې نمکینه تلفظ کېږي.

**ننداره:**

تماشا، نمایش.

ننداره ډېر ښایسته، نوی او ادبي ښځینه نوم دی.

**ننګ:**

غیرت، مېړانه، آبرو.

ننګ ډېر ښکلی او رواج پښتني نوم دی.

د افغــان پـــه ننــګ مـــي وتړلـــه تـــوره
ننګیــالی د زمــانې خوشــحال خټــک یــم

**ننګیالی:**

غیرتي، غیرتمند، مېړنی د ننګ او غیرت خاوند.

مشهور پښتو نوم دی او په ټول هیواد کي دود دی.

**نوشاد:**

د نوشاد نوم ښایي (نوشهر) وي. دغه ډېر ښکلی نرینه نوم او تخلص دی. ما په کندهار کي یو انقلابي ځوان چي د موسیقۍ سره یې هم ډېره مینه لرل په دغه نامه پېژندی او نور مي هم څو ځله دا نوم اورېدلی دي.

خو مخکي تر دې چي څوک دغه نوم پر خپل ماشوم باندي کښېږدی او یا هغه د تخلص په توګه غوره کړی، لاندنیو ټوکو ته پاملرنه په کارده:

د (رشیدي) او (جهانګیري) په نامه د لغتونو مهم کتابونه نوشاد د یوه داسي ښارګوټي په توګه را په ګوته کوي چي ګواکي ډېر ښکلي انسانان ژوند پکښي کوي. (نوشاد) یاني د مهرویانو، محبوبانو او خوبرویانو ښارګوټی. د پارسي ژبي زیاترو پخوانیو شاعرانو لکه

فرخي، معزي او مسعود سعد پخپلو شعرونو کي د (قبله نوشاد، بتکده نوشاد، بتخانه نوشاد يا بهار نوشاد او بت نوشاد) يادونه کړې ده.

داسي ښکاري چي دغو شاعرانو نوشاد د يوې بتخانې په بڼه تصور کوی او نوشاد هم د (بلخ نوبهار) غوندي د هغه وخت د بت پرستانو يو مرکز ګڼی. خو کابو تر اوسه د نړۍ د ټولو نامتو جغرافياوي کتابونو د لستونو څېړني دغه ډول يو ښار نه دی را په ګوته کړی.

خو زين الاخبار پخپل ۱۱ مخ کي ليکي، چي: "ده (يعقوب بن الليث) په ۲۵٦ هجري قمري کال کي د بلخ نوشاد ونړاوه او بير ته کابل ته راستون سو" له دغه متن څخه داسي ښکارِي چي نوشاد يا (نوشاذ) د بلخ په شاوخوا کي و.

د دغي کليمې د ليکلو په بڼه کي هم تاريخ پوهان په يوه خوله نه دي، ابن الاثير او ګرديزي هغه نوشاد (او نوشاذ) راوړی دی او بل تاريخ پوه سمعاني يو يا دوه ځلي (نوسار) او يو يا دوه ځلي (نوشار) ليکلی دی.

داسي ښکاري چي نوشاد په اصل کي د (چين د نګارخانې) په توګه د بلخ په شاوخوا کي يوه ډېره ښکلې ماڼۍ وه چي ډول ډول ښايسته عکسونه، تصويرونه او مجسمې (د بتانو په بڼه) پکښي کي وې. خو کله چي يعقوب بن ليث ونړوله له هغه څخه هيڅ ډول نښي پاته نه سوې. وروسته د هغه وخت شاعرانو د هغه څخه يوازي د يوې خاطرې او انځور په توګه داسي ګومان کاوه چي (نوشاد) يوه ماڼۍ يا (نګارخانه) نه بلکي يو داسي ښار دی چي ګواکي شيان يې نه بلکي خلک يې ښکلي او ښايسته وو. (په غيبو يو خدای خبر دی).

ای خوشا آن نوبهار خرم نوشاد بلخ
خاصه اکنون کز در بلخ اندرون آمد بهار
(فرخي)

***

مرا ازان چه که سیمین بری است در کشمیر
مرا ازان چه که شکر لب است در نوشاد
(ظهير)

***

گر نه خواهید کز ایوان و حجر ریزد خون
نقش نوشاد به ایوان و حجر باز دهید
(خاقاني)

***

زاهد به پند دادن و بیچاره مست را
خاطر به سوی لعبت نوشاد میرود
(امیر خسرو)

د پښتو ژبي د کلاسیکو شاعرانو په ټولګیو کي مي د نوشاد یا نوښاد کلیمه نه ده په سترګو سوې.

**نوښت:**

ابتکار، ابداع، ډیرنوی کار کول.

نوښت نوی، د ښې مانا لرونکی او خوږ نرینه نوم دی.

**نوښتګر:**

هغه څوک چي تل د نوښت او ابتکار څښتن وي، مبتکر، هغه څوک چي بیخي نوو او ګټورو کارو ته یې پام وي.

نوښتګر مناسب او نوی تخلص دی.

**نومیالی:**

مشهور، نامتو، نامور، نوم لاړی، د لوړ نامه خاوند.

نومیالی د هیواد په ټولو سیمو کې یو دود نوم دی.

اروانباد استاد محمدانور نومیالی د افغانستان یو منلی نوښتګر څېړونکی، پوه او شاعر دی. انور نومیالی د کندهارو، په ډنمارک کې وفات او د کندهار د مشاهیرو په هدیره کې ښخ دی.

**نوید:**

زېری، خوشخبري، نېک او ښه خبر، د یار او آشنا پیغام.

نوید په ټول هیواد کې دود سوی او منلی نرینه نوم دی.

**نوین:**

تازه، نوی، نوی رسېدلی.

نوین تر اوسه تخلص و، خو نوین بېخي نوی او خوږ نرینه نوم دی.

**نهاد:**

بنیاد، بنسټ، تاداب، بېخ، اصل، ریښه.

نهاد نوی، ښکلی، لنډ او خوږ نرینه نوم او تخلص دی.

**نهال:**

نیالګی، تازه بوټی، ځوانه او بېخي وړوکې ونه. نهال و آباد، خوښ او شتمن ته هم وایي.

نهال نوی، تازه، ادبي او ښکلی نرینه نوم دی.

**نیازمن:**

محتاج، اړ، خوار. د نیاز مند پښتو سوي بڼه ده.
نیازمن د ځینو ذوقونو لپاره مناسب تخلص دی.

**نیلاب:**

نیلاب یاني نیل یا نیلي، د نیلو اوبه او د کابل په شمال کي د یوه سیند نوم دی. نیلاب له نیل سره تړاو لري او ډېر ښه نرنیه تخلص او ښځینه نوم دی.

**نیلوفر:**

هغه گل دی، چي پر شاوخوا شیانو راتاوېږي، شنه او آبي گلان لري. نیلوفر رواج ښځینه نوم دی.

**نیما:**

نیمه میاشت، ښکلی او لنډ نوم دي.
نیما هغه وتلی ایرانی شاعر دی چي د بې قافیې شعر خاص ډول او وزن یې را ایستلی دی. د شعر دغه وزن نیمایي وزن بولي.
نیما په زړه پوري ښځینه نوم دی.

# و

**وارسته:**

آزاده، له (بند) څخه خلاصه سوې، مجازاً وارسته یاني هغه څوک چي ټولي دنیایي اړیکي یې پرې ایښي او د مال و نعمت سره هیڅ مینه نه لري. وارسته ښکلی پاړسي ښځینه نوم او نرینه تخلص دی.

**واژه:**

ویی، لغت، اصطلاح او کلیمه.

واژه ډېر ښکلی، نوی، لنډ او د ښې مانا لرونکی ښځینه نوم دی.

**واک:**

قوت، قدرت، اختیار، زور، توان، اختیار.

واک ډېر ښکلی، نوی، لنډ نرینه نوم دی.

انعاک واک د افغانستان وتلی سیاسي، څېړونکی او ټولنیز شخصیت دی. ده په ۸۰ کلونو کي د (واک فونډېشن) د څېړنیز سازمان بنسټ کېښېښود. نوموړي اوس د ناروې په هیواد کي اوسي.

**واکدار:**

پاچا، باچا، واک لرونکی، واکمن، د حکومت او دولتي اختیار څښتن. واکدار ښکلی نرینه تخلص او نوم دی.

**واکمن:**

باچا، واک لرونکي، واکدار د دولت او سرکاري اداري رئيس.
واکمن په را وروسته وختونو کي ډېر رواج سوی نرينه نوم دی.

**واله:**

زاري، ټينګار. په عربي ژبه کي و عاشق او شيدا ته وايي.
واله ډېر ښکلی نرينه نوم دی. عبدالحق واله د افغانستان مشهور رسنوال، شاعر او د (کاروان) نومي اخبار مسئول مدير و.
واله ډېر ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**واوره:**

برف، کنګل سوي اوبه، يخ.
که څوک وغواړي، چي پر خپلي ډېري نازولي او ښکلي لور داسي نوم کښېږدي چي هم ښکلی او هم ډېر نوی او لنډ وي. (واوره) بېخي ښايسته او نوی ښځينه نوم دی.

**وتلی:**

مشهور، پېژندل سوی، نامتو.
وتلی بېخي نوی او ښکلی نرينه او تخلص دی.

**وجدان:**

پت، ضمير، شرف، د انسان دنني حواس، د سليم عقل د پيدا کولو لپاره قلبي قوت. وجدان هغه ملکه ده چي د انسان سره د ښو او بدو کارونو په توپير کي مرسته کوي.

وجدان ډېر نوی او ښایسته نرینه نوم او تخلص دی.

**ودان:**

آباد، جوړ سوی، د وران ضد، کرل سوی.

ودان ډېر ډېر ښکلی او نوی نرینه نوم دی.

فقیرمحمد ودان یو سیاسي شخصیت او لیکوال دي. چي "دشنه های سرخ" کتاب یې شهرت لري. دی په ننګرهار کي زېږېدلی او په جرمني کي اوسېږي.

**وران:**

برباد، خراب، ویجاړ، ړنګ، خراب سوی، وراني کوونکی، خراب تراب، ړنګ بنګ.

دغه کلیمه چي په ښکاره نا سمي ماناوي لري او د آباد او ودان ضد دي خو د پښتنو په ټولنیز او دودیز ژوند کي سرچپه تعبیر ترې اخیستل کیږي. وران او ورانه ډېر ښکلې نرینه او ښځینه نومونه دي.

**ورانه:**

د وران ښځینه بڼه ده.

ورانه ډېر نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

پښتانه وایي: "ډېره ورانه یې"، یعني ډېره ګرانه او نازنینه یې.

**وربل–اوربل:**

د (پېغلي) نجلۍ پر تندي ځوړند ورېښتان دي چي پېکی یا پولکی هم ورته وایي.

وربل ښکلی ښځینه نوم دی.

څرنګه چې اوربل یو عسکری اصطلاح هم ده نو دلته د وربل په بڼه یې لیکل غوره ګڼل کېږی.

تـوري دي زلفـي تـور دي وربـل دی
مـخ مـي دي ولیـد لکـه د ګـل دی
(خوشحال ختټک)

**وری - وریځ :**

د مېږي بچی، د لمریز کال لومړی میاشت، وړوکی، شیدې رودونکی پسه.

وری نوی او ښکلی نوم دی. وریځ یې ښځینه بڼه ده. دغه نوم په جرمني کي د یوې ښکلي، پتمني مېرمني نوم و. وایي پلار یې د پښتو نومونو په ایښودلو کي ډېر نوښت او زړه ورتیا لري. د وریځ د نورو خویندو نومونه (ستوریځ) او (مدنیځ) دي.

**ورېښمین - ورېښمینه :**

د ورېښم له کلیمې څخه دی. ورېښم یو ډول قیمتي، پاسته او نازک تارونه دي چې د خاصو چینجیو څخه په لاس راځي، سپین رنګ لري او ډېر ښکلي وي. هغه ټوکر یا کالي چې له دغو تارونو څخه جوړېږي ورېښمین بلل کیږي.

ورېښمین له پخوا څخه په ډېرو سیمو په تېره بیا په کندهار اوشاوخوا ولایتونو کي رواج نوم و. ورېښمین ډېر ښکلی نرینه او ورېښمینه خوږ او ښایسته ښځینه نوم دی.

**وړانګه:**

پلوشه، د لمر شغله، د لمر وړانګه، روښنايي، ځلېدل، نور، تجلی.
وړانګه لکه پلوشه رواج، لنډ او خوږ ښځينه نوم دی.

سره د ژمي شپه ده
زه ستا د يادونو سره
لکه ماشوم په وړانګو لوبي کوم
ستا د تصوير مخي ته ودرېږم
او دا يوه لحظه دي خپله کړمه
(جهاني)

**وزر:**

بال، پر، بازو.
د مرغه هغه لاسونه چي په الوزي. په پښتنو کي وزر زياتره ترکيبی نوم وي مثلاً خان وزر، او ګل وزر. خو وزر په يوازي توګه هم ښکلی نرينه نوم دی.

**وزير:**

وزير د پښتنو يو ستر ټبر دی، چي د خيبر پښتونخوا په وزيرستان کي اوسېږي. د دغه قوم هر غړی وزير بلل کېږي، ځيني يې وزير او وزيري تخلص کوي.

**وږمه:**

نرمه هوا، نری باد، نښه.
وږمه په را وروسته ځو لسيزو کي په ټول هيواد کي پراخ دود سوی خو ډېر ښکلی لنډ او خوږ ښځينه نوم دی.

**وږمکۍ:**

سپوږمۍ، میاشت، د آسمان ناوې، د آسمان پېغله.
اوږمکۍ یا اوږمکۍ ډېر ښه او نوی ښځینه نوم دی.

ورتــه گــوره زمــا یــار څــه ننــدا ره دی
لکه وږمکۍ په ستورو کي ښکاره دی
(پښتو بیت)

**وسپنیز:**

وسپنه و اهن ته وایي او هغه معدني فلز دی چي وسپنیز شیان ځني جوړېږي. وسپنیز یعني (آهنین) د کلک او پولادي مانا لري.
مبارز سیاس شخصیتونه کله کله دغه ډول تخلصونه خوښوي. د شوروي د پخواني دیکتاتور مشر ستالین نوم هم د (وسپنیز) مانا لري.

**وطن:**

د زېږېدو ځای، هیواد، میهن، خاوره، مملکت.
وطن ډېر ښکلی، خوږ او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم دي. هېواد او وطن یوه مانا لري.

**وفا:**

پت پالنه، د یارانې او دوستۍ د وعدې پوره کول، ملگرتیا، د وعدې سر ته رسولنه (د جفا ضد).
وفا ډېر ښکلی او نوی نرینه نوم دی. گل رحمان وفا یو مبارز شخصیت دی چي په ننگرهار کي زېږېدلی او اوس په لندن کي اوسېږي.

**وفادار:**

پر وعدهاو پښتو ټينګ، پروالرونکی، آشنا، د بې وفا ضد.

هغه څوک چي ژبه او وپښتو نه ماتوي.

پاچاګل وفادار د افغانستان يو ستر انقلابي او سياسي شخصيت دی. نوموړي په خټه ځدراڼ، په پکتيا کي زېږېدلی، اوس د جرمني په فرانکفورت کي اوسېږي او د پخواني واکمن محمدداود د ډېرو نژدې ملګرو څخه و.

**ولس:**

ولس، خلک، ملت، قام، کام، د يوې سيمي اوسېدونکي.

ولس يا اولس ډېر نوی او ښکلی نرينه نوم دی. دغه نوم په پکتيا کي ډېر دود دی.

**ولسي:**

ولسي، خلقي، د ولس، هغه څه چي په ولس يا خلکو پوري تړاو لري. ولسي ډېر ښکلی نوم او تخلص دی.

اروانښاد عبدالاحد ولسي د کندهار له وتلو مبارزينو څخه و.

**ولکه:**

اولکه، مځکه، خاوره، وطن، د زېږېدو ټاټوبی، حاکميت.

ولکه نوی، ښکلی ښځينه نوم دی.

**ولوله:**

جوش، جذبه، احساسات، مستي.

ولوله ډېر نوی، ډېر خوږ او د ښې مانا لرونکی ښځينه نوم دی.

**وياند:**

نطاق، ويونكى، گوينده.

وياند ډېر ډېر نوى، ښكلى او خوږ نرينه نوم دي.

اروانباد عبدالغفور وياند د راډيو افغانستان نطاق او د هېواد د پوهنې خدمتگار و.

**وياړ:**

فخر، نازېدل، شوكت، سرلوړي، افتخار.

وياړ نوى نوم دى. وياړ د تخلص په توگه د پخوا څخه رواج و او اوس هم ډېر ښكلى تخلص دى.

زاهدان كه گوره وياړ كا پخپل زهد
د عاشقو وظيفه ده د صنم نام
(علي خان)

**ويدا:**

د پخوانوهندي آريايانو له څلور گونو كتابو څخه هر يو ويدا نومېږي. ځيني خلك ويدا ورك، ناپيدا او سرگردان ته هم وايي. ويدا ډېر ښكلى، نوى او خوږ ښځينه نوم دى.

**ويران:**

خراب، برباد، ويجاړ، ړنگ، خراب سوى، خراب تراب، ړنگ بنگ.

ويران ډېر ښه تخلص دى.

اروانباد محمديوسف ويران د كندهار يو خوږ ژبى او نازكخياله شاعر او ټولنيز شخصيت و.

**ویس:**

ویس عربي ریښه لري، یعني فقیر، ملنګ، غریب. همداسي ویس د هیلي، امید او آرزو مانا هم لري. دغه کلیمه په آریاني ژبو کي تر عربي هم اوږده مخینه لري چي مانا یي کورنۍ او کهول ده. اوس میرویس قومي مشر ته وایي.

د پارسي ژبي په فولکلوریک ادب کي (ویس او رامین) دوه مینان دي. د دغو دوو خیالي مینانو کیسه په ډېرو پخوانیو کتابونو کي راوړل سوې ده.

ویس لکه (میرویس) په ټول هیواد کي دود سوي نرینه نوم دی.

**ویسا:**

ډاډ، ور، ډاډ ګیرنه، اطمینان، باوري، ډاډمن.

ویسا د ډېر ښکلي او نوی نوم په توګه ډېره ښه مانا لري.

اروانباد عبدالصمد ویسا د کندهار د ویښو زلمیانو د نهضت غړی، رسنوال، سیاسي او ټولنیز شخصیت و. د ده ټوکو هم ډېر مَیَنَان لرل. زامن یې زلمی ویسا په مسکو کي او توریالی ویسا په کاناډا کي اوسېږي. توریالی ویسا اوس د کندهار والي دی.

**ویښ:**

بیدار، د بیده ضد، فعال، تکړه، چالاکه، باخبره، آګاه، پوه، هوښیار، پام لرونکی.

په افغانستان کي معمولاً هغو ځوانانو ته چي د خلکو غم ورسره وي او څه ناڅه په سیاست ګوتي وهي ویښ زلمیان وایي. ویښ زلمیان په ۵۰ – ۴۰ لسیزو کي د یوه سیاسي او ټولنیز غورځنګ نوم و.

ویښ ښه نرینه تخلص او نوم دی.

# هـ

**هاند:**

وس، کوښښ، زيار، هڅه، جد و جهد، همت کول او هلي ځلي، هاند درک ته هم وايي (د آند سره چي د فکر، گومان او قياس مانا لري گډ نه سي). هاند ډېر ښکلی او نوی نرينه نوم او تخلص دی.

**هجران:**

بېلتون، فراق، هجران، ليري والی، بېلوالی، گوښيتوب.
هجران نوی نوم او مناسب نرينه تخلص دی.

**هڅه:**

تلاښ، لټون، کوښښ، تلوسه، آرزو، هاند.
هڅه بېخي ډېر نوی، لنډ او ښکلی ښځينه نوم دی.

**هدف:**

مقصد، مطلب، مدعا، غوښتنه، غرض، مخه، نښه، نخښه، نښانه.
هدف ښکلی او نوی نارينه نوم او تخلص دی.
عزيزالله هدف د تياتر او سېنما، راډيو او تلويزيون وتلی

لوبغاړی دی چي اوس په امریکا کي اوسېږي.

**هدیه:**

سوغات، بخشش، ډالی، نذرانه، بیه.

هدیه نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**هڅیر:**

زیرک، هوښیار، ښه.

هڅیر ډېر غوره او د ښې مانا لرونکی نرینه نوم او تخلص دی.

**هستي:**

وجود، موجودیت، پیسې، دارایي. ضد یې نېستي ده چي د نابودۍ او بې وزلۍ مانا لري.

هستي ډېر ښکلی او نوی ښځینه او نرینه تخلص دی.

**هسکه:**

لوړه، اوچته، جگه.

هسکه نوی، خوږ او ډېر ښکلی پښتو ښځینه نوم دي.

**هلال:**

د لومړۍ شپې څخه تر دریمي شپې پوري د سپوږمۍ حالت، نوې میاشت.

قطب الدین هلال د اسلامي گوند یو چارواکی دی.

هلال ډېر ښه او نوی نرینه نوم او تخلص دی.

**همايون:**

همايون يعني لوړ، مبارک او پاک. ښځينه بڼه يې هما ده.

همايون رواج نرينه نوم او تخلص دی.

**هما:**

مبارک، پاک او لوړ ته وايي.

هما يا عنقا يو خيالي مرغه دی. پخوانيو خلکو عقيده لرله که چيري د هما سايه پر چا ولوېږي نېک بخته او بډای کېږي. هغه د "نېکمرغۍ مرغه" هم بولي.

هما ښکلی ښځينه او په ټول هيواد کي رواج نوم دی.

هما د پښتو ژبي ډېره خوږه لوبغاړې او سندرغاړې ده. د دې اصلي نوم رابعه احمدي دی، د ادبياتو او ژورناليزم فاکولته يې ويلې ده، له آره د لغمان ده او اوس د پاکستان د کويټې په ښار کي اوسېږي.

**همت:**

غيرت، مېړانه، بهادري، اراده، زړه ورتيا.

همت ښکلی او نوی نرينه نوم او تخلص دی.

**همتا:**

ساری، جوړه، مثال، مانند، سيال، په څېر.

همتا لکه هما ښکلی او نوی ښځينه نوم دی.

**همزولی:**

هم مهالی، هم عمری، د يوه عمر، د برابر عمر. همزولی د پښتو د نازکخيال شاعر رحيم داد شينواري تخلص دی. دی په شينوارو کي

زېږېدلی او په کابل کې اوسېږي.

همزولی سم او په زړه پوري نرینه تخلص دی.

**همکار:**

د شعبې یا کار ملګری، مرستندوی، معاون، سعیه، تلاښ کوونکی، مرسته کوونکی، ملاتړ کوونکی، مدد ګار.

همکار هم ښکلی نرینه نوم او هم مناسب او وړ تخلص دی.

**همنوا:**

هم آوازی، همږغی، په غم کې شریک.

همنوا ښکلی پارسي نوم او ډېر په زړه پوري تخلص دی.

**همېشه:**

تل، ابدي، مدام، دایمي، بادوامه، پایدار، تل ژوندی.

همېشه ډېر ښکلی او نازولی نرینه نوم دی، پښتانه هغه همېشه ګل بولي.

کشوده باد به رحمت همیشه این درگاه

**هنر:**

فن، کمال، جوهر، زده کړه، مهارت، کسب، پېشه، تخنیک.

هنر تر اوسه د تخلص په توګه ایښودل سوی دی. خو هنر ډېر او ډېر ښایسته نرینه نوم دی. هنر غیرت د افغانستان سیاستوال، شاعر او مبارز شخصیت دی. اصلي ټاټوبی یې د ننګرهار د شینوارو ولسوالي ده او په ناروې کې اوسېږي.

**هنگامه:**

شور، غوغا، فتنه، راپاڅېدنه، ګڼه ګوڼه.

هنګامه د افغانستان د راډیو تلویزیون ښکلې او خوږ آوازې سندرغاړې ده. اصلي نوم یې (زهره) دی، لومړنی هنري نوم یې (نوشین) او وروستی هنري نوم یې (هنګامه) دی. دمخه په المان کې اوسېدله او اوس د کاناډا په ټورنټو کې اوسېږي.

مېړه یې ویس نومېږي چې کمپوز جوړونکی دی.

هنګامه ډېر ښکلی ښځینه نوم او تخلص دی.

**هوتک:**

د پښتنو یو ډېر لوی ټبر دي چې اصلي ټاټوبی یې د زابل ولایت او د هغه شاوخوا ده. ستر قاید میرویس نیکه په خټه هوتک و. هوتک د دغه ټبر د هر غړي لپاره مناسب تخلص دی.

معصوم هوتک د هیواد څېړونکی، ژباړه او لیکوال دی. آرنی ټاټوبی یې کندهار او اوس د کاناډا د ټورنټو په ښار کې اوسېږي.

**هورا:**

لمر، ستوری او طالع.

هورا ډېر ډېر ښکلی ښځینه نوم دی.

**هوس:**

ارمان، هیله، لېوالتیا، خوشحالي، تمنا، خواهش.

هوس ډېر ډېر مناسب او ښایسته نرینه نوم دی.

**هوسا:**

آرام، آسوده، بې تکليفه،. اوسا، بېغمه، مطمين، ډاډه.
هوسا ښکلی، نوی، لنډ نوم او خوږ نرينه تخلص دی.

**هوسۍ:**

د وري په اندازه يو ځنګلي حيوان دی چې سوربخن ژړ رنګ ښکلي او مهربانه د ډاره ډکې سترګې لري. په ناز او کرشمه تګ کوي او تېزه منډه اخلي. بچي ته يې غزال يا کبلی وايي. شاعران د خپلو مينانو سترګې او تګ د هوسۍ سره پرتله کوي.
هوسۍ د پخوا څخه په ټول هيواد کې دود ښځينه نوم دی.

**هوشنګ:**

هوشنګ د عقل، فکر، پوهي او هوښ مانا لري. د شاهنامې د نکلونو له مخې هغه د سيامک زوی دی. وايي د ده په وخت کې لومړی ځل وسپنه ويلې سوه، زراعتي آلات جوړ او تعميرونه آباد سول.

**هوډ:**

قصد، عزم، تکل، پر خپله خبره کلکه درېدنه.
هوډ ډېر لنډ، ښکلی، نوی نوم او تخلص دی.

مګر ستا څخه سامان د سلطنت دی
چې په هوډ مي سپينه خوله غواړې خټکه
(خوشحال خټک)

**هوښيار:**

عالم، تجربه لرونکي او پوه ته وايي.

هوښيار ښکلی او مناسب نرينه نوم دی.

**هېلمند:**

د افغانستان په جنوب لوېديځ کي يو ولايت دی. هېلمند د هغه سيند نوم هم دی چي په هزاره جات کي د بابا له غره څخه رازېږېدلی او بيا له هېلمند، نيمروز او زرنج (د ښار) څخه تېرېږي او اېران ته ننوزي. وروسته د سياه کوه تر څنګ بير ته لاره کږوي او افغانستان ته راننوزي او د ګودزرې په جهيل کي توييږي. هېلمند ډېر رواج نرينه نوم او ډېر په زړه پوري تخلص دي. ځيني ځلميان هېلمندی تخلص کوي.

**هيله:**

امید، آرزو، تلوسه، ارمان.

هيله ډېر ډېر نوی لنډ او ښکلی ښځينه نوم دی.

**هيله من:**

هغه څوک چي هيله لري، څوک چي ډېري ښې آرزوګاني لري.

هيله مند ښکلی نرينه نوم او تخلص دی.

**هېواد:**

وطن، مملکت.

هېواد د افغانستان يوه ډېره پخوانۍ ورځپاڼه ده، چي په کابل کي په پښتو خپرېږي.

هيواد ډېر ښکلی نوم او تخلص دی چي پراخ رواج لري.

# ي

**یاد:**

د حافظې، خاطرې او ذهن مانا لري.
یاد ښکلی نرینه تخلص او نوم دی.

**یارانه:**

ملګري، آشنايي، اندېوالي، دوستي او پېژند ګلوي.
یارانه نوی او ښکلی ښځینه نوم دی.

**یاسمن/یاسمین:**

یو ښکلی ګل دی چي ښه بوی او ګلونه یې سپین، ژړ او شنه رنګونه لري. سپین رنګه ګل ته یې (چمبېلی) هم وايي.

یاسمن د پخوا ځخه رواج نوم دی. یاسمن د امیر حبیب الله خان د یوې نورستانۍ مېرمني نوم و. حافظ وايي:

حافظ مه نشین بی می و معشوق زمانی
کایام ګل و یاسمن و عید صیام است

یاسمن او یاسمین یوه مانا لري خو یاسمین تر یاسمن ډېر دود دی. دواړه خواږه ښځنه نومونه دي.

**یاقوت:**

یو ډول ګرانبیه ډبره ده چې په سور، ژړ، شین، زرغون او سپین رنګونو پیدا کېږي. سور رنګ يې ډېر ښکلی او زیاته بیه لري. ډېر ښه يې د انارو د رنګ غوندي وي. یاقوت ښکلی نرینه نوم دی. (د یعقوب څخه توپیر لري).

شمس الدین کاکړ د یاقوت کلیمه داسي ښکلي کړې ده چې په لږ توپیر يې وړاندي کوم:

چې قیمت مې کړل یاقوت د سرو لبانو
دې په خوله راسره جنګ کړ زرګري
ما وې: دُر دا ستا د غاښو به په څو وي؟
دې وې: نه کړم زه سودا له کندهاري
ما وې: څه ګناه ده کړې کندهاریانو
دې وې: کاندي شوخ کاته لکه زمري

**یغما:**

چپاول، تالا کول، لوټول، چورول، یرغل، ایلغاک، تلغاک، تاړاک.

د دغو ټولو منفي معناوو سره سره یغما ښکلې کلیمه ده او داسي مفهوم لري چې ګواکي ښکلې په خپله ښکلا سره د مینو زړونه او عقلونه تالا کوي. یغما نارینه تخلص او ښکلی ښځینه نوم دی.

**یما:**

د آریانا د زمانې یو وتلی پاچا و، چې په پارسي ژبه کي جمشید ورته وايي. ده په لرغوني بلخ کي پاچهي کوله او د نوروز مېله يې دود کړې ده. یما ډېر خوږ او په زړه پوری نرینه نوم دی.

**يوازي:**

تنا، تنها، يوازي، گوښي، ځانته.

يوازي په ټاکلو شرايطو کي مناسب تخلص دی.

**يورش:**

بريد، حمله، يرغل، هجوم، تعرض، چپاو، غورځنګ.

يورش د يوه مبارز او انقلابي سړي لپاره مناسب تخلص دی. دغه له آره يو تورکي لغت دی.

سرور يورش د افغانستان يو سياسي مبارز شخصيت دی. نوموړي د ميدان په ولايت کي زيږېدلی او په امريکا کي ژوند کوي.

**يون:**

خوځېدنه، ښورېدنه، د سکون ضد.

محمد اسماعيل يون د پښتو ژبي انقلابي شاعر، سياستوال، ليکوال او ژباړونکی دی. يون تل د افغانستان پښتني زلميانو ته ډېر ګران شخصيت دی. نوموړی په لغمان کي زيږېدلی او په کابل کي اوسېږي. يون ښکلی، لنډ او خوږ نرينه نوم او تخلص دی.

**يګانه:**

يوازي، تنها، بې مثاله.

حيدر يګانه د پارسي ژبي نازکخياله شاعر دی. نوموړي د غور په ولايت کي زيږېدلی او په بلغاريا کي ژوند کوي.

يګانه ډېر ښکلی پارسي نرينه نوم او پښتو انډول يې يوازي دی.

د راتلونکي امیدوارۍ لپاره:

## د خپلي خوښي نومونه په لاندي جدول کي یاداښت کړئ

| معنی | نوم |
|---|---|
| | |

**دا کتاب په هیواد او دباندې کې پر لاندې پتو تر لاسه کولای سئ!**

**کندهار:**

روهیال نشراتي مؤسسه

منیر مارکیټ، ارګ بازار - کندهار

ټلیفون: ۰۷۰۰۳۲۶۰۱۱

**کابل:**

علامه حبیبي کتاب فروشي

پکتیا مارکیټ، صدارت څلور لاري - کابل

ټلیفون: ۰۷۰۰۲۸۹۵۷۷

**کوئټه:**

صحاف کتاب پلورنځی

کاسي روډ - کوئټه

ټلیفون: ۰۰۹۲۸۱۲۶۶۴۲۳۶

In London, UK
Mr. Abas
Tell: 0044 (0)2089038939
afmarkoffice@aol.com

In Sweden:
Mr. H. Ghamkhor,
Ghamkhor@hotmail.com
Tell: 0046 (0)760826087

In Denmark:
Mr. Z. Mohaqiq
Tell: 004527399935

In all other European countries including USA & Canada
Mr. F. Nazari
fedajan@hotmail.co.uk
Tel: 0044 (0)7886098162

2000 New Afghan Names & Surnames
(for Babies and the Youth)

# Beautiful Names
# &
# Literary Surnames

(Research & Advises)

**Pashto Addition**

By

**F. Nazari**



## فدا نظري:

- په ۱۹۴۹ ع د کندهار د برو دروازې د لودينانو په کوڅه کي زېږېدلی دی.
- بنسټيزې زده کړې يې لومړی د کندهار په محلي مسجدونو او بيا د دغه ښار له ډېرو وتلو مولويانو او مفسرينو څخه ترلاسه کړې دي.
- په ۱۹۶۷ کي يې و سياست ته مخه سوه او په دې وخت کي د خپل وخت کندهاري ملګرو ترمنځ خورا خواريکښ ځلمی و.
- پر پښتو او پارسي برسېره يې عربي، انګليسي او روسي ژبې هم زده دي.
- د پښتو او پارسي ژبو د شعر او ادب مينه وال دی او کله ناکله شعر ليکي.
- چاپ سوي کتابونه يې:

(Political & Social Dictionary of Afghanistan) چي په ۱۹۹۷ ع کال په لندن کي خپور سوی او د پښتو او پارسي نومونو دغه لارښود دی.

- په لندن کي ژوند کوي، پر ليکه آريانا دايرة المعارف (Afghannica.com) مشر دی.

***Published by*:**
***Rohyal Publishing Institution***
***Kandahar - Afghanistan***